ناول:

# امید



لیکوال:

رحمت الله رحمت

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امید

ناول

**لیکوال :**

**رحمت الله رحمت**

داکتاب ددي نيټې **31/** دیسمبر **2009**/څخه تر **3** اپریل **2010** پوري ولیکل او کمپوزسو،

رحمت الله رحمت – چمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي

# د کتاب پېژندنه


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم: | امید (ناول) |
| لیکوال: | رحمت الله رحمت |
| دچاپ نېټه: | 2010 |
| کمپوزر: | عبدالحمید شاکر |
| انلاین چاري: | مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون |

www.Larawbar.net

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک



| خپرکی | عنوان |
|---|---|
| اول | د داستان پیل او اول... |
| دوهم | حالات خطرناک وو |
| درېیم | د محبت د را ایله کیدو خبر |
| څلورم | په کلي کي بیا اور بل سو |
| پنځم | تاج ګل لالا څه شی نیولي دي؟ |
| شپږم | محبت څنګه پاچا سي؟ |
| اوم | اسان ولي لیوني سي؟ |
| اتم | د کتابو د لیکلو لامل او زما د... |
| نهم | د لیکوال په اړه |
| لسم | ادبي ژوند ته کتنه او پښتو ادبي... |
| یولسم | ادبي تړون او رحمت الله (رحمت) |
| دولسم | مرکزي انجمن او رحمت االله... |
| دیارلسم | څو پاته خبري، ازاد، او ټکور، او.. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لیکوال خبري :

د مینې او خلوص سلامونه قبول کړی، درنو لوستونکو او زړه ته را نژدې ملګرو د دې کتاب لپاره هم لکه چې ستاسو د انتظارشېبې پای ته ورسېدې، کله چې تاسو زما مخکنې څلور سره کتابونه ولوستل نو هم ستاسو مینه او غوښتنه وه چې زه یې د دې کتاب لیکلو او چاپ ته اړ ایستم، باید ووایم که چیرې تاسو زما ټول ناولونه یو په بل پسې وګورئ یا مو ولوستل نه یوازې دا چې دغه د مینې او عبرت داستان به مو پوره ویلی وي بلکه پر داستان به مو خوند هم اخیستی وي، او که هر ناول ځانله اویوازې وکتل سي نو هم خپل لوستونکی مطلب ته رسوي او ډېر څه ورکوي نوري هغه خبري چې باید ما دکتاب (ددې ناول) په سرکې درسره شریکې کړې وای هغه خبرې د دې کتاب په پای کې لیکم ترڅو په ځینو لوستونکو باندې دا د سر خبرې اوږدې نسي هغه خبرې پدې اړه دي چې دا داستان ماولې ولیکی؟

کومو لوستونکو ماته خپل تاثیرات څنګه راورسول، دهغو څخه یو څو بېلګی او داسې نور...

په درنښت د پښتو ادبي ټولنې چمن مسئول

رحمت الله (رحمت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ضروري یادونه

د دې داستان په لومړي ناول (ناکامه مینه اوزورورخلک )کي زقوم خان خپله لور غوټۍ د انورخان زوی محبت ته پدې نیت ورکوي تر څو د ده مځکي او جایدادونه ځیني قبضه کړ ي او نورې ډیري پېښې ورکي پېښیږي او د ناول په اخیر کي یوه شپه محبت خان له کوره ورکیږي.

دوهم ناول:( محبت ولې ورک سو ؟) پدې ناول کي کلیوال د تیمور اکا په مشری د محبت پل ورپسي وراخلی چي یو شپانه یې هم ښباني ورکړ ي وې وروسته لونګ مار خوري، نوري ډیري پیښې هم ورکي وسي لکه د زقوم پرکوټه د ده دوسلوال جنګ، جانک مسکین پتو او ژړغاښي وژل کیږي او د زرغون اکا کره ډیر غلا سوي شیان پیدا سي او څو نوري پېښې هم وسي او په اخیر کي جمیله او غوټۍ یو ملنګ ووینې او د دوی ګمان دا وي چي شاید دا به محبت وي .

دریم ناول( ایا محبت به خپل مطلب ته ورسیږي ؟)دغه ناول هم دغه داستان پر مخ بیایي او دې خبروته ځواب وایي.

۱: ایا دغه تاج دار ملنګ ریښتیاهم محبت دی ؟

۲: غوټۍ څنګه پوهیږي چي محبت به یوه شپه د دې باغچي ته ورځي؟

۳:مکتب (سکول ) ته دنوي ښوونکي (ماسټر ) د خبرو څه پیغام وي او څه پوښتني لري ؟

۴: د دې سیمې بدماش (بدمعاش ) منګل ځوان د چا لخوا وژل کیږي او د ده نور ملګري چیري ونیول سي ؟

۵ : ایا محبت بیا کلي ته راځي او خپل سبق شروع کوي ؟

۶: د زقوم خان نفر چاته لار نیسي او څوک وژني ؟

۷: د غلام جان تر شا د چالاس وي چي بیا به په سیمه کي د جنګ اور بل کړ ي؟

او داسي نور (مننه)

اوس تاسي کولای سی چي نور دغه داستان ووایاست او خوند پر واخلی. (مننه)

رحمت الله (رحمت)

چمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اول څپرکی

د ماخستن خوا ته په کلي کي ډول ډول اوازي وګرځیدې چا ویل د کوچني پله سره یې انور خان او زوی وویشتل ،چا بیا نور څه ویل.

کیسه داسي وه چي د ملک زقوم خان او انور خان اکا خبره ورځ په ورځ خرابېده څه مشران یو دوه وار کي وګرځېدل خو خبره سمې خوا ته نه تله او نه د خبري سم سر پیدا کیدی،یوه یې یو څه ویل او هغه بل بیا بل څه ویل، ملک زقوم که له یوې خوا د مینځ ګړو (مشرانو ) سره خبري کولي، خوله بلې خوا به یې انور خان ته نوي لومي او تلکي درولي، اخیر یې دا فیصله وکړه چي څو نفر دې لارورته ونیسي او مړ دې کړي دا یې د کیسې د ختمولو لنډه لار وبلل.

انورخان هم څه غوږېدلي وو کله به یې د تلو راتلو وخت بدلاوه او کله به یې لاره بدلوله، کله به په موټر کي راتلی او کله به یې د پښو تګ ښه وباله یوار دوه چي په پښو را روان وو د ملک زقوم نفرو نه ؤ پېژندلي او ځیني راتېر به سو، اخیري وار د ملک زقوم وراره لنډک او دري نفره نور دغه کارته وټاکل سوه، دوی هم خپل کوښښ ورپسي شروع کړی کله به یې یوه لار ورته څارله او کله به یې بل کنډو.ورته نیولي ؤ، خو نصیب به ورځني چپ کړی. د دغه حملي د ورځي د مازدیګر څخه لنډک او ملګرو پر جوړه کړې نقشه د کوره څخه د باغو د مابین پر لار پسي ووتل وروسته د ملنګ جان د باغ سره په تنګه کوڅه کي د لوی لاري د کوچني پله پر حد (برابر) وسړک ته ووتل پر دغه علاقه څه ونې (درختي) هم وې چي څوک د لیري ځایه ښه نه کي معلومیدی او سایو یې د ماښام تیاره نوره زیاتوله.

د دوی معلومات داسي ؤ چي نن انور خان په سپین موټر کي مازدیګر قضا یاوروسته پردغه لار راځي او دا یې یقین وو چي نن به ښکار نه ځیني خطاکیږي او دا د څو ورځو انتظار به یې نن ختمیږي.

لنډک به د څار لپاره د سړک په اوږدوکي ورته ګرځیدی او د انور خان د موټر څارنه به یې کوله، هغه نور دري ملګري به یې کله د یوي وني (درختي) شاته پټ سوه اوکله به یې د سړک لاندې په کوچني پله کي ځانونه نهام کړه، څه موټران تیرسول خو دوی د سپین موټر انتظارکاوه تیاره وارپه وار ډیرېده اخیرمیرو و نورک ته وویل دا به کله سپین موټر راځي د دې وروسته که هر موټر راغلی پرهغه به فیر کوو . نورک وویل :ته څه وایې پرهرموټرولي حمله کوو دهغو څه ګناده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرو وویل: یاره زه ډیرخماري سوم که سګریټی (د چرسوډک سګریټ) ژر نه را لګوې زماڅخه کار خرابیږي نورک وویل یاره خو د مازدیګر رائیسي دې درې سګریټه وڅکول ثنګه بیا ژر خماري سوې، خر چغال یې ببریږې هسي پلمي کوې، په دغه حال کي هغه دریم ملګري طوفان سګریټی ولګاوه دریو سره وڅکاوه لایې نشه زیاته سوه دنشي په حال کي نورک وایې یاره میرو ستا واده به کله وي؟

میرو وویل: بس له دې خوا چي ورسوزماواده دی، خودغه انورخان وځنډیدی کني نورکارسم دي، هغه دریم انډیوال یې هم د نشي په حال کي وویل یاره خبري کراري کوی چي هغه انور خان یې وانه وري، په دغه حال کي یوموټر رانښکاره سو بتي یې لګېدلي لنډک رږغ پروکړ میرو، نورکه او طوفانه بیداره اوسی داسي معلومیږي چي دغه موټردی.

،، موټرلاپریوڅه فاصله ځوګامه اخواته دي د دې خوا د دوی یودم باندې فیرونه سوه ،، موټرخپل عادي تګ د لاسه ورکړ له لاري واوښت اوپه یوه ونه (درخته) کي ولګیدی او د یوه غټ درب کېدوسره ودرېدي لنډک لږ وړاندې ورتېر سو ښه یې په ځیر ورته وکتل ګوري چي په موټر کي دواړه نفر د مرګ په حال کي دي .

نورک رږغ پر وکړ ثنګه دي انورخان خوبه بل فیرنه غواړي لنډک ځواب ورکړ نه نه نور ختم دی په دغه حال کي طوفان هم ورته رارسیدلي ؤ او ویل یې دا دوهم یې لکه چي زوی دي، لنډک وویل: هو ! زماهم دغه خیال دي چي دا به د ده زوی محبت وي، خو یوڅه تیاره ده دا خبره به صبا ښه معلومه سي چي دا دوهم نفر څوک دی؟ د خوشحالي لپاره که یو فیر څوک کوي خو ښه موده کني درځی زمریانو کامیابه ښکارمو وکړ، خو دغه کار طوفان ملګري وکړ یو فیر یې بل پر دغه نفرو وکړ.

بیا نو دوی هم پر راغلي لار روان سول ماخوستن ؤ چي د زقوم خان کوټي ته ورسېده، هلته یې هم یو څو فیرونه د خوشحالۍ لپاره هوائي وکړه، په کوټه کي ټولونفرو یو بل ته مبارکي وویل، ډوډۍ برابرېدل زقوم خان ډیر په چورت کي وو د لنډک دوهم ورور ته یې وویل: هلکه پلار دي اوهغه خوریی مرجان ولې نه معلومیږي چیرته خو به مېلمانه نه یي ؟ هغه ورته وویل: بابک اومرجان ماپښین په موټرکي بازارته ولاړل، دوی لادغه مجلس کاوه چي لږ وروسته د موټرانو رږغ سو د بتیو رڼا یې پر دیوالو لګېده چي ورسره دکلا دروازه وټکیدل رږغ یوڅه په زوره سوچاویل چي رستم خان اکا راغلی، چابه بل څه ویل، خو د زقوم خان فکر دا هر څه نه منل، دروازې ته سره راغله ګوري چي څه د حکومت نفر دي او څوکسه کلیوال دي، زقوم خان اونفر یې څه وارخطا سوه، خیر خو د پېښي څخه تېښته نه کیده.

{د وهم ځپرکی حالات خطرناک وو}

(c) ketabton.com: The Digital Library



حالات خطرناک وو بې له دې چې څوک دي کوم مناسبت (ستړي مسيا ) سره وکړي، يوکليوال پر راتير سو او داسي ورته وويل: زقوم خان اکا صبربه کوې داپه دنياکي پښښيړي ستاورور. رستم خان اکا او هغه بل موټروان (ډريور ) دکوچني پله سره اوس ماښام غلو يا نورو خلکو وويشتل، ساعت پس چې موږ ورغلوستا يوبزګر وپېژندل چې دايودلنډک پلار رستم خان اکا دي اوهغه بل يې خوريی دي، زقوم خان اکا صبر به کوې په ژوند کي هر رنګه حال پر انسان راځي !

هغه حکومتي افسر هم يو څوداسي خبري وکړې، لنډک پوه سو چې بيامي ښکار خطاسو اوخپل پلار اوخوريی مي وويشتل، هغه نورانډيوالان يې هم هيښ اوحيران وو چې دا څنګه باز خطاوتي.

زقوم چې ورتير سو سترګي د اوښکو ډکي وې ګوري چې دواړې جنازي يې د خپل کور دي د مړو پر مخ يی لاس ورتېرکړی اوښکي له سترګوڅڅيدلي اوپه زړه کي انورخان ته د انتقام لمبي نوري بليدې، چې ما خو ستا مرګ غوښتي خو هغه زما نفرو خپلي هوسۍ ښکارکړې ښه بل واري به نه خطاکيږي جنازي يې دکوټي مخ ته په حويلي کي کښېښوولي ټولو خلګو مړي وکتل هغه کليوال چې د جنازي سره راغلی وو ځيني خپلوکوروته ولاړل، حکومتي خلکوڅه ناڅه پوښتني وکړي او د خپل تحقيق په دوران کي زقوم خان ته وويل په ښکاره خوبه د چاسره دښمني نلرې ؟

زقوم خان وويل: زه خودښمني نلرم خوځيني خلک دښمني راسره کوي زما اندازه داده چې دغه کار که د انورخان زوی محبت نه ؤکړی ! ولې چې هغه په دغه کشرتوب کي ډير بې ځايه بې ځايه ګرزي، يودوه وسلوال خلک هم زما نفرو ورسره ليدلي دي.

حکومتي افسر وويل: ستاولې پر محبت باندې شک راځي چې دا کار به هغه يا د هغه ملګرو کړی وي ؟

زقوم خان وويل: د محبت د پلار سره زما څه جنجال ستده د څه مځکو او باغو پر سر هغه غواړي چې ماوبېروي او زه د خپل حق څخه تېرسم.

حکومتي افسر: تاوويل چې محبت دانورخان زوی دی، ما ځکه دا پوښتنه وکړه چې دغه محبت او بل د ده ملګری يوسف په نامه نفر څو مياشتي مخکي هم زموږ پوليسو نيولي وو او بيا هغهؤ چې د وطن دښمنانو پر پوليس مرکز حمله وکړه او دغه نفر محبت اويوسف هم له پوليس مرکز څخه وتښتيدل دا خو موږ ته مطلوب نفر دي !

زقوم خان وويل: هوما مخکي درته وويل چې دغه محبت او پلار يې په ځينو پېښوکي لاس لري چې دغه دي تا هم يادکړه، حکومتي افسر د تفتيش په دوران کي د زقوم خان نفرو ته هم ښه په ځير ځير کتل، ځيني داسي ورمعلوميدل لکه په ځينو بنديخانوکي يې چې ليدلي وي، اخير يې د زقوم خان وراره لنډک وپېژاندي چې څوکاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخکې د څه جرمو او یوه قتل په تور سزا سوی وو ، زقوم خان ته یې وویل دغه ستا ځیني نفر خو ما ته داسي شناخته را معلومېږي او دغه یو خو زما په خیال لنډک نومېږي؟

زقوم وویل : هو صاحب ستاخیال صحي دی ضرور به دې لیدلی وي او دغه زما وراره څه موده کېږي چي له بنده راخلاص سوی دی ضرور به دې هلته لیدلی وي، حکومتي افسربه لا یو څه خبره کول چي زقوم خان پر لنډک رېغ کړه ته ورسه دغه سرکاري خلکو ته خو ډوډی برابره کړه موږ که په غم اخته یو چي دوی خو یو څه وخوري، لنډک لا حرکت نه ؤ کړی چي حکومتي افسر وویل : نه نه ! خان صاحب تکلیف به نه کوې موږ ډوډی خپل ځای ته رسوو بیابه یې د خوشحالۍ په ورځ سره خورو اوس موږ رخصت اخلو ، زقوم خان د جیب په دسمال سترګې پاکې کړې شاوخوا یې وکتل وروسته یې داسي وویل : د حکومت هم عجیبه کارونه دي چي موږ له یوه افسر سره شناخته کیږو او د هغه سره مو د دوستۍ تعلق جوړیږي هغه یې بیا راڅخه بدل کړی وي، وایم دغه دې چي ته دې علاقې ته راغلی یې زه نه یم درخبر سوی، کنه ضرور به مې ملاقات درسره کړی وای !

حکومتي افسر په ځواب کي وویل: نه هیڅ خبره نده ستاکه ملاقات نه ؤ راسره سوي ماخو دې د نامه اورېدلي وو ، چي هر وخت دې کوټه د مېلمنو ډکه وي.

په دغه حال کي زقوم خان هغه حکومتي افسرتر لاس ونیوی او یوې خواته یې د خلکو څخه بېل کړی یو څه پټې خبري یې سره وکړې، څه نور هم سره ودرېدل یوبل ته به یې اشاري کولي په پای کي خبري په زوره سوې، ضروري خبري لکه چي خلاصي کړې وې، حکومتي افسربه د سترګو تر کونجانو وکتل خولۍ به یې پرسرکړه کښېښول افسري اداب به یې ټول پوره کړل، بیابه یې داسي په یوه خاصه لهجه وویل: نه خان صاحب خدای به یې اسانه کړي پرځان یې مه ډیره وه ستا دښمنانو ته به ضرور سزا ورکول کیږي، هغه به داسي نه پاتیږي خو ته به لږ صبر کوې.

په خبرو خبرو کي حکومتي افسر او زقوم خان اکا دکلا لوی دروازې ته ورسېدل یوار به یوه خبري کولي دا بل به سرورته ښوراوه بیا به دا بل دغسي ورته کول، د زقوم خان په خبرو کي ځکه سختي نه وه ولې چي یوار حکومتي افسر دا هم ورته وویل چي زموږ خفیه (جاسوسي) راپورستا نفرو ته هم یو څه اشاره کوي او زقوم خان خو پوهیدی چي کارخومي د خپله لاسه خراب سو نو به د ډیرو فکرو څخه وخښم ته نه خلاصیدی.

اخیر حکومتي افسر رخصت واخیست او د خپلو نفرو سره د انورخان د کور پرخوا روان سول، اوهلته په رسېدو یې دروازه ور وټکول، انورخان اکا د دروازې څخه رېغ پر وکړ څوک یاست چي دروازه ټکوي؟

د خلکواوموټرو رېغ او د بتیو رڼا او بې وخته دروازه ټکول دا هرڅه له خطره خالي نه وو ، خو د څه خبرو کولو وروسته انورخان اکا له کوره پر راووت، یوڅه راشه درشه یې ورسره وکړه، خو اخیر حکومتي افسر شناخته ور معلوم سو چي امیدخان دي او تر څه خبرو وروسته یې ښه سره وپېژندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسر امید خان وویل: ښه انورخان اکا دا ستا کور دي ؟تا نه ؤ راښوولی خو ما په توره شپه کي پېدا کړی، انورخان ورته وویل: هو تاسي خو بېداره خلک یاست او په توره شپه کي د خلکو کورونه پېدا کولی سي، خو په سپینه ورځ بیا غله درځني ورک سي !

دغه مهال د انورخان اکا د کورنۍ انسانان د دروازې شاته ببربدلي ولاړ وو نه پوهیدل چي څه به کیږي، اخیر امید خان ورته وویل: نورمجلس به بیا بل وخت کوو د محبت په نوم ستا په کور کي څوک سته ؟

انورخان وویل: هو زما مشر زوی محبت نومیږي، ولې خیر خو دی ؟

حکومتي افسر وویل: دا خو خبره خرابیده زما خیال ؤ چي تا اوستا زوی او دربیم یوسف له ځانه سره اوس بوزم خوزما او ستا پخواني تعلق خبره اوس له خرابېدو را وګرزول اوس به یواځې ستازوي په لاس راکړې.

انورخان لاڅه نه ؤ ویلي چي محبت د کوره راووتی اوخپله موټر ته وخاتي، لکه ده چي دا مجلس د دروازې ترشا اورېدی امید خان رخصت واخیست او موټران یې په بیړه روان کړه، د محبت پلاراوټولې کورنۍ په موټرانو پسي کتل او د ارمان اوښکي یې تویولې او دا ورمعلومه سوه چي د زورورو خلکو سره د دوستۍ دغه نتیجه وي !

شپه تیره سوه غرمه ناوخته د زقوم خان ورور اوخوریی خاورو ته وسپارل سوه ډېر خلک یې په هدیره کي حاضر سوه غتي غتي دعاوي پرقبروویل سوي فاتا دزقوم خان پرکورشروع سوه ډیرپسونه اوغوایی ورپسي حلال سوه په دا نژدې سیمه کي د چا دونه لوی خیرات نه په یادکیدی، خلکو به ملک زقوم ته د تسلي ویلو پر وخت ویل: خدای پاک دې دغه خلک په مورږ رسوا اوشرمینده ووینې، بل چا به بیا داسي ویل خدای پاک دې دغه خلک تبا کړي څوک چي د بل کورونه خرابوي، ملک زقوم پوهیدی چي خلک و ده ته پر خپله کمبله بدي خبري یاښیراوي کوي، ولې چي ده ته معلومه ده چي دا هرڅه و ده ته د خپله لاسه ورپیښ دي، د محبت پلارانورخان نه پوهیدی چي چاره به یې څه وي دې ټولوخبرو د خبري سر ځیني ورک کړی ؤ، هغه اندېښنه چي د ده سره وه هغه ورته حقیقت ښکاره سوه، ولې چي تیره شپه دی ده زقوم خان د نفرو د حملې څخه روغ پاته سو، او د زقوم خان وراره لنډک د خپلو نفروسره د لوی لارې د کوچني پله سره مخ ورته نیولی وو،

لنډک او د ده وسلوالو نفرو د څو ورځو څخه د انورخان لاره څارل مګر قدرت ځیني وساتی، خو دا چي مخ ته به څه کیږې دې ته حیران وو، دا یې زړه ته لوېدلې وه چي زقوم خان د اولې ورځي څخه ورسره په چم کي وو، داچي خپله لور غوتې یې ستا زوی محبت خان ته درکړه لایې دغه غلطه اراده وه چي د دغه دوستۍ له لاري به ستا د مځکو اوباغو قبضه کوي، داچي یو څه جایداد یې اوس هم را څخه قبضه کړی دی لایې صرفه نده په ماته، دا خو یې لا څه کوې چي هغه وسلوال غله یې لاکله کله څو ګونۍ غنم یا کشمیش را څخه غلاکړي، هغه څو شپې مځکي یې لنګه غوا را څخه بوتله پر دې ټولو سربیره دی مي لاومرګ ته هم ناست دي، خو بیا به د خپل زوی محبت خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راخلاصیدو په فکر کي سو، د دې خبرې لپاره یې یواځې د حل لاره دا راویستله چي څه غم یې مه کوه نن خوډېرکارونه په پیسو هم کیږي، پیسې خو لرې!

هلته زقوم خان پخپل وروراوخوریې پسې خورا درانه خیراتونه وکړل، څو پسونه او غوایي یې پسې حلال کړل ډېر خلک یې فاتحې ته راغلل، چا وچا به ورته ویل زقوم خان اکا خدای پاک دې آل اوعیال ورتباه کړي، چا چي ستاورور او خوریې در مړه کړل، اوته یې د غم پرکمبله کښینولې، خدای پاک دې دوی هم دغسي وژړوي زقوم خان پوهیدی چي دغه خلک پرخپله کمبله و ده ته ښراوې کوي، ولې چي دا هرڅه و ده ته د خپله لاسه ورپیښ ول، ولې چي ده خپل وراره لنډک دې کار ته ګمارلی ؤ چي انورخان به وژني، مګر د لنډک او د ده د څو چرسي ملګرو په کمین کي د لنډک خپل پلار او د هغه خوریې د مرګ وکندې ته وروغورځول سول د دوی داګمان ؤ چي دغه سپن موټر د انورخان دی، مګر تازې خپله هوسۍ (اوسۍ) ښکارکړه خو د پیښې څخه تیښته نه کیده.

دغه روانو پیښو د دې ټولې سیمې د خوشحالي فضاء ګډوډه کړې وه، څو شپې مخکي د زقوم خان د وسلوالو غلو تر مینځ په وسلواله جکړه کي د زرغون اکاځوان زوی (جانک مسکین) او د جانک مسکین دوه نورانډیوالان پتومسکین، او ژړغانښی ووژل سوه.

د جانک مسکین جنازه یې پداسي وخت کي کورته ورووړه چي د واده یې هسي پنځه میاشتي پوره کیدې د ده د واده د ډاله د دربا او درزا ږغ لا اوس هم د خلکو په غوږو کي وو د جانک مسکین په واده کي داسي بیدریغه ټکان وسول چي په لنډې کلي کي د هواڅخه د را ایله سوؤ ګولیو(مرمیو) په لګیدو دوه پسونه یو د ژرندې مزدور ټپیان سوه او یوبل ځوان چي د مور یو زوی ؤ او دوې ورځي وروسته یې واده ؤ د همدغه د هواڅخه د را ایله سوؤ ګولیو(کارتوس) په سرکي د لګیدو په وجه ځواني مرګ سو او د واده روانه خوشحالي یې په غم وربدله کړه، خو د جانک د کورنۍ اوانډیوالانو سره یې د بل چا هیڅ غم نه وو چي زموږ د هوائي ټکانو څخه به چاته تکلیف یا ازار رسیږي، هغه د چا خبره ( ویل نانه یې پرڅه ده ویل نانه پر واده ده ).

د جانک د واده په شپو کي د ده کورنۍ او انډیوالانو سره یواځې د ځان د خوشحالي غم ورسره ؤ نه د بل د ازار یا د کور د خرابیدو په اولو درو شپو کي خو داسي ټکان او ډول وږغول سو چي د نژدې کلو اوکورو خلکو د شپې هیڅ خوب او ارام نسو ځیني کولای هر چابه دا ویل چي خدای مو کور خراب کړه دا څنګه واده دي چي نه د ورځي ارام درسه کولای سو اونه د شپې خدای پاک دې په غم در بدل کړې دا څنګه واده دی ،

رېښتیا هم د خلکو ښیراوې (بد دعاوې) خدای پاک قبولې کړې د پنځو میاشتو دغه راوړې ناوې یې کونډه سوه، او د جانک مسکین جنازه سهار مهال د زرغون اکا کورته راوړل سوه، د جانک مسکین د ژوند په اخیرې شپو کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرغون اکا یو څه ظاهري کار سره برابر ؤ ، جانک به پیسې ورته راوړلې ده یې پوښتنه نه کول چې حرامې دي که حلالې یا یې د کومې خوا راوړې.

زرغون اکا پدې شپو کې څه مځکه هم رانیوه او اته میاشتې مخکې د جانک د کوزدې غاړه هم ویستل، اوهغه وو چې پنځه میاشتې مخکې د جانک واده ښه په درب او دروب راوړی، د جانک د پلار دا هم خیال ؤ چې که خدای(ج) کول دا د حج پیسې به لا دا خیله کړې دغه یو ارمان به دې هم پوره سي بیا به نو جانک د دغه ډلې څخه راوباسي.

یو شی یې لا بل هم په زړه کې ؤ چې دغه د پلار قبر دې ښه په سیمټو کې نیولی وای او ښې سپینې ډبرې دې پر راګرزولې وای، سر ته به دې د ده نوم او تاریخ هم په یوه ډبره ورنویشته کړی وای ! دی خوارکی خو هم په ډیره مسکینۍ کې مړ سو ، پرمونږ خو ډیر حق لري، خیرات خو مې ندي ورپسې پرې ایښې، جانک چې کله کله یو پسه راولې هغه خو ور پسې حلالوم، مګر د زرغون اکا دغه ارمانونه ټول له خاورو سره خاورې سول.

بله پیښه دا وه چې ځوشپې مخکې منګل ځوان د غوا د غلا په شپه د ګوډ سپې لخوا ووژل سو او بل انډیوال رنګین د ډب کلې د صاحب زاده زوی یې د زرغون اکاپه کور کې کلیوالو ونیوه ، او اخیره پیښه دغه وه چې د زقوم وراره لنډک د خپلو چرسي ملګرو سره غوښتل چې انور خان مړ کړي، خوبخت یاري ورسره ونکړه او خپل پلار او د هغه خوربې په حق ورسول.

دې ټولو پیښود لوړ کلي او ورځیرمه سیمې د امن او خوشحالۍ فضا ډیره ګډه وډه کړې وه، دې سیمې ډیره ښه ښکلا درلودل، څلور سره کلي، لوړ کلی، کښته کلی، لنډی کلی او د ډب کلی یې د هر رنګه ونو (درختو) او ګڼو باغو څخه زرغونه ښکاریدل، د توري غنډۍ هره لمن په ونو (درختو) پوښلې وه.

د توري غنډۍ سپیني چینې سیمه د ژړکاریز هره خوا او د سرچپه کاریز هر لوری د سړی څخه زړه وړي، له هره باغه (بڼ) د رنګارنګ مرغانو سندریز اوازونه راپورته کیدل اویورنګ عاشقانه کیف به یې درلودی.

د تاج ګل لالا پر دوکان به یو وخت دکلي ځوانان راټولیدل اوبل وخت به بیا څو سپین ږیري ناست ؤ او خپلې غورې (مجلس) به یې کولې، د تیمور اکا پر کوټه به کله کله څو مشرانو مجلس کاوه د مکتب (ښوونځي ) انجینو او هلکانو به د غوټې اومحبت خان د مینې کیسې کولې، ځینو به بیا د ګوډ سپې کارنامې یادولې، خو اوس پدې سیمه کې هغه کیف اوخوند پاته نه ؤ ، ډیرو به دا بدبختۍ د زقوم خان د لاسه بللې، دی به یې پدې ملامتاوه چې دی دغه وسلوال غله او بد خلک ساتي، او په ناحقه د خلکو مځکې یا باغونه لاندې (قبضه) کوي، چا ؤ چا به ویل دا خو د اصله خان ندی پلار یې د دې کلي ګوروان ؤ د ژرندې تر څنګ په هغه زاړه سرای کې اوسیده ، د ماښام په ډوډۍ پورې حیران ؤ چې مړ سو کلیوالو د کفن پیسې ور ټولې کړې، خو نن د زقوم داهر څه هیرسو او ځان یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور او ظلم خان جوړ کړیدی، هسي د ښو او سمو خانانو نوم وربدوي، خان خو اصلي ملک شاجهان ؤ چي نه يې غله ساتل او نه يې په زور د بل مځکې لاندې (قبضه) کولي، هره فیصله به يې په حقه کول.

زقوم خان ته په اوله شپه هم پولیس افسر امید خان وویل چي زموږ معلومات داسي دي چي پدې پیښه کي ستا د نفرو لاس سته، نو ځکه دا قیضیه نوره زقوم خان ونه پلټل، ځکه د انورخان امید ؤ چي د يو څه اثر او رسوخ او پیسو په کارولو سره به خپل زوی محبت خان له بنده راخلاص کړي، او په ټول کلي کي د محبت د راتلو ازانګې ګرزیدې د مکتب (ښونځي) انجونو اوهلکانو يو بل ته زيري ورکول، جميلې چي همدې خبري ته ډير انتظارکاوه غوښتل يې چي دا زيری به تر هر چا د مخه پرغوږې دا کوي.

د جميلې ورور نعمت به هر کله د انور خان اکا څخه د ليدو پر وخت دا پوښتنه کول چي په کومه ورځ محبت را ايله کيږي ما به خبروې چي زه او يوسف به هم هلته درسره ولاړ سو، پدغه ورځ دغوږې ملګرې جميله د سهار څخه لا خبره وه چي د دې ورور نعمت او د محبت بل انډيوال د انورخان اکا سره ولاړل کله چي ماپښين مهال دوی را ورسېدل نو نعمت دستي خپله خورجميله خبره کړه تر څو دا زيری تر غوږې پوري ورسوي، غوږې هم دا څوورځي اوشپې ډيري غمجني تېري کړي وې د خوشحالۍ کومه خبره يې نه وه اورېدلی.

ښونځي (سکول ) ته به پدې نيت تلل چي ګوندي نن به محبت راسي، دا خيال به هره ورځ ورسره ؤ، ښونځي ته په ور تلو به يې څه ناڅه فکر بدلېدی پر لاري به جميلې هر وخت ملګري ور سره کول هغي به ډيرې تسلي ورکولې، په سبق خونه (کلاس روم ) کي به د محبت خان چوکۍ (کورسي ) ته کله کله کتل ، کله کله به يو چا يوه ګيډۍ (دسته) ګلان هم ورباندي ايښي وو ، ځينو همزولو به چي کله غوږې ته وکتل بيا به محبت ور په يادسو، او دغه د دوی دواړو دښو ځوانيو او د ميني او ارمانه ډک غمجن داستان ټوله کيسه به يې په زړه کي تيره سوه اوڅودغم اوښکي به يې کله کله ورسره وڅڅولې.

کله به د محبت خان هغه د ځواب صحنه (پيښه) ورپه يادسوله، کله چي د دوی د ميني د اظهار لومړي وختونه وو هغه پيښه داسي وه : کله کله به هغه وخت غوږې د محبت خان د ناستي د ځای سره يوه ګيډۍ (دسته) ګلان ورته ايښي ول او په منځ کي به يې هغه ليک پروت وو چي دې به ورته ليکلی وو په ليک کي به کله نازونه او کله ګيلي ليکل سوې وې، چي هو پرون مادرته کتل اوډيرانتظارمي وکړی خو هغه ته نه راغلې، پرما هغه ساعتونه لکه کلونه داسي تير سول، خوته بس هم دغسي بيغمه يې څوقدمه دې لا نسوای را خوارولای، او نور کارونه دې ضروري ګڼل چي نه راغلې.

محبت خان چي به داسي ګيلمن ليک ولوست سر به يې پرله وګرزېدی نه پوهېدی چي څنګه ځواب ورته وليکي، که له يوې خوا پرون ليدل او مجلس ځيني قضاسوي وو د بلي خوا دا دي غوږې هم ځيني ګيلمنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی لا پدغه چورتو کي وو چي د استاذ خبرو اوسبق ته يې هيڅ پام نه وو ، استاذ هم پوه سو چي محبت خان ندي متوجه، نو دستي يې پوښتنه څيني وکړه، ولې زما د سوال ځواب نه راکوي تاته وايم محبته! چي مځکه ځو براعظمه (وچي) ده او موږ په کوم براعظم کي اوسيږو ؟

محبت خولا د وخته په چورتو کي غرق (لاهو) وو او په لوړو خيالو کي يې دغوټۍ ګيلوته د ناز ځوابونه ورکول اوپه خيالي دنيا کي ورک وو، د استاذد پوښتني په ځواب کي يې بي اختياره داسي وويل: هو ته مه خفه کيږه هغه زه پرون بل ملګري يو ځای ته بوتلم،.... هو ته خفه نسي نور مي هيڅ کارنه درلودي، اوزما يواځينی کارخوتاته درمعلوم دی چه هغه ستاسره ليدل دي، پدې ځواب سره نه يواځي استاذ (ښوونکی) بلکه ټول شاګردان حيران سول چي دا محبت خان څه وايي؟

استاذ په ډير خښم سره خبره ور غبرګه کړه، هلکه محبته دا ته څه وايې، زه د بري اعظمو پوښتنه درځيني کوم اوته وايې زه پرون بل ملګري بل ځای ته بيولی وم، دلته محبت خان په ځان پوه سو چي دا څه را وسواو ماڅه وويل خولا پوره پخپل حال کي نه وو راغلی په معذرت يې وويل: صاحب زه پوه نه سوم، زما دا خيال وو چي زه بل ځای يم او ته له ما څخه ګيلمن يې بخښنه غوارم، دنيا اوه بري اعظمه ده او اوه سره د غمو ډک دي دوه کسان نسي سره پيداکولای.

استاذوويل: هو اوس لا هم سم نه يې پوه سوی ماکله پوښتنه

در څخه وکړه چي په بري اعظمو کي غمونه سته او که نه، ماخو داسې وپوښتل چي مځکه څوبري اعظمه ده او موږ په کوم بري اعظم کي اوسو ؟ خيرزه پوه سوم چي ستابدن دلي دی اوروح دي ګوره چي دچاسره ګرزي، د محبت خان دا ځواب او صحنه اوس هم د ډيرو ياد وه.

د ده پر دغه ځوابو به کله کله همزولو خندل او کله کله به بياډير ورته حيران وو چي محبت خان پدغه ورځ څومره د ميني په دنيا کي ورک سوی وو.

ولې چي تر دغه وخته د دوی (د محبت او غوټۍ) مينه نه وه داسي رسواسوي اونه ډير همزولي پرخبر وو چي غوټۍ خپل پلار په کوچنيوالي کي لامحبت خان ته ورکړېده.

کله چي څوکاله وړاندي دا پيښه وسوه، نو په همدغه ورځ د محبت خان نژدې ملګري يوسف خان هم خبر سو چي دا ده ته څه ورپيښ سوي دي، هغه ډير نصيحتونه ورته وکړل چي اوس دي لا ځان په واک کي دی داسي مه کوه يوسف خان د خپل ورور کيسه هم ورته وکړه، خو محبت خان ته دا نصيحتونه د ماشومانو خبري او د اوبو د سر ليکي معلومېدې دی د ميني په ليوني آس سپور وو د هيڅ خطراحساس يې نه کاوه، نوهمدغه وو چي د محبت خان د ميني داستان په ښکاره ولېدل سواو د دغه ليوني داستان دروازه خلاصه سوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به یې د کتابو پر ځای د کنجاړې پارسل را اخیستی وو کله به بیا په چورتو او فکرو کې تر خپل کورتېر سوی وو ، کله به بیا د غوټۍ سره پر مازې( هسې خبره ) خفه سو ، او د کلي د تاج ګل لالا پر دوکان به خلکو په لیونتوب کي راوګرزاوه، یوار خو لا دکلي څخه هم ورک سو چي بیا یې خلکو پل ورپسې واخیست او به دغه دوران کي د ده د ماما زوی لونګ مار وخواړی، او ځواني مرګ سواو د محبت خان پل پرهغه ځای پاته سو ، څه زمانه بیدرکه وو بیا د کلي په هدیره کي د ملنګ په جامه کي ولیدل سو .

او اخیري پیښه داوه چي خپل خسر زقوم خان د خپل ورور اوخوریې د وژلو په تور وپولیسو ته ور په ګوته کړ، څو ورځي کیږي چي د ده پلار انور خان یې د را ایله کیدو کوښښ کاوه او د جمیلې ورور نعمت ورته ویلي وو که محبت خان را ایله کیدي نو زه به هم دده مخ ته درسره ځم، نو ځکه جمیله نن خبره وه چي نن به را ایله کیږي ولې چي نعمت د انور خان اکا سره نن ولاړی او دا یې ایراده وه چي دا زیری به پرغوټۍ داکوې.

دغه شپې او ورځې پرغوټۍ ډیرې سختې تېرې سوې، د مکتب (سکول ) پر لار به جمیلې ډیره تسلي ورکول او د امید پر لارو به یې بیول، چي خدای پاک به یې خیر کې، خدای(ج) ته هر څه اسانه دي، د کلي سپین ږیري به پدې خبره کي وګرزي اوستا پلار به پدې راضي کړي چي نور د خپل زوم (محبت ) لور(غوټۍ )او خپلې کورنۍ سره دا ظلم مه کوه، دا خبرې که څه هم پرغوټۍ ښې لګیدې مګر د اهر څه ځکه ورته یو خوب ښکارېدی ولې چي دې ته د خپل پلار طبیعت ښه معلوم وو او نه یې خپل بخت داسې بختور باله چي دا هر څه به سمیږي، چي کور به وه نو زیات وخت به یې پخپله خاصه کوټه کي تیراوه کله به یې فکر د کوچنیوالي و خواته ولاړی د کلي د نرۍ ولې سره به یې چي بازې کولې او هغه وخت به یې یو پربل اوبه پاشلې یا به هلته په ټالو کي زنګېدل.

بیابه یې د فکر نیلی دغه د غټوالي ملاقاتو ته راغلی دغه وخت که دوی په یو څه سره پوه سوي ؤ خو بیا هغه د پخوا په شان بې قیده نه سول سره یو ځای کیدای، یواځې به کله دمکتب (سکول ) پرلار یوبل ته انتظار وو کله به بیا د لیک له لارې د یو بل په حال خبریدل چي دزقوم خان د بزګر کوچنې زوی به یې رویبارې کوله او دیوه بل لیک به یې ورساوه.

نن ماپښین بیا دا په دغه فکر کي وه، هغه ځای ته به یې ډیر کتل پر کوم ځای چي محبت خان څو شپې مخکي یوه شپه ناست وو هغه شپه ځکه دې ته تر ډیروشپو ښه وه ولې چي د محبت خان د ورکېدو سه بعد لومړی وصال د دوی د واړو پدغه شپه سره وسو اوبیا به یې هغه ګړی او صحنه سترګو ته راتلل کله چي محبت د شپې په اخیر کي رخصت اخلې او ولاړسې دا لا د فکرو پدغه ټال کي ځنګېده چي د دې دخونې دروازه را خلاصه سوه، غوټۍ بې اختیاره داسې ورته وواییې: وی ! ښه سو چي بیرته راغلې ماچي ویل ولاړې !

جمیلې په کټ کټ پر وخندل او داسې ورته وویل: ولې د خوبه خو نه یې زه خو اوس راغلم ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوټۍ پوه سوه چي هسي مي ناپامه دا وويل، نه پوهېده چي خبره څنګه واړوي ، دا چورت هم ور سره وو چي جميله نن څنګه تر خپل وخت د مخه راغله خو داچي نن تر نور کله خوشحاله ښکارېده او د مسخرو لړۍ يې نه شکېدل او د مخ ځيره يې تر هري ورځي روښانه وه نو دې به هم خوشحالي ورسره وکړه خو دا چي دا به نن ولې او په څه شي خوشحاله وي پدي نه پوهېده.

دا چي د جميلې د مسخرو لړي نه شکېده او په دغه دوران کي به د دې د لاسو ګوتي هم کلکي وپيچلي، نو غوټۍ يو څه شکمنه سوله چي يو څه يې اورېدلي دي، نوره يې د زړه خوشحالي ورته زياتېده که څه هم دې اوس د ځينو خبرو ځواب ورکاوه خو دا تلوسه يې وار په وار زياتېده چي په اصل حقيقت ژر خبره سي، جميلې هم قصدي نه غوښتله چي د ستي دې اصلي خبري ته راسي، تر څويو څه يې د ساعته وزوروي.

غوټۍ هم خپل پوره کوښښ کاوه تر څو د زړه غوټه يې ورخلاصه کړي، او د خبري مطلب ځان ته حاصل کړي، که څه هم له اندازه د ښې خبري او د ښه شي د زيري معنی ځيني معلومېده خو بيا هم پدې د غوټۍ تسلي نه کېده، بس يوا ځينی شی چي دې تهورپاته وو هغه په خوابدي ولاړېدل وو ، ترڅو د جميلې دا مسخري پای ته ورسيږي او د زړه خبره په خوله وکړي.

پر غوټۍ هم اوس دا اثر د خوابدی ښکاره سو په ناراض ډول له خپل ځايه ولاړه سوه چي اوس به تر دروازې وتل جميلې خپل ټول انداز بدل کړ ی په تلوار يې لاس په غاړه کي ور واچاوه ، او په دا بل لاس يې د دې لاس په مينه کلک وپيچي چي دا يې نوره دې ته مجبوره کړه چي بيرته خپل ځای ته را وګرزي ، غوټۍ هم ډېر مقاومت ونکړ دا پوه سوه چي دا اخيري غشي کار وکړاو د ښبي منځ يې وويشت ، خويو دوې خبرې لا د ګيلې په ډول داسي ورته وکړې هو خورې ته خو نو ځوک دې ته اړ باسې چي يا جنګ درسره وکړي يا مخ در څخه واړوي ، په سمه خونو سمه خبره نکوې .

جميلې نوره خبره نکړه ورسره غبرګه مګر يوا ځي به يې د غوټۍ هري خبري ته يوه د ناز داسي مسکا کوله چي ګويا زه در ملامته يم او د کښيناستو سره به د زړه غوټه درته خلاصه کړم ، کله چي پر خپل ځای دا کښينوله ، بې له دې چي د زيري ورکولو معامله ورسره خلاصه کړي ياکوم زيری پرکښېږدي د محبت خان درا ايله کېدو مبارکي يې ورکړه ، ورسره يې يو ليک هم دې ته ورکړ ی ، پرکوم چي د محبت د لاس ليکلو او ليک ننښان ښکاره وو ، او دا ليک محبت خان و نعمت ته نن سپارلی وو او نعمت د خپلي خور جميلې په ذريعه دا دې ترغوټۍ پورې را ورساوه .

غوټۍ پدې خبره سره ډېره وغوړېده د يوساعت لپاره هرڅه غمونه ورڅخه هير سول په هر څه کي به دې ته د محبت خان تصوير (انځور) ښکاريدی.

(دريیم څپرکی :دمحبت خان درايله کيدو خبر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې زيري اوخبر لپاره دې دا دوولس شپې او ورځې په انتظارلکه دوولس کاله داسې تيرې کړې وې، هره لحظه ورباندې په شمار تيره سوه، دغه د چورتو او انتظار په دوران کې به يې فکرکله محبت خان ته ولاړی چې هو ده خو نور جرم او ګناه لرل يوا ځې ګناپې زما سره مينه کول وو ، اوکله به دا ټولې خبرې ورباندې خوب سوې.

يوه شپه يې خوب ليدی چې دا د محبت خان په تلاش د بنديخانې (جيل) وتورې دروازې ته ولاړه وې هغه دروازه وان پوليس د څه خبرو وروسته دا د ننه ورپرېږدې د لسې ياشلې طمعه هم ځيني ونکړې شايد ښه سړی به پر ولاړ وو ، کله به پدغه خوب کې د محبت خان سره ملاقات وسو اوکله به بیا خوب نور څه په وليدل .

خونن دا دې هغه وخت راورسيدی چې پرغوټۍ د محبت خان د را ايله کيدو زيری وسو اود ده پلاس ليکل سوی تازه ليک يې مخ ته پروت دی، جميلې هم دغه ګړۍ د دې ښه نندارہ په ډيره خاموشي وکړه، خو دغه خاموشي هغه وخت ماته سوه کله چې د دوی کوچنی رويبار څه باندې يولس (۱۱) کلن جانو په ډيره بيړه په خونه داسې ور داخيل سو لکه هواچې را اخيستی وي او په خونه کې يو دوه لوښي هم چپه کړه، لکه چې شاعر وايي رانه ادب د محفل هير سو ساقي عفوه غواړم

له ډيري بيړې وارخطا په سر د جام وختم (نصرالله ،حافظ)

غوټۍ ته د جانو داسې راتګ هم نابلده (ناولده) ښکاره سو ولې چې دی بې له اجازې خونې ته هر کله نه ورتلی او بيا داسې په بيړه، خوخير ده هم خپله رويبارې سر ته رسول، او نن به شايد داسې زيری را اخيستی وو چې جامونه يې چپه کول او بې له دې چې ځنډ دې وکړي دجيبه يې دوه ليکونه راوکښل او غوټۍ ته يې په نزاکت وسپارل او د څه ويلو وروسته دی د خپل کار په لور رخصت کيدی چې غوټۍ يوه خبره دا ورته وکړه هلته به زموږ چايې پخې وي هغه درسره راوړه.

د جانو راوړي ليکونه د محبت خان د همزولي او انډيوال يوسف خان له طرفه دي.

لومړی ليک يې داسې پيل کيږي ،د دعا او سلام ، وروسته ښه ژوند درته غواړم ، نه پوهيږم چې نوري خبري له کومه ځايه اوپه کومو ادبي او درنو الفاظو را پيل کړم ما هم د محبت خان د انډيوال په نوم اوستاسي د دريدلي او غمجن داستان او ليونۍ ميني په خاطر تر خپله وسه درسره غمرازي وکړه اوهم مي تر يوه ځايه ستاسي ددوو ترمنځ د رويباري شرافت ترلاسه کړی ،دغه څو ورځې چې ستاکوم ليک ماته رسيدلی دی هغه مي په ډيره امانت داري سره تر محبت خان پوري رسولی دی او د ده ليک مي ترتا پورې را رسولی دی.

خبره را څخه اوږده نسي ، اصلي مطلب مي دا وو چي زه تر يوه حده خبر وم چي نن به که خدای (ج) کول محبت خان کلي ته را ورسيږي خوسل په سله کې مي باور هم نه وو ، نو مي ځکه وړاندې يا مخکې تاته خبر نسو درکولای، نو بخښنه در څخه په دغه کار غواړم ما نه غوښتل چي بې وخته دا خبر درکړم او ستا د ليونۍ ميني د اور سرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سکروټې هسي تازه کړم، دا دي اوس چي خبره یقیني سوله او محبت خان زموږ په بدرګه خپل کلي اوکور ته را ورسیدی،

زه فکر کوم چي نن به زموږ دکلي مرغان او حیوانان هم د ده په راتګ خبر او خوشحاله وي . . . فقط وسلام یوسف خان د محبت خان انډیوال .

غوټۍ چي دا لیک وایي پر تن یې د میني لمبي نوري تازه کیدلې سترګي له اوښکو ډکي سوي د خپل غمجن داستان هره کیسه یې مخ ته تیره سوه . د محبت خان د ژر لیدو تلوسې یې په زړه کي تازه اور بلاوه، د لیک دا اخیري جملې (چي نن به زموږ دکلي مرغان اوحیوانان د ده په راتګ خبر او خوشحاله وي ) چي کله غوټۍ ویلي نو دغه وخت ماپښین قضاپه دا څو شپو کي د دې سیمې د اتل ګوډ سپي ږغ یاغیپا لومړی ځل دې واوریده، دا پوه سوه چي د یوسف خان دا خبره ریښتیاسوه، چي نن به زموږ دکلي مرغان اوحیوانان لا خبر او خوشحاله وي ، دغه دي د دې سیمي قهرمان، اتل او وفادار ګوډ سپی هم لکه چي د محبت خان په راتګ سره خبر سویدی او غواړي چي د خپل مسافر انډیوال سلام ته ورسي.

او دلته د غپلو به یې شاید یو مطلب داوي چي پرما دی هم د محبت د راتلو زیری کوي، نه پوهیده چي دی څنګه ژرخبر سو ، دی خو ماښام د هدیرې څخه دلته راتلی شپه به یې تر ډیره خاموشه دلته تیرول خو نن سم مازدیګر لا نه دي چي ګوډ سپی دلته غاپي له توانه یې ووتل ورپسي را ووتل د باغچي دروازه یې خلاصه کړه، ریښتیا هم دی هغي خواته روان وو تر ډیره یې پسي وکتل اوبیرته خونې ته راغله ، پدغه دوران کي جمیلې د کوم کتاب مطامعه کول د دې سره یې څه غرض نه کاوه ، جانو هم چای راوړې غوټۍ دا ورته وویل ته وګوره په کوڅه کي چي ګوډ سپی چیري ولاړی جانو ته یې دتګ لوری ور وښووي،

«ګوډسپی څکه پر هر چاګران وو چي یوار یې دا سیمه د یو ظالم پړانګ له شره خلاصه کړه په جګړه کي د خړسپي غوږ او ځیګر پرې سو کمر سپي خپل ژوند له لاسه ورکړی د تورخولي سپي یا دغه ګوډ سپي د ښونورو زخموسره د شا پښه سخته زخمي سوه، او بل وار چي کله یوه شپه د محبت خان سره تر دغه باغچي پورې راغلی وو او په کوڅه کي خپله چوکیداري کوله خو د سیمې یو بدمعاش منګل ځوان چي غلاکړي غواپر دغه کوڅه راوستل ده هم بې له دې چي کوم بل تور پر ثابت کړي یواځي د دغه غوادغلاکیدو په تورمنګل ځوان په سزا ورساوه او داسیمه یې د هغه د شره خلاصه کړه ،نوځکه ده د اتل یاقهرمان لقب ګټلی وو.»

جمیلې د چای خوړلو وروسته د خپل کور پخوا رخصت واخیست، د کور په حویلی کي لا د غوټۍ د مورسره یو څه تکیه سوه د هغې سره یو څه پټې خبري هم وکړې خواخیر هغي ورته وویل لورې تاته دي خدای (ج) خیر درکړي چي یوار ورته راسې لږ یې فکر وربدل کړي کني اوس به چور لیونۍ وای، زموږ په خبرو خو یې هیڅ تسلي اوصبر نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږي، پدغه حال کي د کور یوې مزدورې هغه غوټه را ورسول د کومي چي د غوټۍ مور هغي ته ایشاره کړې وه او جمیلې ته داسي وویل :ها زویه ! پداغوټه کي یو څه وچ توت دي دا به درسره یوسې ته خو پر ما ډیره ګرانه یې یو څه سپین کورت مي هم درته ایښي دي هغه به بیا بله ورځ درکړم.

دا چي ته د غوټۍ سره غم شریکه یې اوهر کله یې فکر درسره وي دا خو مي نو نه هیریږي، جمیله پوه سوه چي پدې خبره کي نور دې ته د نه منلو یا انکار هڅه بې فایدې ده، او د وچوتوتو غوټه په لاس کي ځیني راونیوه اوپه یوه نرمه خنداسره یې د دې د دغه ستاینو او ښوخبرو ځواب پدې الفاظو ورکړ: یا ترورې غوټۍ خو پر ما ډیر حق لري دا خومې همزولي او د سبق ملګرې ده بیا خو نو مورې هم سره خپلوان یو ، ولې به یې خیال نه ساتم ستاېې کور ودان چي زما راتګ دومره ښه درته معلومیږي زمادې ډیر صفت وکړی ، بس اوس تروری زما یې د خدای په امان .

«جمیله چي د حویلي دروازې ته رسیده د غوټۍ مور ورپسي دږغ کړه زویه ته یوار ودریږه، یوه خبره مي لادرته کول، جمیله هم راوګرزیده، د غوټۍ مور ته یې په ادب وکتل تر څوهغه خبره ورځیني واوري دکومي لپاره چي داراوګرزول ؟

هغې وویل: هو لورې مورته دې مي سلام وایه او دابه ورته ووایې چي هغه ستا د یوې چرګي او دوه درځنه هګیو پیسې مي داسي په سپړسی ترلي سلامتي درله ایښي دي، ورته وایه ته نه وې راغلې مانه در استولي، ماویل ښه دي چي دا یوار پخپله راسي، یواری به خوله سره پری کړو ، زه هم داسي دیغ وم، ورته وایه غاړې دې بندې چي هر وخت دې لاس خلاص سو چي نه به راځي بس دغه به ورته ووایې په مخه دې ښه.

جمیلې هم د کور پخوا قدمونه پداسي حال کي اخیستل چي په لاس کي د وچو توتو غوټه وه او په فکر اوزړه کي د غوټۍ او محبت خان د لیونۍ میني د داستان زړه دردونکي کیسې، نه پوهیده چي پای به یې څنګه وي ، کورته په رانژدې کیدو وه چي خپل ورور نعمت ولیدله او هغه هم ګامونه ورته را چټک کړه تر څو د خور څخه د حال او احوال پوښتنه وکړ ي، او دا چي څنګه زیری دی پر وکړ ي، خو د ده پر رارسیدو جمیلې د خبري وار پر د مخه کړی، آښه ! لکه چي د محبت دوی کره بیاتللی وې ؟

نعمت لا ځواب نهٔ ورکړی چي جمیلې په تلوار بله پوښتنه ځیني وکړه. پر لارې دې ګوډ سپی ونه لیدی ؟

دې پوښتني که څه هم نعمت حیران کړ خو دې ته یې داسي وویل: هو یوار بیا هلته ورغلم د محبت خان دوی کره، ماویل ښه دي که د یو کار ضرورت ؤ کومک به ورکوې بیاځیني هلکوان او یوسف خان هم هلته وو ما ویل مورې هم دا خو ورځي په محبت خان پسي پردیس وو لږ ساعت به یې ووینو ، دا خبري پر جمیلې لږ وغمبدې ولې چي دې د ګوډ سپي پوښتنه ځواب کېدل غوښتل، خونعمت هم ژر د دې په طبیعت پوه سو ، او ویې ویل: هو ګوډ سپی ما ولید ی چي څه وخت مخکي هلته د دوی د کور ومخ ته راغلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور د ننه د کوټې مخ ته په حویلي کي ناست وو چي د ده د غپارغ سو ، دغه وخت د محبت خان د مخ بڼه داسې بدله سوه چي مور ټول ورته حیران سو ، صرف یې یو هلک ته د ننه کورته د تلو اشاره وکړه ، او د ګوډ سپي پر خوا روان سو مور هم څوملګري ورسره را ولاړ سو یوسف یې پر څنګ را روان ؤ ، خو دغه وخت محبت خان د هیڅا سره خبري نکولې ، پر مخ یې بې اختیاره اوښکي را څڅیدلې « رېښتیا هم ده او ګوډ سپي خو دا څو ورځې نه ؤ سره لیدلي ، نعمت چي تر دغه ځایه خور جمیلې ته داکیسه کوله نو دوی هم د خپل کور حویلي ته راغلي وو ، رېښتیاهم دی خو د محبت خان د سفر ملګری ؤ او د وصال په شپه به یې ګوډ سپي چوکیداري کوله او بیا به هم د ده

په ملګری تر خپله ځایه رسیدی، ده د محبت خان په ملګری کي هر خطر ته غاړه ایښې وه ، او د دغه غمجن داستان یوه برخه ده هم جوړول ، نو اوس به ولې محبت خان د داسي ټینګ او وفاداره ملګري یاسپاهي د راتلو د پاره د باندې نه راوتی.

کله چي محبت خان د کوره ور وزي د کور مخ ته په خلاصه میدانه کي یوې څنډي ته دی هم داسي په انتظار ولاړ ؤ لکه چي د ده حبس د محبت خان د راوتلو خبر ورکړی وي ، شاید پریوتل به دا وخت بې ادبي ورته ښکاره کیده نو یې دغه څو لحظي په ولاړه انتظار کړی ؤ ، بل لور ته د کلي څو هلکوانو او خلکو همدغه ننداره کوله ، دغه وخت د محبت خان د نژدې ملګري یوسف خان هم سترګې په اوښکو لندې وې ، یو طرف ته که د خپل ملګري پر راتلونکي او اوسني ژوندباندې ارمان ورته دریدی ، بل طرف ته دا فکر کاوه چي ته وګوره دغه ګوډسپی خو خدای پاک حیوان پیداکړی دي څومره ژورحبس او وفاداري لري ، څومره ښه ملګري پالي، د خپل ملګري یاخاوند څومره ښه تابعداري کوي ، ته مور انسانانو ته و ګوره چي ډیری مو څه څه کارونه کوي ، د چاحق خوړل او د بل جایدادونه لاندې (قبضه )کول او په نه څه د بل ازارول او حتی د بې ګنا انسانانو وژل خو بیخي هیڅ نه ورته معلومیږي، او حتی د حیواناتوبندي کول یا جنګول خو هیڅ ګنا نه بولي، کاش چي ټولو انسانانو خو د خپل مالک او خالق هم پوره تابعداري کولای ! نو نن به ولې دغه عذابونه اوپریشانۍ دغسي ډیري وای ! رېښتیا هم اصل خبره د عمل او تابعداري ده چي سپی لا هم یو وخت داصحاب کهف ملګري کړي او د جنت لائق وګرزي اوکیسه یې په کلام الهي کي ذکر سي (اشاره د اصحاب کهف )کیسې ته ده، یوسف خان لا دغه چورتونه وهل، خو هلته ګوډ سپي ځان د محبت خان مخ ته داسې رساوه چي لکۍ اوغوږونه یې په ناز ورته ښورول او د خپلي خوشحالي اظهار یې په کاوه او د خپل اندیوال یاخاوند احترام یې کاوه، خو لږ ساعت وروسته په دغه میدانه کي داسي راوګرزیدی چي د خپل جرئت اومیړاني مظاهره یې وکړه، شاید مطلب به یې دا ؤ که چیري تاسي د کلي د دغه ظالمانو ځواب نلری اویایې مخه نسی نیولای بیا نو زه هم د یوه پړانګ او بدمعاش قاتل جوړیدلای سم او د هغه مخه نیولای سم ،

د کلي یوښه سپین ږیر ي تیموراکا هم دلته دغه ننداره ولیده دناخوښۍ هیڅ اظهاریې ونکړ ، ولي چي هغه پوهیدی چي د ښکار، د کور د ساتنې او د پسو د رمي لپاره د سپي ساتل پروا نلري ، خو د هر حیوان ساتل د جنګولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتاب نه خوښوي ،ګوډ سپي خو د دې سیمې او کلي لپاره هر وخت د یو ظالم سره زور ازمایي کړیده او د هغه مخه یې نیولې ده، دا خو یوائې موږ انسانان یو چې هر چیري د ظلم یاظالم ملګري کوو، او بیا ځانته د خیر طمعه لرو ، دا ننداره څه وخت وروسته پای ته ورسیده ، په سیمه کې لمر هر چیري خپلې زرینې وړانګې راټولولې او د رخصت په حال کې ؤ، د ختیځ لخوا د تورې تیارې او د یوې بلې شپې تناوونه هر لورته په غزیدو ؤ، د کال یوه بله ورځ پای ته رسیده او شپه په راتلو وه، مرغان هم خپلو ځالو او ځایو ته د رسیدو په حال کې وو، کرار کرار د اسمان پر مخ ستورو خپل امیلونه یاکتارونه جوړول ، میاشت تازه د څوشپو وه دومره رڼایې نه کول څه وخت بعد به دې هم د لویدیځ په لور ځان پټاوه ، او نن شپه به بیا د اسمان پر مخ غټ ستوري ښه ځلیږي بس قدرت هر چاته خپله برخه ورکړیده ښه تقسیم یې کړیدی، د ځینو شیانو لپاره یې وخت او وار هم ټاکلی دی اوس د ورځې وار په تیریدو دی او د شپې وخت او وار رارسیدی، چې پر سیمه خپلې تورې کږدۍ ودروي او د مځکې پر یوه غټه برخه باندې د خدای (ج) پر مخلوق پرده واچوي او په ډیره نرمې سره یې د خوب او ارام وغیږ ته وسپاري »

یوسف خان هم ډیر کوښښ وکړی چې محبت خان پدې قانع کړي چې نن کرار خپل کور ارام وکړه، مګر محبت خان د خپلې خبرې څخه نه اوړ ي او وایي چې نن شپه به لږ ناوخته زه یو نیم ګړی دیدن کوم، خو یوسف خان ورته وویل داسې مه کوه هسې نه چې یو خطر پیښ نسي، مګر محبت وویل زه اوس خطرنه پیژنم او نه مې خطر پخوا پیژندی، یوسف خان سر وښوراوه چې ته اوس دا لیونی پوه کوه، که څه هم دی پوهیدی چې دغه د غوټۍ د خاصې کوټې او باغچې لار څه په امن ده، ولې چې د هر چا تګ اوراتګ پر دغه لار نه وي او دا یې په یاد وو چې هغه څه کم یوه میاشت مخکې چې محبت خان د ګوډ سپي په بدرګه دغه ځای ته راغلی ؤ په کومه شپه چې ګوډسپي د منګل ځوان سره خپل حساب خلاص کړی، او راغلا کړي غوا بیرته خپل خاوند بوتله، نو د هغه شپې را پدیخوا ځیني خلکو دا ګمان کاوه چې ګوډ سپی به دلته چوکیداري لري او زړور پردې لار نسو راتلای، اخیر ده هم د نه زړه هو ورسره وکړه چې نه پاتیږي زه به دې هم د لارې ملګری سم، د ماښام ډوډۍ وخوړل سوه د ماخستن لمونځونه هم وسول، خلک د څه ناڅه بنډار کولو وروسته خپلو ځایو ته ولاړل، په کلي او سیمه کې ښه ارامي او سکوت خور س، مګر دلته د محبت خان او یوسف پر زړه یوه نامعلومه ناکرار ي روانه ده چې ارام ته یې نه پریږدي او هلته غوټۍ هم د انتظار شیبې شمارلې دا خو ماپښین قضا لا خبره سوه چې محبت په یوه لیک کې دغسې ورته لیکلي ؤ نو ځکه ساعت په ساعت د دې ناکراري زیاتیدله نه پو هیده چې نن شپه به تقدیر د دوی په هکله څه لیکلي وي، غوټۍ د خپلې خونې هغه دروازه چې د کورو خواته ده ماخستن لا وتړل اود باغچې خواته دروازه یې خلاصه کړه، کله کله د باغچې دروازې ته هم ورسي، شی خو ښه نه معلومیږي خوداغوږ ونسي تر څو که محبت را روان وي نو د پښو سکاسه به یې واوري، خو دا انتظار او هره لمحه پر دې باندې په زحمت تیریدله.

هلته محبت د یوسف په بدرګه د پلان سره سم له کوره راووتي، چې سم د لاسه یې ګوډ سپي هم ملګري وکړه ولې چې هغه خو هم د مازدیګر سه لادلې ؤ او دکور مخ ته په میدانه کې خپل سنګر تود ساتلی ؤ اوس چې په تیاره شپه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي محبت او یوسف ولیدل نو دی پوه سو چي اوس لکه چي د محبت خان د کار وخت دی، او بې له دې چي څوک دې ورته وواېي ده هم خپلي دندي (کار ) ته تغیر ورکړ، او د دوی دواړو د مخه یې زړه ور ګامونه اېښوول او دا احساس یې نه کاوه چي څوک دې مخامخ پرده راسي ولې چي دا هر څه ده په اثبات رسولي وو.

(ځلورم څپرکی:په کلی کي بیااوربل سو )

مګر یوسف لا چاقو په جوب کي او لرګی په لاس کي درلودی، هره خوا د انساني ژوند سکوت او خاموشي وه، خو په ونو (درختو ) کي ځینو ناستو مرغانو لا ځاي ځاي د ارمان ترانې ویلي او ځای ځای د یو سپي د غپا ږغ هم پورته کیدي خو ګوډ سپی د بې ځایه شور او نارو عادت نه درلودی ،د دوی سفر د څه وخت وروسته اوس انتها ته رسیږي محبت خان پر څوګامه د باغچي و دروازې ته په رسیدو ؤ او د غوټۍ د خونې لخوا یو څه نیم خامه رڼا د باغچي پر دروازه برابره د دې غمازي کوي، چي دا هم د محبت انتظار باسي اوکوم خطر نسته، یوسف یو څه شاته د دیوال تر څنګ ودریدی، هلته د باغچي دروازه خلاصه سوه داسي معلومیده لکه غوټۍ چي ورخلاصه کړي وي د ننه په باغچه کي دوی دواړو د څیراغ په نیم خامه رڼا کي سره ولیدل خولابه یې څه نه ؤ سره ویلي چي قدرت بیا د تقدیر ورقه واړول، دوی ټول حیران سو ، چي اوس به څه کوو ، د محبت به خوښه وه یانه خویوسف وباغچي ته ور د ننه سو او د بیرته تګ اسرار یې کاوه محبت هم مجبوره سو او غوټۍ ته یې داسي وویل چي زه اوس ولاړم، که څه هم د غوټۍ به د ده پر تګ زړه نه کیدی خوبله لاره نه وه پاته ،

«د اور لمبي وار په وار پورته کیدي او د دود لوخړي د اور په رڼاکي معلومیدي چي هواته ولونه ولونه پورته کیږي شاوخوا په کلي کي د خلکو ږغ ورسره په زوره کیدی خو محبت، یوسف اودریم ملګری (ګوډ سپی )یې تر ځایه په خیر او خیرت بیرته را ورسیدل، د اور د پورته کیدو سره یو څه ټکان هم وسول خو د کلي خلک یې ډیر وارخطاکړي وو، د تیمور اکا د کور تر مخ یو څه نفر سره یو ځای سول تیمور اکا خو لا د مخه د خطر نښي لیدلي وې او دا احساس یې کاوه چي په کلي کي به یو ځل بیا د اور لمبي پورته کیږي او اوس خویې دا دي دغه لمبي په سترګو ولیدلې، ده څو شپې وړاندې لا پخپله کوټه کي د ملاصاحب په مخ کي غلام جان ته وویل چي ستا د خبرو څخه د بدۍ بوی ولاړیږي د پردیو خلکو په خوله مه کوه بیا به دا کلی د جنګ په لمبو کی وسوځي، مګر غلام جان دا لوبه د ځان لپاره خیر ګڼل او دا یې ویل چي ما یو څه وسله او تیل برابر کړي دي تاسي به یې ووینی چي کړي خولې څنګه په سوک سمیږي، دا خبر ي نوري په جرګو نه خلاصیږي او نه دا ظالمان په خبرو پوهیږي دا یواځي او یواځي په زور پوهیږي، دا ظالمان او د بل د وینو تږي په سمه لار ته نه راځي ،«شاوخوا پنځه ویشت شپې مخکي چي غلام جان دغه خبر ي د تیمور اکا په کوټه کي وکړې ډیرو خلکو باک نه په وکړی یواځي د تیمور اکا اندېښنه وه چي علاج به یې څنګه کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل سوي اور لمبي لا ښې په غرغنډو وې تر ډېره ځايه رڼا تله او د تور دود لوخړ ي هوا ته پورته کيدې، ځيني ناپوه ځوانانو ته به يې خوند ور کاوه، مګر بعضي مشرانو د دې کار پايله يا نتيجه بده بلل، د تيمور اکا د کور تر مخ يو ي خواته ځوانانو په ګړز خندا کوله خوبلي خواته بيا څو د پاخه عمر کسان څه خاموشه غونډې معلوميدل او دا انتظار يې ؤ چي که تيمور اکا را ووزي او مجلس ورڅخه واوري، لږ ګړی وروسته ده هم غاړي تازه کړی چي ورسره ځوانانو خندا بس کړه، څه ساعت خاموشي وه تيمور اکا هم په رارسيدو سره سلام ووايه د سلام ځواب يې حاضرو خلکو ورکړ، د کلي دوکاندار چي د ده د خبرو ډير وړی ياتړی ؤ خپل پټوبې پرنسبتًا يو څه لوړ ځای ورته هوار کړ ی تر څو دی ورباندې کښيني، خو ده ژر ده کښيناستو فکر نه کاوه، شاوخوا ولاړ خلک يې د دغه بل سوي اور او څو راوړل سوو څيراغانو په رڼاکي تر نظر ويستل ، وروسته د کلي ملا صاحب ته په غوږ کي يوڅه وويل، هغه هم ورته سر وښوراوه او ده ته يې په ځواب کي وويل حاجي صاحب واقعًا چي ته په کار پوهيږ ي او پوره د تجريبي پوهه رب تعالی درکړيده، تاچي کوم خطر محسوساوه د هغه اور لمبي دغه دي موږ په سترګو وينو، پايند اکا هم نژدې ولاړ ؤ د چا چي څوشپې مخکي منګل ځوان غوا غلاکړه او د هغه څخه د خلاصيدو وروسته پوليسو د سخوندر سره د تحقيق لپاره بوتله خو بياوروسته تيمور اکاورته راخلاصه کړه دا انتظاريې کاوه چي تيموراکا به اوس څه مجلس وکړ ي، اخير د ده هم د توانه ووتل او پر ږغ يې کړه تيمور لالا ته ولې څه نه وايې موږ خوټول وتاته ګورو، چي يوڅه به ووايې ستا لا دغه د خانی اوملکی په خبرو سرخلاصيږي، تيمور اکا د لاس لکړه دوه وار د مځکې سره ووهل او خپلي خبري داسي شروع کړې، زه خوهم د خپله کوره را ووتم لکه تاسي چي د خپلوکورو څخه راغلي ياست، بيا نو زه خو نه خان يم نه ملک يم هسي چي تاسي د دغه ځينو مشرانو څخه نا اميده سواست په ما پوري مو لاسونه ټينګ کړي دي، ستاسي چي ګټه وي هلته مو په خوله کوی او که چيري مو يو څه ښکاره تاوان ؤ بيا نو زه مشر نه يم، ولاړو خلکو او پايند اکا دا خبره محسوسه کړه چي ريښتياهم، دی هلته زموږ په کار وي کله چي زموږ وزه ورکه وي او کار مو په بند وي.

تيمور اکا وويل: دا مجلس څو شپې مخکي هم ما درته وکړی خو چامي خبره پر غوږنه ونيول، يوه ويل زمايې په څه او دا بل ويل د ده يې په څه، اوس هم هغه خبره ده چي زمايې په څه دا اور به څو شپې بعد د کلي په هغه بل سر کي وي بيا به دکلي په منځ کي بليږي او موږ به وايو چي زمايې په څه، نور دغسي مجلسونه نه زه کوم او نه مي په وسه پوره دي.

ولاړ خلکو ټولو يو بل ته سره وکتل، چی دا خو حقيقت وايي موږ همدغسي يو، تيمور اکا د يوڅه نورو خبرو په پای کي وويل: زه بي ځايه ډيرې لنډي او اوږدي خبري نه درته کوم د کلي د ملا صاحب دې اجازه وي ،وايم ډير به نه سره خطاباسو، د دې اور اصلي سر يا پيلته زموږ درا څرمه همسايه د پتاؤ د کلي د ملک خشنګ په لاس کي ده او بل علت يې دغه د ملک زقوم پردي ميلمانه دي چي دی يې ساتي، که مو په اتفاق د دغه دوو خبرو علاج وکړی نو په امن به سو، کنه بيا نو د نورو نا ولده (نابلده ) پيښو انتظار وکړی اوزموږ ځواب به داوي چي يو وايي زمايې په څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بل به وايي زما يې په څه، نتيجه به يې دا وي چې دغه د ملک زقوم پردي ميلمانه به په کورو راننوزي او مور به يې ځواب نلرو ا و په دغه اور کي به يو په بل پسي سوځو ، د تيمور اکا دې خبرو ته ځيني خلک حيران سول چې دا دې څه وايي، اور زموږ په کلي کي بل دی او دی وايي د پيلتي سر د پتاو د کلي د ملک خشنګ په لاس کي دی، دا بيخي ناولده (نابلده ) خبري نه دي ؟

ځينو ځوانانو بيا يو بل ته کرار سره وويل د حاجي صاحب هم لکه چې دماغ کار نکو ي ناحقه پر راګرزيدلي يو ، د کلي دوکاندار تاج ګل لالا تر هر چا ډير و دغو خبرو ته حيران ؤ، د غواخاوند پايند اکا هم ډير وارخطا ؤ، نوري ځيني ورکي سو ې بې اختياره يې داسي وويل: تيمور لالا ته وا هغه زما غوا خو به بيا حکومت نه را ځيني بيايي ؟

( مشران خلک و خپل همزولي ته د کاکا پر ځای د(لالا ) توری کاروي )

د پاينده اکا پر دې ساده خبره چاوچاومسل (نرمه خندا )

تيمور اکا لا و دې خبرې ته ځواب نه ؤ ورکړی چي تاج ګل لالا هم خپله خبر را درسته کړه: تيمور اکا زماهم يوه خبره پر زړه راغله ځوشپې د مخه زما پلار يو څه سپيلني راوړي ؤ يو څه مي پر کليوالو خرڅ کړه يو څه لاسته ته وا چي دغه مو ورته دودولای، ته وا دغه غله به نه وای ورسره ورک سوي، دوی وايي د سپيلنيو دودول پيرانان لا ورکوي غله به تردوی هم نه يي زورور ياسپين سترګي زه وايم دوی به هم ورسره ورک سي، د تاج ګل لالا پر دې ساده خبرو په ولاړو خلکو کي داسي خندا ګډه سوه چي چا د ډيري خندا څخه پر تشو(اړخو ) لاسونه نيولي وو چا پټهوان خولې ته نيولي وو د هر چا څخه هغه تير مجلس داسي هير کړ لکه چي هيڅ پيښه چي نه يي سوي ، تيمور اکا هم يو څه پر وخندل.

«تاج ګل لالا نه يوازي چي ساده سړی ؤ بلکه ښه خوی يې لا دا هم ؤ چي چابه هر څه پر وخندل بد يې نه په وړل، يعني خوايې نه بدول»

تيمور اکا په هنر ځواب ورکړ: هو تاښه خبره وکړه خو اوس خبره تر سپيلنيو تيره ده، او پايندا اکا ته به دا ووايم چي نه نوره ستا غوا حکومت نه بيايي د هغي څخه يې تحقيق پوره کړی ؤ نور تحقيق نه ځيني کوي، دا له دغه دعوي (کېسه ) څخه په عزت خلاصه (بري) سوه.

پايند اکا کور ودانی ورته ووايه خبره يې نوره داسي اوږده کړه تيمور لالا ښه سو چي خبر دې کړم زما بيخي فکر کي بند ؤ هغه بله ورځ لا دا غريبه څه بد بويه وه، وايم د بيرې مې غوايي ته نه وروستل ماويل داسي نه چي د حکومت خلک را خبر سي او تاوان را ورسوي، د دې خبر ي سره يوار بيا خلکو وخندل، تيمو ر اکا بيا هم د نرمي خندا سره ورته وويل دغه دي اوس خو مي خبر کړي، او د مسخري په ډول يې ورته وويل چي بيانو يو چای بر شيدي هير ي نکړ ي !

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایند اکا ورته وویل: لالا وایم پنځه چای بره شیدي دې ستابلا واخلي تا خو زه ډیر ګټلی یم، زه خو پر دې بیریدم چي هم دې غوا په دعوه ولاړه، او که صبا دغه د حکومت خلک راغله چي موږ یې خوشایه (ګوبر) هم غواړو بیا به مي څه کول، هغه ته خو د دوی هیڅ پام نسو کني زما خو د وسه نه ورسره کیدل، نو ولې به تا په شیدو نه نازوم، وایم یوه ګونۍ خوشایه (ګوبر) به یې لا هم در واستوم، تیمو راکا میده میده وربانديې خندل اخیر یې ورته وویل: پایند لالا هسي مې مسخري درسره کولي هیڅ شی یې نه غواړم شکر دی زموږ غوا هم ښې شیدي کوي.

د مجلس پر دې اخیري خبرو د خلکو څه فکر بدل سو، په اخیر کي د تیمو راکا زوی (مراد) وپلار ته داسي وکتل لکه چي د یوې خبري اجازه ځیني غواړي د ه هم اشاره ورته وکړه چي سمه ده، مراد وویل: ښه دي ډیر کلیوال سره یوځای یو که څوک نه یې خبر هغه دې اوس خبر سي چي صبا ماښام ته انور خان اکا د ټول کلي د ډوډۍ ست کړیدی، چي څوک بیا پاته نسي، خویوه کلیوال دا هم څه په ټینګه وویل چي پایند اکا اوتاج ګل لالا خوبه بیخي نه پاتیږي ، په اخیر کي تیمور اکا وویل ملاصاحب دې بخښنه کوي چي مجلس خو یوائې موږ وکړ ی ده هیڅ نه کي وویل، ملا صاحب په عالمانه انداز وویل: نه نه تیمور اکا ما پر مجلس ډیر خوند واخیست داسي څه نه ؤ پاته چي زه څه پر ووایم، زه به اوس یوه د خیر دعا وکړم او مجلس به په دعا سره ختم سي دا یې ما برخه کي اخیستي.

ملا صاحب خپله دعا داسي پیل کړه د حمد او صلوة (ثنا او درود) وروسته خدایه پاکه ته د موږ څخه راضي سې ته مهربانه یې موږ وبخښې ته د موږ سره سره ټول انسانان او پیریانان جنت والا او هدایت والا جوړکړې، په ټوله دنیا کي د هدایت او امن هواګاني وچلوې، څوک چي زموږ دښمنان دي او موږ ته بد نیت لري ته هدایت ورته وکړي که به یې هدایت په نصیب کي نه یي ته د نس خوږ ور واچوي چي موږ یې د خوا او خاطره ووزو د دوی د ملګروسره . . . امین ثم امین، د دعاوروسته هرچا د خپل کور خوا ونیول او مجلس پای ته ورسیدی، هلته د بل سوي اور لمبې اوس څه کمزوري معلومیدې، د ور خرمه کورو څه کلیوال او د زقوم خان دوو، درو بزګرو یې اول د وژلو کوښښ وکړ ی خو هغه اور د دوی تر وس وتلی ؤ، د زقوم خان وسله وال میلمانه هم پدا شپو کي څه سره ورک وو، څوکسه خو یې پدې ځیني وتښتیدل چي دوی د لنډک سره لار و انورخان ته نیولي وه، مګر هغه دوی چرس ډیر څکولي ؤ د انور خان پر ځای یې د لنډک پلار یعني د زقوم خان ورور او د هغه خوریی چي په میلمستیا راغلی ؤ ووژل، نو دوی بیریدل چي داسي نه چي یا مو حکومت بوز ي او یالنډک ځوان یوه حمله را باندې وکړي نو ځکه یې دا مېنه پریښوول.

یو څه نفر یې نور ووژل سول، جانک مسکین، ژړ غابنی او پتو ،خو هغه درا غلا کړ ي سړي پر سر مړه سول منګل ځوان د پایند اکا دغوا د غلا کیدو په شپه ګوډ سپي په سزا ورساوه، او هغه دوه نور انډیوالان د ډب کلي د صاحب زاده صاحب زوی رنګین او د غوا د خاوند پایند اکا وراره منو جان چي تازه په چرسو اخته سوی ؤ او په دغه شپه د غلو رابر (لاربښوونکی ) ؤ بیا حکومتي خلکو د غوا سره بوتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدا نژدې شپو کي د زقوم خان د نفرو هیڅ کار نه سمیدی هرې غلا ته چي به تللي ؤ مرګ ژوبله به د دوی په برخه وه ګوره چي پخپل منځ کي يې نیت سره بد ؤ او که د چا ازار وهلي وو کښتني يې پر مخ سمه نه تلل پاته نورکسان يې یوڅه لیري په غلا پسي تلل ولې چي دلته نژدې هسي هم بد نامه سوي وو نو ځکه د زقوم پر کوټه دومره کسان نه وو چي دا اور يې ژر وژلی وای، په لومړي سر کي هغه ورځ مه کلیوال هم نه ورتلل ويل داسي نه چي يا اور پر موږ تاوان سي یا دغه کسان چي ټکان يې وکړل یا يې دغه ځای ته اور واچوی موږ وولي، ولې چي د زقوم خان بد نیتي خو بیخي ډیر دي چي موږ د زقوم په نفرو خطا نکړي، وروسته چي د اور لمبي پورته سوې او شاوخوا يې رڼا وکړه دا معلومه سوه چي هغه کسان اوس تللي دي نو ځيني نژدې کلیوال را ورسیدل، دوی هم هسي د زقوم د بیرې ورته راغلل چي داسي نه صبا په دوی پوري لاس و نیسي چي دا اور تاسي ولګاوه کنه نو ولې مو نه مړ کاوه ، د دغه بیرې دغه څو کسان ورته راغلل کنه نو دوی خو ښه نیت نه ورته درلودی، ولې چي زقوم داسي کار نه ؤ کړی چي چا دې په ښه نامه یاد کړی وای، ډیرو خلکو به د ده د بیرې مخامخ ښه تعظیم ورته کاوه خو تر شا (پسې شا) به يې بد ور پسي ويل، څه يې کړي وای نور څه يې په وسه نه کیدل، مګر د ملک شاجهان اکا چي اوس مریض دی او تیمور اکا بیا هر وخت دعا ګویه ډیر وو.شپه تیره سوه سهار ترلمانځه وروست ،

د کلي امام خورا زورور او د اخلاصه ډک نصیحت وکړ د تاج ګل لالا او پایند اکا په خیر د سپین زړو(سپین زږګیو ) خلکو خو بیخي اوښکي نه دریدلي پر پایند اکا به یی داسې اثر وکړی چي په ژړا کي به يې سګلي (سلګۍ) ورسره شروع سوې، ځکه چي ملا صاحب ډیر عالم او پرهیزګاره د طمعي خلاص سړی ؤ داسي نه ؤ چي کلیوال به بغل ګراوه ده چي ويل یو څه راکوي د چرسو یا تریاکو کښت او کرونده خوبې بیخي نه خوښول ده به ويل زموږ په مذهب کي هر ضررمن او نشه ورکوونکی شی او د هغه استعمال (کارول) منع دي، داسي نه ؤ چي ټول عمر به يې یوائي د زکوة او خیرات خبرې کولې، چي خلکودې دا ګمان کړی وای چي بیا لکه چي مفلبسه (بې خرچي ) سويدی، او نه يې یوائي د زکوة او خیرات خبرې زده وي بلکه د ټولني پر هر اړخ با علمه او با عمله انسان ؤ، نو ځکه يې خبري پر خلکو ښې لګیدې، د نن په خپل نصیحت کي يې پر اخلاص اتفاق او ښو اخلاقو ډیر تاکید وکړی، ده اشارتًا دا وویل چي زقوم خان باید لاري ته راسي او دغه پردي میلمانه ډیر ژر رخصت کړي او په ډیره کنائي سره يې دا خبره هم وکړه چي باید د پتاو د کلي ملک خشنګ زموږ په کلي کي لاس ونه وهي، او نور دې زموږ په اړه ناولي خوبونه نه ويني، که زموږ خلکو اتفاق وکړی بیا به دی هم په پرون پسي ارمان کوي !

او په پای کي هغه خلک هم وغندل څوک چي بل خطا ایستلي وي پردو ته وفاداره وي او د بل په اشارو په خپل کلي کي بې ځایه اورونه بلوي(اشاره د برايي شپي اور لګیدوته وه )

دداهم وويل چي بايداول دیوظالم سره خبري وسي، که یي نه ومنل بیادي یوبندوبست ورته وسي داسي نه چي اول يې کور ته اور واچول سي، د دعا څخه وروسته کرار کرار، خلک د مسجد څخه را ووتل، چا وچا به د ملا صاحب د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرو تعریف کاوه چي څنګه ښي خبري يې وکړې، خو د ځينو ځوانانو دا تلوسه وه چي ژر د برايي ماښام د پيښې ځای ته ځان ورسوي چي دا څه پيښه وه يا د تاج ګل لالا پر دوکان په يو څه ځان خبر کړي، پدغه حال کي يو څو غټ هلکوان داسي پدېخوا را روان وو لکه دوی چي حال راوړی وي يوسف خان او نعمت هم پکښي وو د دوی په رارسيدو سره نژدې خلک پر راټول سوه تر څو يو څه ځيني واوري، ولاړوخلکو بيلې بيلې پوښتنې ځيني شروع کړې، خو شاګل اکا منت پر وکړی ويل ټول مه رغيږی يو ورته ګاييږی، تر دا وروسته يو څه خاموشي سوه، يوسف وويل: هو مورږ يو څه وختي ورغلو ځای ځای لا دودان پورته کيدل، دلته بنګوا اکا هغه د زقوم خان بزګر هم ولاړ ؤ دوی لکه چي شپه تر ناوخته پورې پر وهلي وه بيا نو سره تللي وو يوائې بنګو اکا د څوهلکانو سره مورږ دلته وليدی، د زقوم خان اکا ژرنده، هغه يوه کوټه، وچ اولانده بوټي داسي لولپه سوي وو وايم دا يې لاڅه کوې، پدغه حال کي يوسف څه ژړغونی غوندي سو، ځيني خلک وپوهيدل چي اوس لايوه غمجنه پيښه بله هم سته، د يوسف خان د زړه له درده يو څه سترګي په اوښکو لندي غوندې سوې، دغه ګړی پر ولاړو خلکو څه اورېد سو، خو يوسف خان خبري ته ځان جوړ کړی ؤ، وايم پر هغه پسو مي زړه ډير درد وکړی چي دلته په اور کي سوځل سوي وو، وايم څنګه زحمتونه به ورباندې تير سوي وي چي پر دوی باندي کيږ اور اخيستی ؤ او په ژوند سوځل کيده.

د دې خبري په اوريدو سره ولاړو کسانو ډير تشويش وکړی، شاګل اکا لا دا هم وويل: هغه د ملا صاحب خبره ده چي هسي د چا کور يا بل ځای ته اور اچول ندي پکار هسي نه چي د هغه دکور ماشومان يا حيوانان ورکي ونه سوځل سي، يوسف وويل: هو کاکا ستا خبره ريښتيا ده بنګو اکا وويل هسي مورږ د ټکانو په رغ راويښ سو، وايم که لږ ساعت لانور تېر سوی وای بيا به يې نو د عياله سره پدغه اور کي کباب کړی وای، هغه مشر زوی مي هم پر کور نه ؤ ژرنده خو د هغه پر غاړه ده زه دورځي د مځکي د کاره ستړی راغلی وم هسي د خدای (ج) فضل ؤ چي د ټکانو په رغ راويښ سوم ما چي د کور ښځي او

(پنځم څپرکی:تاج ګل لالا څه شی نيوليدي)

کوچنيان د شا تر ديواله اړول، اور بيا په غرغنډو ؤ، د پسو بغاري مې په خپلو غوږو اوريدې چي د اور په لمبو کي سوځل کيده، خو خبره مې تر وس تيره وه، يو دووه پسونه چي بل ځای تړلي وو پداسي حال کي مي له مورږي څخه راخلاص کړه چي پر نيمی وړيو يې اور بل وو، يوسف خان به لانور څه ويل چي شاګل اکا يې داسې خبره پريکړه، دغه بوټي اولرګي هم د انور خان د باغ وو چي يوار يې باغ ور وچ کړی وروسته زقوم خان د ملکيت دعوه په وکړه چي ناحقه شاهدان يې جاندو ،او تورک وو، وايم دظلم پای خراب وي دغه دي چي کوم غازي پر پيښ سو چي هغه د بل د ونو(درختو ) په بوټو کي ژرنده او غنم وروسول هسي مي پر هغه حيواناتو زړه وسوځيدی کني د ی د دې وړ دی چي خدای پاک پر ده اور بل کړي وای ښه سو، دا زما هيريږي چي ده ظالم د پردي باغ شني ونې وچي کړي بيا يې دلته پرله کوړه (کوټه ) کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر هغه جاندو او تورک مي زړه درد کاوه چي ناحقه شاهیدي به یې د ده پر ځای ادا کول، دوی ته یې هم هیڅ ورنکړه د دغه لرګیو کول (وعده ) یې ورسره کړي وه هغه هم هغه دي په اور وسوځیدل، وایم خدای پاک دې مو د بل د حقه اوازاره وساتي دغه یې پای دی، د شاګل اکا دغه نصیحت اموزه خبري پای ته ورسیدي چي تاج ګل لالا د دوکان څخه موړک دان (تلکه ) راویستی چي یو موړک په ځړیدی یو کلیوال مسخراچي ور باندې را ږغ کړه: تاج ګل لالا تا هم لکه چي یو ظالم نیولی دی که څه؟ تاج ګل لالا خبره ور غبرګه کړه نه پوهیږم وروره چي غل دی که ظالم خو زما د پلیو اوګوړې بیخ یې را ویستی وایم دغه بلاوي په روړدي سوي دي اخیر به مي د سرمایې څخه خلاص کړي،

سمندراکا داسي د مسخري پرډول ورته وویل: ولي هغه سپیلنی نه ورته دودوې، تاخوبرایي ویل چي باره دې کلیوال سپیلنی دودوي ګوندي دا غله ورسره ورک سي ته ولې و موړکانو ته سپیلنی نه دودوې چي دوی ورسره ورک سي؟

د دې خبري سره ټولو کلیوالو ډیر کلک او په خوندوخندل، لږ وروسته تاج ګل لالا وویل: سمندر لالا تا ښه خبره وکړه وایم زه هم هر ماښام دغه ښادمن ورته دودوم، وایم کله یې سهار هم ورته دودکړم مګر دوی زوی مړي هیڅ فرق نه ورسره کوي سهار چي دوکان خلاص کړم هغه دوی وي هغه معامله !

بس ګونې او پارسلان یې غاري غاري کړي وي زما په خیال دغه زموږ د زماني موړکان لاسپین سترګي سول، دغه یو موړک دان لا کله کله یو دانه مانه ځیني ونیسي خو ډیر نسي نیولا، د تاج ګل لالا پر ساده خبرو یوار بیا کلیوال په خنداسوه، سمندر اکا یوار بیا خبره ورغبرګه کړه تاج ګل لالا سپیلنی به دې کمزوری وي چي دوی نسي ورکولای؟

تاج ګل لالا لږساه ونیول وروسته یې وویل:

څه ووایم چي سپیلنی به کمزوری وي او که دوی بلا وهلي بي شرمه دي چي نه ورکیږي، ته ودریږه چي بازار ته د سودا لپاره ولاړ سم هلته به د دې خبري پوښتنه وکړم هلته تجربه ناک خلک سته، یو چا راته وویل هلته په بازار کي ډاکتران هم راوتلي دي وایي و خلکو ته د موړکانو ګولۍ ورکوي، سمندر اکا بیاخبره ځیني ونیول، ښه تاج ګل لالا داګولۍ نو دا انسانان یا دا خلک خوري که یې په موړکانو خوري، که یې موړکانو ته ورکوي نو موړکان خو هغه دي په غاروکي پټ دي، تاج ګل دې خبري نورهم حیران کړی او په ځواب کي وویل:

یاره سمندر لالا ته خو هم لکه د خبرو پر غار چي ناست یې و هر شي ته دې پام وي، رېښتیاهم دا خبره ماته سر چپه ښکاري چي دا ګولۍ دي که دوا چي دا نو دوی بیا و چاته ورکوي، شاید دا خبري یې ځایه وي وایم موړکان وګوره او ډاکتران بیا نو موړکان ته څنګه نیسي چي دا ګولۍ او شربت ورکړي دا هسي هوایي خبر ي را معلومي سوې زه لکه چي یو چا خطا ایستلی وم، ما خوتاسي ته دا خبره وکړه خو تاسي یې بل ځای مه کوي بیا به خلک وایي چي تاج

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل لالا هم خورا زورور درواغ وایي، وایم یوه خبره به لا درته وکړم بیانو زه لاس پریولم دلته د یو شي نوم مي اوریدلي ؤ خونه په پوهیدم چي دا به د څه کار لپاره وي مګر ورته حیران ډیر وم دوی ویل دا په بازار کي راوتلي دي بس سودامې ډیره ورکي بنده وه چي دا به څه شی وي، هغه نوم مي اوس هم سم ندی زده، بیا یې یوسف ته وویل، هلکه هغه څه شی نومیده چي ما یې پوښتنه در څخه وکړه ؟

یوسف وویل: انټر نیټ، تاج ګل وویل هم دغه ، دغه انټریټ دی که څه بلا زمايې اوس هم نوم ښه نه زده کیږي

،، تاو اوریدل ،، ماګمان کاوه چي دا به د خوراک شی وي یا به کتغ پر پخیږي، خو یوسف راته وویل: یه کاکا دا نه د خوراک شی دي نه کتغ پر پخیږي !

پدې کي خلک شیان ویني خبري کي کیږي دا سي نورې بلاوي پکښې دي، وایم سمندر لال ته باور وکړه که به مي تر اوسه یا زړه ته لویږي یا به په پوهیږم.

حاضر خلک هغه د چا خبره د تاج ګل لالا پر ساده خبرو نژدې د خندا مړه وو.

په اخر کي سمندر ښه په هنر ورته وویل: ښه دي تاج ګل لالا یو څه مجلس دې راته وکړی زموږ دې ښه ساعت راتیر کړی ته لاس پریوله هغه دوه درې هلکوان به سودا غواړي، خدای (ج) دې خوشحاله کړه هسې انور خان اکا ډوډی کړیده دغه د موږکانو او غلو نکل به هلته ماښام بیا تازه کړو، اوس حاضر دمه د خدای په امان، د چا چي خندا نه درېدل هغو یو څه نور هم وخندل، لمر د غره سه را پورته سوی ؤ هر څوک خپلو کورو ته ولاړل.

محبت خان چي برابې ماښام د اور د بلیدو پر وخت د غوټی د باغچې څخه ډک زړه را ګرځیدلی ؤ تر ډیره د دغه نیمګړي دیدن په باره کي فکرونه ووهل، خو تر لاس وتلي ډبره وه هیڅ په لاس نه ورتله، یوار به یې په فکر کي دا ور وګرزیدل چي کاش دغه د اور واقعه نه وای پیښه سوي، یو څه ساعت خو به مو سره لیدلي وای یو څه مجلس به موسره کړی وای، یو څو د ناز ګیلې به مو هم سره کړي وای، خو وروسته به یې بیرته خپل ځان ملامت کړی، ښه ته نو کله په ګیلو پوهیدې خو هسې په مازې خبره په ورځو ورځو ځیني خوابدی کېدې، نن به بیا په مازې خبره ورسره خوابدی سوی وای، خو تر دغه به دې لا طبیعت خراب وای، ځه بس په دغه کي به مې خیر ؤ.

تر ناوخته یې دغه چورتونه وهل چي اخیر خوب د دغي غمجني دنیا څخه سترګي ورپټي کړي، یوسف خان نن دلته ورسره پاته سو ځای یې د ده تر څنګ هوار ؤ د هغه هم ډیره سوداکي بنده وه چي دا سي نه د شپې بیا ولاړ نسي، خو چي کله بیده سو، بیا نو هغه هم ارام ته زړه ښه کړی، محبت خان اوس ډیر ښه خوب ویني یو ډیر ښه ځای وي د نژدې غره لمن او شاوخوا غونډی په شنو وښو پوښلي وي رنګا رنګ ګلان یې ډیر ښه ایسیږي دلته یو ښه باغ هم وي محبت خان د دې باغ په دروازه کي ولاړ وي او د غوټی انتظار کوي، په باغ کي د روانو اوبو او الوتونکو مرغانو اوازونه که څه هم ډیر زړه وړونکي وو خو دده به ډیر فکر نه ورکي بندیدی، ده د خپل کار انتظار کاوه خولږ ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته غوټۍ هم د یوې خوا راښکاره سوه په لیدو یې ډېر خوشحاله سو خو دی د شرمه کښته وګوري، او د باغ د ولې پر غاړه کښېنې، داسې معلومیدی لکه د یوه نظر کتوسره چې یې خپل د مخامخ کتو ټول توان له لاسه ورکړی و ی د هغې د غټوسترګو کج باڼو ګانو ګلابي مخ او ښې ځوانۍ او لیونۍ مینې سره یې دا ګړۍ لکه چې د سترګو جنګ نسوکولای او پدې جګړه کې ځان ورته تسلیم ښکاره سو، دا هم راغله او د ولې په دا بله غاړه ورته مخامخ کښېناستله، دی په اوبو کې د غوټۍ ښیري یاعکس ته ګوري او دا مخامخ ده ته ګوري، دې ځان د مخامخ کتلو د جګړې یا مقابلې بریالۍ یافاتحه اوملاله بلله، نو ځکه ځان ورته غښتلی معلومیده.

محبت خان لا دغه خوب ویني چې دی د یوه ښایسته باغ د ویالې پر یوه غاړه اوغوټۍ یې پر دا بله غاړه ناسته ده، یو څه ساعت لا غوټۍ دغه مخامخ ننداره وکړه، مګر ده لا هغسې کښته کتل، اخیر د دې له توانه ووتل، او د ویالې اوبه یې وربادې وپاشلې خوکله چې دې د دوهم ځل پاشلو کوښښ وکړه محبت خان یې لاس تکیه کړ او د مخامخ کتو توان یې به ځان کې پیدا سو، یو څه ساعت یې څه مجلس او د ناز ګیلې سره وکړې اخیر د باغه راووتل د یو ې غنډۍ وسرته وختل هره خوابه شنه، اوبه وښو پوښلې وه، ښه نظاره وه، یو څه وخت لا نور تیر سو که ګوري چې پدې خوب کې هغه د ده سپینې کوترې او ګوډسپی هم راسې دوی یې په لیدو ډېر خوشحاله سې، یو ږغ بل هم پیدا سې محبت خان د ځایه ولاړ سې ښه ډېر خلک ووینې چې د دوی پر خوا را روان وې دی یې په لیدو ډېر حیران سې نه پوهیږې چې دا خلک د کومې خوا را پیدا سول او ولې پدې خوا داسې چټک را روان دي، غوټۍ هم دغه ننداره ورسره وینې خلک د دوی پر خوا وارپه وار نژدې کیدل خو محبت او غوټۍ یې په مطلب نه پوهیږې پر یو څه فاصله ودریدل، د خبرو اجازه یې وغوښته محبت خان د خبرو اجازه ورکړه د خلکو څخه یوه نفر په ډېر ادب او احترام خبرې شروع کړې د څو خبرو په اخیر کې یې ورته وویل: ته زموږ مشر او پاچا یې او دغه درسره بي بي زموږ شهزادګۍ ده « د راغلو خلکو وینا ته محبت خان او غوټۍ ډېر حیران ولاړ سې اخیره دا خلکو ته وواییې زه مو پیژنم نه او تاسې وایاست ته مو پاچا یې زه نه پوهیږم چې زه څنګه ستاسې پاچا یم هغو ورته وویل: کله چې زموږ د وطن پاچا مړ سې نو موږ دریمه ورځ دې غنډۍ ته راسو چې هر څوک دلته ناست وې بس هغه زموږ پاچا سې او موږ یې د ځانه سره بوزو، اوس هم نن دریمه ده چې زموږ مشر« پاچا» مړ دی نو نن راغلې یو چې ته

راسره ولاړ سې او زموږ پاچا سې دا خبرې چې محبت خان واوریدې لا ډېر حیران سو پدا خوب کې دا فکر کاوه چې شاید دا به ته خوب وینې، اخیر ده ورته وویل چې زه پاچاهي نسم کولای زه په لږ خبره خفه کیږم او په لږه خبره خوشحالیږم تاسې ولاړ سې داسې څوک پیدا کړئ چې د ده په پاچهۍ کې د ورځې پنځوس پنځوس کسان وژل کیږې او د ده ګرسره هیڅ فکر نه په خراپیږې بلکې د خلکو وژل به د ځان ګټه بولي او د خپلې پاچاهۍ بقا به یې بولي، زه د پاچهۍ نه یم، مګر راغلو

(شپږم څپرکی:محبت څنګه پاچاسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو دا اسرار کاوه چي نه ته زموږ پاچا يې ځان به نه را څخه خلاصوې، او د خبرو څخه يې داسي معلوميده چي که په رضا نه راسره ځي په زوره دې بيايو، ګوډ سپی هم د محبت تر څنګ داسي دوګامه ولاړ ؤ صرف يې قوماندي ته انتظار کاوه.

«اخير دی خبره ورسره ومني او ورسره روان سي هلته په رسيد يو محل د ده د کور لپاره ټاکلی وي غوټۍ هلته ولاړه سي او تر څنګ يې بل محل وي چي پاچا پکي کښيني، اوس هلته ډير خلک راټول سوي وي څو نفره د محبت خان پر سر د پاچاهۍ خول (يوه خاصه خولۍ) ور په سر کړي اوټول حاضرين مبارکي ورته ووايي، يو څه عسکر يې سلامي وکړي، محبت خان نه پوهيږي چي دا خوب دی که حقيقت خو دی دا خوبويني، اوس يو نفر چي دوی يې بيانګر(وياند ) بولي و پاچا محترم ته د ده کابينه يا وزيران ور معريفي کوي دا نو يوه داسي څونفريزه ډله عليده ناسته ده جګي خولۍ يې پر سر دي ملاوې ټينګي تړلي دي ته چي وا اشر ته ځي، محبت خان ته هم دا هر څه عجبه ښکاري، د وزارتو لپاره هم دوی خپله خلک ټاکلي دي، بيانګر اوس يو نفر راولاړوي او د پاچا څخه يې د وزارت لپاره تا ئيد غواړي، يو نفر يې د راولاړولو سره داسې معريفي کړی:

دا سړی په هيڅ نه پوهيږي او نه يې پخوا کومه سرمايه درلوده خو اوس خورا معتبر شخصيت دی، دی به وي د پلو اوسړکانو د خرابولو وزير،

پاچا صاحب وويل: دا څنګه وزير دی چي يوار په هيڅ نه پوهيږي او بيا د پلو او سړکانو د نړيدو يا خراپيدو کار په لاس ورکوی دا عجبه نده ؟

زموږ په وطن کي خو د بيا روغونې يا د تعميراتو وزارت ؤ چي دغه لارې او سړکونه به يې جوړول، دا تاسي بيا څنګه نوم پر اېښی دی ؟

بيانګر وويل: پاچا صاحب محترم موږ بيخي برابر او سم نوم پر اېښی دی ستاسي نوم نه دی برابر که ته فکر وکړي چي ستاسي د تعميراتو يا بيا روغونې د وزير په دور کي به چيري جوړ سړک وي، بلکې نه به وي، نو دغه د لارو د خرابولو د وزير نوم ډير ور ته په زړه پورې اوبرابر نوم نه دی؟ محبت خان ((يعني د خوب پاچا )) هم د قناعت لپاره سر وښوراوه او دا وزير يې د خپل وزارت لپار ومانه، بيانګر صاحب بيا بل نفر را ولاړ کړی او داسي معريفي کړی: دا تاج ګل لالا نو ميږې پخوا يې د کلي دوکانداري کړيده ګوره، پلي، ګلتان، وچه ډوډۍ دا هر څه ده رانيولي او خرڅ کړي دي نو د کار زياته تجربه لري دغه جناب (تاج ګل لالا ) موږ د تجارت لپاره غوره کړی دی، باچا صاحب ښه په غور ورته وکتل چي دا خو هغه زموږ دکلي دوکاندار دی او دلته د تجارت وزير جوړيږي دې سرچپه کيسي ته ډير حيران تللی دی د لږ خاموشي وروسته يې تاج ګل لالا ته وويل دغه د تجارت وزارت دې خوښ دی که نه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاج ګل لالا وویل: پاچا صاحب که ستا امر چلیږي نو زه خو په کلي کي لا په خرڅولو او رانیولو ستړی وم ګرده ورځ به دکلي کوچنیان راباندي را ټول وو او یوه به مي نه دوې کیدی، اوس که ستا خوښه وي د خزانې وزارت په لاس راکړه چي یو څه په لاس راسي پاچا هم د ناستو خلکو په خوښه دی د خزانې وزیر کړی ویل ښه دي پرده خوارکي هم ډیرې غریبي تیري سوي دي ګوندي ناره یې خدای (ج) واوري او یو څه په لاس ورسي یو بل وزیر یې څه دا رنګه ورته معریفي کړی:دغه نفر چي پلار یې پخوا د پسو په ګنج کي بزازي ( یعني د پسو د رانیولو او خرڅولو کار کاوه) کول او اوس د ځمکو او جایدادو خاوندان دي، او پخپله جناب« معریفي سوی وزیر» د قانون زده کړه کړیده او بیداره انسان دی، دغه جناب د سرکاري ځمکو د غصب (قبضه) کولو د وزارت امیدوار بلل سوی دی، محبت خان (په خوب کي پاچا )پوښتنه وکړه دا بیا څنګه وزیر او وزارت دي چي سرکاري ځمکي به غصب (قبضه) کوي بیانګر صاحب (ویاند /ترجمان د شاهي محل) وویل: هو دغه جناب خو د قانون زده کړه ددې لپاره کړیده چي دی وکولای سي په ډیره اساني سره سرکاري جایدادونه پر خپل نامه راواړوي ځکه چي ده ته د قانون لاري معلومي دي، چاته چي قانون نه یې معلوم هغه خو دغه کار نسي کولای هغه به د تل لپاره د سړک پر غاړه پیاز او پټاټې خرڅوي !

پاچا صاحب ته خبره معقوله ښکاره سوه نور یې څه ونه ویل او دا ښاغلی وزیر یې ومانه (تائید کړي) ، بل نفر د پاچا مخ ته راولاړ کړل سو او داسي وروپیژندل سو: داکس بیا یو کلیوال څوک دی خورا ښه تجربه لري ډیر وخت د حکومت سره په رابطه کي ؤ، خورا ښه خدمتونه یې دوخت د حکومت لپاره کړیدي ده ته اوس د حالاتو د خرابولو وزارت ورسپارل کیږي ولې چي دی د دې کار ښه تجربه لري، پاچا (محبت خان) وار په وار و دې خپله پاچاهۍ او دغه وزیرانو او وزارتو ته حیرانیږي نه پوهیږي چي دا اوس دی خوبویني اوکه دا خلک لیونیان سویدي.

هغه د شاهي محل بیانګر (ترجمان) د پاچا په حیرانتیا پوه سو نو یې د دې وزارت ګټې یافایدې ورته بیان کړې، هو جناب والا د دې وزارت ګټې پدې کي دي چي کله کله په لوی لاس (قصدا )د ملک یوه برخه کي حالات خراب کړل سي، نو د هغه علاقې خلک بیا د حکومت څخه د ډیرو شیانو مطالبې نسي کولای، صرف دا غواړي چي ورځ یا شپه یې په خیر تیره سي، او یوائې د ملک و سردارانو ته اساني او اسانتیاوې ورپاته وي او دوی ورکي د مزو او خوند ژوند وکړي، او بس ، نو دغه ښاغلی د دغه وزارت لپاره ښه موزون (برابر) شخصیت دی ځکه چي دی پدې رشته (مسلک) کي اوږده تجربه لري او دجناب وزیر صاحب بیا پدغه وزارت کي دا ګټه ده چي کله یې په یوه علاقه کي حالات خراب کړه مثلا د ده د روزل سوو خلکو په ذریعه بازارونه و سوځل سي یا بي ګنا خلک ووژل سي، نو بیا دی سیمې ته د خواخوږې او همدردي لپاره ورسي او د هغه خلکو سره د مرستې یا کومکو اعلان وکړي او څو نورې غټې خبرې هم وکړ ي، او پر راټول سوي خلک د ده د زنده باد ناره وهي، او خورا ورڅخه خوشحاله سي، کله چي دغه خلکو ته مرستې ورلیږل کیږي نو د جناب وزیر صاحب هم لاس ورکي خلاص وي او ډیره فایده یې ده ته هم ورسیږي، پاچا صاحب د خپلې مجبورې او کم اختیاري له وجې دې خبرې ته هم د قناعت سر وښوراوه او دا وزیر هم د خپل وزارت لپاره په درنو چک چکو ومنل سو اوس یو بل نفر د خبرو د وزارت لپاره را

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړ سو، پاچا صاحب پوښتنه وکړه: دا وزارت د څه شي لپاره وي ؟ بیانګر وویل: جناب والا دا وزارت یوائي او یوائي د تشو خبرو لپاره وي او په عمل کي هیڅ هم نه وي.

پاچا وویل: که زه سم پوه سوی یم دا به خلک یا ؤ لس غولوي، (خطاباسي )همداسي ده، بیانګر وویل: هو همداسي ده دنښي مینځ دې وویشتی، وروسته یو څو ښه شریفه کسان دنورو وزارتو لپاره وټاکل سوه یوائي دکورنیو چارو او دفاع وزارت پاته سو، دغه وخت محبت خان (په خوب کي پاچا ) وویل:

ددې دواړو وزارتو لپاره زه یو څوک ټاکم اودادی زما ګوډ سپی، چي ډیر کمالات لري اول دا چي دی خائن ندی او نه خیانت خوښوي بل په خپله علاقه کي پردي پرانګان یامرداره خواره هم نه پرېږدي او نه وپردیو ته وفاداري لري، د دې خوبیو په بیانولو سره یې هیچا هم مخالفت ونکړ او دا دوه وزارتونه ده ته وسپارل سوه، خو پاچا محبت خان دا فکر کوي چي زه څنګه پاچا سوم او دا څنګه خلک دي عجبه وزارتونه دي او عجبه وزیرانو ته وسپارل سوه، خدای پاک دې خیر ورپیښوي چي اخیر به یې څنګه وي بس دخوب کار دی او دی پدا خوب کي پاچا وي (محبت خان) خو دافکر ورسره وي چي دغه دپوځ مشر ته دې دیلي وای چي لږ یې دغه وزیران او وزارتونه ورسم کړه ځکه چي پوځیان او دپوځ مشر یې خورا ښه معلومیدي، بس پدا خوب کي داسي وي لکه یوه شپه چي تیره سي پدا سهار دملک خلکو خورا جشن جوړ کړی وي چي هو زموږ د ملک کابینه او وزیران خو په خیر وټاکل سوه اوس به نو زموږ خلک او ملک ښه د ترقي او پر مختګ په لور روان سي دغه جشن ته پاچا صاحب (محبت خان) او دملک ټول وزیران راغلي وي، پدغه حال کي یو څوک پاچا صاحب ته ووایي په کلی کي چي نوم یې لوړ کلی دی هلته تیره شپه اور لګیدلی وو، ددې خبري سره محبت خان (په خوب کي پاچا ) ناري کړي چي وې دا خو زموږ کلی دی په زوره زوره ناري وهي چي هلې هغه د دفاع وزیر (ګوډ سپی) څه سو پدغه نارو کي محبت خان د خوبه را ویښ سي او دغه ناري وهي چي هغه زما د دفاع وزیر څه سو، لا خو د خوبه دی او د ځایه ولاړ سویدی او دکوټې ددروازې لور ته روان دی چي یوسف خان تر لاس ونیوی، او ورته ویل یې چیري وه ستا پاچهي چي د دفاع د وزیر ناري وهې بیا څه درپیښه سوه خوب دې لیدی که څه چي لیونی لیونی کیږې؟

د دې خبرو سره محبت خان پوه سو چي هسي خوب مې لکه چي لیدی که څه، شاوخوا یې وکتل نه پاچهي وه نه هغه وزیران، بس یو خوب ؤ خیال ؤ ښه ورمعلومه سوه چي په خپل کور کي دی، کلیمه یې وویل یوسف خان اوبه ورکړې چي وڅښیي، لږ وخت لا نور تیر سو د سهار رڼا هر لور ته خپره سوه یوسف د سهار د لمانځه او اوداسه ورته وویل او خپله یې هم دا بندبست وکړ ی ،اراده یې وه چي یو څه وختي هغه د برایي د اور د لګیدو ځای ته ورسي چي څومره تاوان پیښ سوی دی هغه ؤ یوسف خان د اور ځای ته تر لمانځه وروسته ولاړی او بیا د تاج ګل لالا پر دوکان یې و خلکو ته د دغه پیښي حال ووایه چي د زقوم ژرنده یو پردی ټکتړ څو ګونې غنم او څو پسونه پدغه اور کي سوځیدلي ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت خان هم اودس او لمونځ ادا کړی، خو د برابي په حالاتو کي ډير فکر بند ؤ يوار به يې دغه واقعه راواخيستل چي دی برابي ماخستن د غوټې خاصي باغچي ته ورغلی اوبيا په کلي کي اور ولګيدی او نصيب د مجلس نور نه ؤ پاته تقدير بله پاڼه (ورقه) واړول، ولې چي محبت خان د خسر په اشاره دوولس شپې مخکي هغه پوليس افسر اميد خان بوتلی کله چي په هغه شپه لنډک او ملګرو يې لار د محبت خان پلار انورخان ته نيولې وه خو هغه لنډک خپل پلار يعني د زقوم خان ورور او خوريې پدې اشتباه وويشتل چي دوی ګمان کاوه چي دغه راوان سپين موټر به د انورخان وي مګر تازي خپله هوسۍ (وسۍ) ښکار کړه

محبت خان دوولس شپې بعد انور خان را ايله کړی ولې چي انورخان هم مازې سړی نه ؤ د ډيرو زورورو خلکو سره يې شناخت ؤ، محبت خان دوولس شپې په بند کي تېرې کړې او نن يې اوله شپه وه چي کور ته راغلی ؤ.

تير ماخستن هم د غوټې له باغچي څخه تش لاس راغلی ، ولې چي د دغه ملاقات د قضاء کيدو لوی لامل (سبب) هغه دکلي په يوه څنډه کي د اور لګيدل وو ، ښه ناوخته چي محبت خان بيد يږي بيا دی يو ناولده (نابلده) خوب ويني او پدې خوب کي دی پاچا سي ، ((پدغه شپه يوسف خان د محبت خان نژدې ملګری او همزولی هم د دوی کره ميلمه ؤ)) نن سهار يې ډير فکر پدغه خوب کي بند وي چي داڅنګه زه پاچا سوم لږ ساعت به يې لا دغه فکر نه ؤ کړی بيا به يې ويل دغم پاچهي دې سي، خو هغه زموږ مجلس يې را خراب کړی هغه زه او غوټې چي د يوې ښائسته غونډۍ پر سر سره ناست ووڅو د ناز ګيلې مو لا نه وې سره کړې چي بيا دغه ليونيان «يعني هغه خلک» راغلل او ويل يې ته زموږ پاچا يې.

بيا به يې پر دغه خلکو هم زړه وسو چي دا څنګه خلک وو څنګه چپه او راسته وزيران او وزارتونه يې وو.

د سړکانو او پلونو د نړولو وزير، د حالاتو د خرابولو وزير د ځان سره به د دغه وزيرانو او وزارتو په نومو خندا ورغله، او بيا به هغه خپل ګوډ سپی په ياد ورغلی لا به په تعجب کي سو، چي هو دی خو ما دکورنيو چارو او د دفاع وزير وټاکه، بيا به وهغه خلکو ته حيران سو چي دوی خواران خو هم خوشحاله وو چي زموږ د ملک کابينه او وزيران خو وټاکل سوه ، پر دې به يې ډير فکر وکړ او پر دا خلکو به يې زړه وسو بيا به يې وويل چي ته وا دا خوب ؤ او که پيريانانو چيرته بيولی وې.

لږ خو به يې د پيريانانو خبره زړه ته ولويده چي کيدای سي دا به پيريانان وو ، ولې چي زموږ دکلي دوکاندار خو هم هلته ؤ، دی خو په کلي کي د پيريانانو خورا ډيري خبري کوي کله وايي ما سپيلنی راوړی دی کله وايي زه د پيريانانو د پاره سپيلنی دودوم، ده لا دغه فکرونه وهل چي د کوره څخه يو کشر د خاله زوی يې د سهار چای را وړی لمر هم تر غره راپورته سوی ؤ، چي يوسف خان هم راورسيدی هغه هم موقع غنيمت وبلل ولې چي مشران دلته نه وو راغلي پر محبت خان يې د مسخرې په ډول ږغ کړه چيري دی هغه د دفاع وزير دې، محبت خان پوه سو چي زوروره

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمله یې دربانده وکړه دلته دوه درې همزولي نور هم ورسره ناست وو، نو ځکه په نرمه خندا ورته وویل ته راسه چای تیاري دی بیا به یې در وښه یم «تر څو نوره رسوائي جوړه نسي مطلب یې دا ؤ»

اوس لا بیغمي ده نور څوک ندي راغلي بیا به وار نه در رسیږي، دلته یوسف خان لا بله خبره نه وه کړي چي اسد وویل څو نفره مشران راغلل هغه د مشرانو په کوټه کي دي ما هغوی ته هم چای ورووړی.

جان اخښي (اشاره د محبت پلار ته) راته وویل: چي بیا ده ته ووایه چي دې کوټې ته راسي دا مشران د مبارکي لپاره راغلي دي، پدغه وخت کي یوسف خان داسي په نزاکت ورته وکتل ګویا ورته وایي چي په شي نه یې خبر یواځي دې هغه خپل سبق په فکر کي ګرزي او بس.

محبت خان هم نه غوښتل چي ورسره مقابله وکړي، ولې چي یوسف خان هم د انډیوال په خیر ډیر ورباندې ګران ؤ، د ده په هر غم کي ډیر ورسره ژړلي وو، او په توره شپه به یې د ده څخه ځان نه سپماوه (نه دریغاوه) یواځي به یې د شفقت سترګي ور اړولې او دغه د میني دکتو سره به یې یو څه ورته ومسل (نرمه خندا یا د خندا شکل) او یوسف ته دا اشاره کول چي اوس نور څوک ناست دي کله چي سره یواځي سو بیا به دغه راز درته ووایم، دغه وخت د ده د خاله زوی بیا ورته وویل ستا لکه چي هیر سو جان اخښي (انورخان اکا) غوښتي !

محبت خان هم د چایو ګلاس پر مځکه کښیښاوه او یوسف ته یې هم وکتل تر څو دی هم ورسره ملګري وکړي، دواړه د مشرانو کوټې ته ورغلل د سلام ویلو وروسته یې د کلیوالو سره د لاس روغبړ وکړ، مګر محبت خان پدې وخت کي دوه د چایو ډک ګیلاسونه چپه کړل خو ښه وو څوک په ونه سوځیده، پلار یې منت پر وکړ: پښو ته ګوره ستا فکر چیري دی چي ګیلاسونه یو په بل پسي چپه کوې.

ریښتیا هم د ده فکر د برایې ماښام په لیدلي خوب کي ؤ، وروسته دواړه یوې خوا ته کښیناستل« اسد خان هم اوس دې کوټې ته راغلی ؤ ډیر خدمتي هلک دي بې له ځنډه د میلمنو چپه سوي ګیلاسونه بیرته د چایو ورډک کړه، په راغلو کلیوالو کي د تاج ګل لالا پلار نادر ماما هم راغلی ؤ، که له یوې خوا پخوانی سړی ؤ ساده مجلس یې کاوه د بلې خوا یې د سترګو دید هم داسې کم ؤ چي هسي به یې خپله لاره په وړه.

ده هم بې واره لاس هسي یوې خوا ته ونیوی او انور خان اکا ته یې پخپل ساده انداز داسي وویل: ښه نو دا هلکوان یې دواړه بندیان کړي وو ؟

دا خبره نادر ماما په داسې حال کي وکړه چي لاس یې نورو خلکو ته نیولی ؤ، انور خان اکا ورته وویل: نادر ماما تا لاس شاولي او مراد ته نیولی دی دوی لږ ها خوا ته ناست دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نادر ماما وویل: کاکا زه خو سم څوک نسم لیدلای ما چي ویل دغه دي، انورخان اکا دا هم ورته وویل دواړه نه وو بندیان دغه یو هلک بندي ؤ.

نادر ماما وویل: ولي اوس زموږ سره دوو کسو روغبړ نه وکی ؟

انورخان اکا وویل: هو دوؤ نفرو روغبړ وکی دا دوهم هلک د شادولا اخښي زوی دی، هغه نه ؤ بندي.

نادرماما وویل: توبه توبه ! ماغزه مو کار نکوي ما چي ویل دواړه بندیان وو، ښه دي خدای پاک; دې در وساتي، شپه راځي خو خوشحالي نه راځي !

یو بل کلیوال چي د چایو ګیلاس یې په لاس کي ؤ او د خبرو کولو وار ته یې کتل داسي محبت خان ته وویل: څو شپې دې هلته تیرې کړي ؟ محبت خان اوس هم د برابي په خوب کي غرق ؤ هسي ناپامه یې داسي ځواب ورکړی: زما په خیال یوه شپه وه داسي ناولده (نابلده) ځای ؤ او هغه خلک یې هم داسي ناولده (نابلده) ؤ مانه پیژندل یو تاج ګل لالا هم پکښي ؤ.

«محبت خان چي مجلس داسې سرچپه شروع کړی یوسف خان یې لاس په لاس کښیکښی تر څو یو څه په هوش کي سي، ناست خلک هم حیران سوه چي دا خو موږ د ډیرو شپو د بندي کیدو اوریدلي وو او دی وایي یوه شپه وه، او بیاتاج ګل لالا نو کله هلته ؤ هغه خوهره ورځ پر دوکان وي، دا خبري هیڅ سر نه سره خوري، نادر ماما یې هم داسي هیښ کړ چي دا تاج ګل خو به تازه چا نه یې بندي کړی، دا هلک څنګه پرته (چپه) ږغیږي، خو دا هر څه حیرانتیا د یوسف خان په خبرو سره یو څه کمه سوه هغه وویل:

برابي د ده یو څه لکه چي تبه وه مانښام هم دخوبه چپه چپه ږغیدی بس هغه دتبې اثر دی، دی چي وایي نن دې پر کور څوومه شپه ده داسي پوښتنه چا راڅخه وکړه، یو څه مریض(ناروغه) دی.

انورخان اکا هم بې له دې چي خبره دې نوره ځنډ پیدا کړي د محبت خان ماما شاولي ته یې وویل: شاولي اخښي ! نن خو ما ستا لپاره یو کار په نیت کي ؤ خو اوس لکه چي دوه کارونه سوه ، شاولي هم د ده خبرو ته متوجه ؤ، انورخان اکا وویل:

اول خو به په هغو ولاړو پسو کي یو حلال کړي نور کار به یې سمندر او هغه نورو هلکوانو ته ور پریږدي، ته به دې خوریي (محبت خان) هغه د بازار ډاکتر ته وروليږ نور که د کور څه ترخه یا خواږه( دکور سودا )پکار وه هغه به هم له بازاره درسره راواخلي چي مانښام به دکلي خلک زموږ کره میلمانه وي، شاولي ماما چي خبره شروع کول یوار یې خوریي (محبت) او بیا یې د چا یو ګیلاس ته وکتل او دا سي وویل: سمه ده اخښي ! بس دغه نیم ګیلاس چای به لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړم نو به زه هم لاس په کار سم، نادر ماما ته هم د خبرې وار ورسیدی، او داسي پوښتنه یې وکړه: انور خان لالا دغه هلک ته دې واده کړی دی که نه ؟

انور اکا هم خبره په ډیر چورت وکړه یا نادرماما نه مي دی ورکړی ور وه به یې کړم «نادر ماما د تاج گل لالا پلار، او ډیر ساده مجلس به یې کاوه کله کله خو به یې خبره هم ژر له یاده وتل(هیریدل)»

خو د نادر ماما مطلب نه ؤ پوره سوی او پاته خبره یې داسي وکړه: انورخان لالا که زما په خوله کوې بس دغه غم یې ژر خوره کني تر دغه به ډیر لیونی سي، هغه څه زمانه مخکي هم زموږ د کلي یو هلک لیونی سوی ؤ که دغسي دکوره ورک سو خو چي زه په هغه هلک خبر سوم خلکو ویل پلار واده نه ورکوي، نو که زما مني دغه فرض یې ور ادا کړه وایم که یې دغه مرض ؤ رک روغ به سي، وایم بیا به یې په سر کي لا نسي درد ،« همدغه محبت ؤ خو نادر ماما یې د خپلي سیپن ږیرتیا ، ساده گي اوهیرې له کبله نسي پرله برابرولای » د نادر ماما د دې خبرو سره انورخان اکا او ناستو خلکو یو څه ومسل(د نرمې خندا شکل) یوسف خان هم و محبت یوه پټه نوکاره ورولگول، یو څه یې په ځنگ وواهه چي نادر ماما خو دې هم په مرض پوه دی ، موږ خو یې ساده بولو خو ده د ښې مینځ وویشت.

مخکي تر دې چي بله خبره دې ځوک وکړي شاولي ماما یوسف ته اشاره وکړه چي محبت خان درسره را ولاړ کړه، او دوی پخپل کار پسي ولاړل، پدغه حال کي انورخان اکا اسد خان ته وویل: هلکه د نادر ماما گیلاس ورډک کړه، نادرماما هم وویل: وایم پدا ډیره موده مي داسي ښې چای نه وې کړې نه مي دغسي خوند پر اخستی ؤ، یو څه موده مخکي د هغه نورو خوریانو کره تللی وم د هغو شلومبې هم دغسي خوندوري وې !

لکه دغه ستا دکور چایې ته یې راتوی کړه پر ځواني دي برکت سه !

د نادر ماما د ساده خبرو سره کلیوال عادت وو ډیر بد یې نه په ورل بلکه لا به یې ساعت وربانديې تیریدی، د نورو خبرو وار لا نه ؤ راغلی، چي کوټې ته یوه ډله نور کلیوال راغلل دکلي ملا صاحب او تاج گل لالا هم پکښې وو روغبړ وسو هر ځوک یو ځای کښیناستل دکلي امام او نورو خلکو انورخان اکا ته د محبت خان د را ایله کیدو مبارکي وویل چي په ځواب کي انور خان اکا دوی ته خیر یوسي او دکور وداني کلیمې وویلې، د دوی تر مینځ کلیوالي مجلس شروع سو یوار به یې د برایې د اورلگیدو پر پیښه خبرې روانې وې، او بیا به چاوچا ملا صاحب ته د ده د نن جذباتي وینا(تقریر) ستاینه وکړه ویل به یې وایم ملا صاحب نن د ظالمانو خلاف ډیر ښه وږغیدې او د دوی خلاف دې سختې خبرې وکړې وایمه شاباس !

ملاصاحب هم ددې خبرو لمن ورسره اوږده کړه او د خپلي وینا په رڼا کي داسې وویل: هو باید د ظالم مخنیوی وسي، که چیرې دغسي ورته کښینو ،نو خو ظالمان به زموږ په کلو او کوروراننوزي دا څه حال دی چي نن هیڅوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر خپل کور په امن ندي، داخو هر څه ددې کليوالو دبې اتفاقي له لاسه دي چي يو وايي زه يې څه کوم او هغه بل وايي زما يې په څه !

د ملا صاحب خبرو ته کليوالو د قناعت سر ښوراوه، چي ريښتيا هم موږ ملامت يو، چي يو د بل خبرې ته مو غوږ نه نيوه د هر چا پر خپل سر زور ؤ نن يې نو انجام دا سو چي کله د انورخان باغ څوک ځيني لاندې (قبضه) کوي او کله يې لنګه غوا غلا کيږي.

شاولي ماما هم پسه دکوټې د حويلي په يوه څنډه کي حلال کړی نور کار يې سمندر لالا اونورو کشرانو ته ور وسپاره تر څو دی محبت خان ډاکتر ته بوزي په اول کي محبت خان هم دې ته تيار نه ؤ چي ډاکټر ته ولاړ سي مګر يوسف خان چي مجبوره کړی بيا يې نو انکار نسو کولای، يوسف دا هم په پټه ورته وويل چي که دې د مکتب (سکول) خيال وي چي زه به هلته ولاړ سم څوک يا څوک (غوټې) به ووينم دا خيال دې د فکره وباسه ولي چي نن د رخصتي ورځ ده هغه ستا وزير دفاع (ګوډ سپی) لانه معلوميږي نن رخصتي ده بس ولاړ به سو تر ډاکټره نوري خبري به بيا بل وخت ګورو.

محبت خان ته نور د ويلو څه نه ؤ ورپاته او ډاکتر ته سره رهي سوه، په اول سر کي لا د شاولي ماما دا خيال ؤ چي کار و ځان ته څه اسانه کړي، غوښتل يې چي دغه د دوی دکلي ډاکټر ته يې ورولي يا يې هغه بل ډاکټر فدا چي اوس په ډاکټر پيدا مشهوره سوی ؤ ورولي خو هغه يوسف ورته وويل:

شاولي ماما ته عجيبه سړی يې ! ولې هير دې سو هغه تيمور اکا چي ويل چي هغه د بازار يا د ښار يوه ډاکټران وايي چي تاسې کليوال د هر چا څخه دوا اخلی او هغه ډاکټران بولی نو ځکه مو علاج نه کيږي، دا يې لاڅه دغه زموږ د کلي ډاکټر خو تر وخت تيرې دواوې (درمل) خرڅه وي، او بل انسانانو او حيوانانو ته کله کله يو رنګه ستني(اينجکشن) ورلګوي، ولې هغه ستا وراره دي هېر سو لونګ مسکين در ښه يم هغه مار وخواړی خو زموږ دکلي ډاکټر صاحب د زکام ستني ورلګولې، هغه ؤ چي لونګ مسکين هغه ګړی مړ سو او تيمور اکا ورته وويل دغه ستن خو دې هغه بله ورځ ما ته د غوا لپاره هم راکړه.

خو شاولي ماما د يوسف خبرې ته دا رنګه ځواب ورکړی هغه خوزموږ د کلي ډاکټر وويل دا ستني ډيرې پخوانۍ دي اوس نه پيدا کيږي، شاولي ماما وويل ولې پخواني شيان تر دا نورو ښه نه دي ؟

يوسف پر وخندل: ياره شاولي ماما څه درته ووايم نو ر يا ځيني شيان به پخواني ښه وي خو هر شی پخواني ښه نه وي ، بيا نو دوا او درمل دا خو چي تر وخت تېر سي بيا دګټې پر ځای زيان (تاوان) لري، شاولي ماما ته نور ځواب نه ؤ ورپاته نو يې داسي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاره یوسف جانه ! تاسي چي سبکونه (سبقونه) وويل اوس څه نه درسره ويل کيږي، پخوا به زموږ کليوالو توره اريږه(توره ؤڅکی) ژړه اريږه، خاکشيريا بارتنګ وخوږل جوړ، روغ به سو بيا به يې په سر کي لا نه ؤ درد، ته اوس راسه وايم د دوؤ شپو کوچنی به يې ډاکټر ته ور اخيستی وي او له ها خوا به، هغه د چا خبره يوه پلنډه دغه د ترخو اوبو ډک (شربتو) بوتلان ورکړي وي، دا يې لا څه يو څه زمانه مخکي ښار ته تللی وم يو سړی مي وليدی هغه بل ته يې ويل دا غوا دي چيري بيايې ؟

هغه ورته وويل: ډاکټر ته يې بيايم داسي توبې مي وکښلې، بيا چي يوائي سولم دونه (دومره) مي پر وخندل چي توبه ما ويل ته غوا وګوره او ډاکټر وايم غوا به څنګه د ډاکټر په دوکان (ميډيکل) ور ننباسي د هغوخو داسې تنګې تنګې دروازي وي، يوسف او محبت خان ته د شا ولي ماما پر ساده مجلس خندا ورغله، دوی اوس د سړک يوې دوه لاري (هغه دوې لارې چي سره يوځای کيږي)ته را رسيدلي وو، د هغه بل کلي څخه د راتلونکي موټر انتظار يې کاوه تر څو د ډاکټر تر ځايه يو څه ور نژدې کړي، موټر هم ډير لري نه ؤ راورسيدی، اوس دوی په موټر کي هغي خوا ته روان دي، يوسف خان ورته وويل شاولي ماما ته عجبه ښه سړی يې غوا يا بل هر حيوان خو هم دغسي بدن او وينه لري لکه انسانا ن دوی هم ناجوړه کيږي، شاولي ماما يې خبره ونيول نو دغه په دوکان (دواخانه)يې څنګه ورننباسي يوسف خان وويل ته لکه چي دغه د انسانانود ډاکټرا او دواځای يعني دواخانه يادوي؟

شاولي ماما وويل هو ،هو ،

دغه يادوم، يوسف په خندا ورته وويل: يا شاولي ماما د غواؤ يا د حيوانانو ځای جلا وي هغه داسې غټ ځای وي لکه يو غټ سرای شاوخوا يې نورې کوټې وي په هغه کي د حيواناتو ډاکټران ناست وي، بيا ډاکټر باندې راوزي او هغه ناجوړه (ناروغه)حيوان وګوري دې ته د حيواناتو روغتون (هسپتال) وايې، هغه د انسانانو دواخانی ته يې نه ورولي، شاولي ماماوويل:

اوس دې يوڅه سرپه راخلاص کړی ما چي ويل دغه د انسانانو د ډاکټرځای ته يې ورولي سړيه څنګه به يې په دا ځينو کي ور خيژوي بيا نو هغه دروازه خو يې د نازکوهنداروي هغه خو به دستي ورماته کړي، زه يې و دغه نکل ته حيران وم، زه نو نه وم خبر چي د غوا طبيبان بيا په بل سرای کې(هغه روغتون کې) ناست دي.

د يوسف او شاولي ماما مجلس لا جاري ؤ خو محبت خان به تر ډيره خپل فکر واهه او هغه دبرايي په خوب او پاچهي کې به يې چورت بند ؤ، يوسف خان او شاولي ماما هم تر ډيره حده غرض نه ورسره کاوه پدغه لږ وخت کې هغه موټر وان (ډريور) لا د شاولي ماما څخه دا پوښتنه وکړه چي چيرې ځی، شاولي ماما داسې ورته وويل: هغه د ليونيانو ډاکټر ته ځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موټر وان وويل: تاسې خو ټول سم معلوميږی نو د ليونيانو ډاکټر څه په کوی شاولي ماما يې داسي ځواب وکړی وروره موږ هم ولا که يو سم يو مګر اصلي دغه هلک ((اشاره محبت خان ته ))ورولو سم ندی کله کله بې ځايه رږغيږي، دلته يوسف خان موټر وان ته وويل: د صحرا خلک يې د ليونيانو ډاکټر بولي د بازار خلک يې نفسيات پوه ډاکټر بولي هغه ته ورځو شاولي ماما خو دکلي سړی دی ساده مجلس کوي چي خوا دې بده نسي، موټر وان اوس په يوه کوڅه باندې موټر وګرزاوه يوسف ورته وويل: وروره موږ دلته کښته کيږو دا لار د ډاکټر ځای ته لنډه ده موټر وان هم موټر د لاري و يوې څنډې ته کړی دوی د موټر څخه کښته سول او د موټر وان سره يې حساب خلاص کړی، اوس د يوسف په لارښونه دوی د يوه ډاکټر خوا ته روان دي، شاولي ماما چي هسې د هندارو دوکان يا دواخانه ووينې، وايې دغه ښه دوکان دی دغه ځای ته به يې ورولو خو

(اووم څپرکی:اسان ولی ليوني سي؟)

يوسف به يې خبره ورپرې کړه يا ماما دا هسې دواخانه (درملتون) ده يا د بل شي دفتر دی دلته ډاکټر نسته، ته راځه هغه ځای ما ته معلوم دی، خو شاولي ماما چي دبازار سره ښه ولد (بلد ) ندی و هر شي ته حيران حيران ګوري يوار دوه خو لا يوسف ته داسې هم وويل: هلکه په دا جيبو به پام کوو وايې دلته په بازار کې دغه د جيبو غله (کيسه بر) هم ډير وي داسې نه چي يو شی را څخه غلا کړي، دوی يو څه مزل کړی دی يوسف داسې روان دی لکه شاولي ماما چي سم ورسره روان وي خو چي پام يې سو محبت خان لکه سايه ورسره روان دي خو د شاولي ماما درک نسته ودريدی تر شا يې وکتل د محبت خان څخه يې پوښتنه وکړه هغه هم لکه بيده په خبر نه ؤ، چي ماما پر کوم ځای ورڅخه بيل سو اخير پر شا راوګرزيدل داسې يو کج ګر چي راغله ګوري چي شاولي ماما د ټانګې پر آس ګرزي او بيا د ټانګې د خاوند سره وږغيږي، يوسف ورته را روان دی دا فکر کوي لکه چي دغه ټانګې والا يې شناخته دی که څه ؟

نژدې ورته راورسيدل خبرې اوس اوري داسې معلوميده لکه د آس سودا چي ورسره کوي.

يوسف ورته وويل: ماما موږ تر هغه ځايه ورسيدو چي وموکتل ته نه وي خو ږغ به دې کاوه، بيا موږ په څه شي پسې راروان وو او ته څه کوې !

شاولي ماما وويل: يوسف جانه دغه آس چي مې وليدی داسې مې خوښ سو چي څه درته ووايم هغه دچا خبره وايم هر څه يې راسه هير کړه بيخي هغه د خان اکا اس ته ورته ؤ، سرپه که دې ځيني رانيوی دا يې ته هم خان، نو خاني نور څه غواړې آس خو به ورته برابر کړې، يوسف حيران ؤ په خندا يې ورته وويل: دا خو په نغدو پيسو دی نو ته دونه (دومره ) پيسي لرې يا درسره سته که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټانګې خاوند دې مجلس ته غوږ نیولی دی چې شاید د صحرا سړی دی په ډېرو پیسو به آس د ځخه را نیسي ښه ورته خوشحاله دی.

شاولي ماما وویل: یوسف جانه دغه کاکا(د آس خاوند ) ښه سړی را ته معلوم سو سړیه سودا به ورسره وکړې هلته ما په کلي کې یو څه پچي ټولي کړې دي بس پدغه پچو به سودا راسره وکړي یو څه پروړ که یې غوښتی هغه به هم ورکړم، دا یې سودا سوې، ددې خوا به موږ هم سپاره پر ولاړ سو نور نو څه غواړې !

دا د پچو خبره پر ټانګې والا بیخي بده ولګېده، خو شاولي ماما لا پر آس کښېنته پورته ګرزي، پدغه حال کې د آس یو دکیزې تناو(پاړه )هم وشکوله چې دې کار بیا د آس پر مالک خورا بد اثر وکړی ټانګې والا په ډېر خښم ورته وویل: ځه ولاړ سه ولې مې په عذابوې !

شاولي ماماوویل: ولې خو ته به یې هم خرڅوې نو بیا خوشکه ولې کوې؟

ټانګې والاوویل: ځه وروره ولاړ سه زه دې د خوارۍ وایستم اوس به مې یو سپاري کې وړی، ولې مې په عذابوې دا ما په شنو لوټو(نوټو ) را نیولی دی ته یې په پچو را سه رانیسې، ماغزه دې خراب دې که څه؟

«خوخبره وار په وار د ټانګې والا او شاولي ماما تر مینځ خرابېده » آس هم غوږونه شک نیولي دي د شاولي ماما څخه یو څه توربدلی ښکاري د بلې خوا یې یوه کیزه هم وشکېده او دا خطرناک مجلس خو وار په وار یاغي کاوه، یوسف خان او محبت یوار ټانګې والا ته وایي وروره پرېږده دصحرا سړی دی دکیزې تاوان به دې درکړو، بیا شاولي ماما پورې وهي او ورته وایي شاولي ماماپرې یه ږده خپل آس یې دی نو چې په پچو یې نه درباندې خرڅوي نو په زور خو به یې نه ځیني اخلې.

«خو بس دغه مکوه، ایله شروع ده خبره سمې خواته نه تله، وار په وار حالات خرابېدل»

شاولي ماما ورته وویل: ورور خوشکه ولې کوې پر تا که آس ګران دی پرما خپلي پچي ګراني دي، ولې خلک یې پر اور ډوډۍ نه پخوي، چې نه یې خرڅوې په سمه ووایه چې نه یې خرڅوم.

ټانګې والا په بګۍ کې ناست دی، خو شاولي ماما لاندې پېشرو ورته وهي، یوه دوې خبري لا نوري نه وې سره اړولې چې ټانګې والا داسي عصباني سو، تا چې ویل پېر انانو ونیوی داسي بې اختیاره یې هغه د آس غمچینه وه که لښته و شاولي ماما ته یې ونیول، خو چې دوې، درې به یې شاولي ماما واهه دی هم ورته په جذبه کې سو، صحرائي سړی ؤ په زور ښه زورور ؤ دغسي ټانګې والا تر دا یوه لاس و نیوه لاندې را ایله کړی پدغه حال کې آس تور واخیست تر یوه ځایه یې ټانګې والا هم ورسره کش کړی، په هغه پایدام کې لکه چې د ټانګې والا کالي بند وو، د بلې خوا شاولي ماما سوکان ورته نیولي وو، خو پر ټانګې والا خورا قیامت جوړ ؤ تر څو چې خلک سره را رسېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دواړو سرونه په وینو رنګ ؤ ، مګر ټانګې والا تر شاولي ماما ډېر خوږ ؤ یوار د ټانګې سه را ایله سو بیا چې آس تور واخیست بیا یې تر یوه ځایه ورسره کش کړی هغه د شاولي ماما د سوکانو وارونه خو لا څه کوې، دلته دغه ټانګې والا هم اکثره وخت ټانګه یوا ځې یا جلا درول تر څو یو سپاري ځانله پیدا کړي بل داسې خوشک ؤ چې د هغه نورو ټانګو والو سره یې هیڅ ګذازه نه کیدل، خو دا چې آس یې تور واخیست او شاولي ماما ښه وډباوه د ده ملګرو ته ښه خوند ورکړی نو ځکه یې د ده په خلاصېدو کې ژر هڅه ونکړه د بازار ناولده(نابلده ) خلکو سره جلا کړل یو یې یوې خواته کش کړی او بل یې بلې خوا ته بوتلی خو ټانګې والا د شاولي ماما د سوکانو څخه ډېر سدوبد(یوڅه بې حاله) دی.

یوار یوار لا په بې سدتیا کې دا هم وواییې ایله مې کړی زه آس په پچو نه خرڅوم، پر راګرزېدلي خلک یو یو پر وخاندې چې دا څه وایي، کله چې د خوشکیار اکا آس لیونتوب شروع کړی نو سمدستې د سړک پر آ بله غاړه د دوو بګیو د اسانو سره په جګړه بوخت سو هغه یې هم په وینو ولړل ولې چې دی ډېر قوي یا زورور ؤ ، د شاولي ماما خو ناحقه نه ؤ خوښ سوی چې نه تر تېرېدی کله چې دغه آس پر هغه نورو اسانو یو ناڅاپه حمله وکړه هغه یې د ځان په ځیر(رنګه ) لیوني کړه اوس نو درې سره اسان د ورپورې تړلو بګیو سره د بازار پر یوه سړک ولاړ سي او پر دا بل سړک را وګرزي هیڅ شی یې مخه نسي راګرزولای تژدې وو چې څوکسان دې وداړي، خو هسې به ورځیني خلاص سوه ، د بلې خو د بازار دوکانونه وار په وار پسې تړل کېدل ، په بازار کې خورا بده ورځ جوړه ده ولې چې د ټانګو اسانو خورا بد سر اخستی دی ، هغه دچا خبره ده یو قیامت جوړ دی میړه هغه دی چې ځان له مخه وباسي ځینو کسانو په ځانو پسې د دوکانو دروازې راوتړلې ځینې بیالوړو ځایو یا د دوکانو بامو ته وختل د هغه ځایه بازار ته ګوري ، چې لیوني اسان د ټانګو سره داسې ورکې ځغلي ته چې وایې د شاخیز(پریټ) ورځ ده یا د دوی سه ماسیوا بل څوک نسته یا لکه دا بازار چې د دوی دپلار وي.

له هرې خوا چې به د بازار په سړکانو راغلل داسې بې دسړک دغاړې دوکانداري سره کډې وډې کړې تا چې ویل سیلاب راغلی په پلیو ، شنو ، نخودو اونورو شیانو خو داسې بازار لړلی ؤ لکه باران چې سوی وي ، د پیازو او پټاټو پر رېړیو چې به ور برابر سول رېړۍ به یې داسې یو په بل کې سره وجنګولې لکه د تورې ګاډۍ (ریل ګاډي) ډبې چې سره وجنګیږي ، پیاز او پټاټې به هره خوا په ګیلیدو ول.

د دې بې حاله سوو اسانو به هم شاید په زړه کې دا درد ؤ چې دا انسانان زموږ سره څنګه ظلم کوي درانه مو باروي ورپسې مو په لښتو یا غمچینو وهي کیزې مو په زور داسې کشوي چې زموږ د ژبې اوخولې هیڅ خیال نه ساتي چې دا به هم خوږیږي ، دوی یوا ځې پدې ښه پوهیږي چې ډیرې پیسې وګټي او موږ درانه بار کړي زموږ تر بدنو به خولې بهیږي خو دغه انسانانو ته زموږ د ستړیا هیڅ احساس نه کیږي، موږ خو پخوا د یوه انسان د سپرتیا لپاره وو او موږ به یې هم ښه نازولو هغه وخت موږ هم خوشحاله وو ، نن څه کوې چې دې ظالمانو موږ تر دې درنو بارو لاندې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژونده بیزاره کړو ، شاید د دغه اسانو به دا هم خواهېش وو که یوه ورځ موږ ته واک په لاس راغلی او هغه ورځ به یې همدا نن بلل چې د بازار حکمراني نن د دوی په لاس کې وه او دبازار په سړکانو یې هر څه سره ګډ وډ کړه ، دوی به هم شاید پدې پوه ول چې حکمراني همدا سې کیږي چې هر څه دې ګډ وډ وي ، تر ټولو زیات تاوان یې د سړک د څنډو دوکانداریو او د پیازو او پټاټو ریړیو ته ورساوه ولې چې همیشه به د دوی د لاسه لاره بنده وه او دغه اسان به درانه بار را روان وو نو نن یې لکه چې یو څه کسات ځیني وا خیستی دغه اسانو دا سې نژدې فکر نه کاوه چې یو صحرائي سړی (شاولي ماما ) به بازار ته راځي او په یوه ورځ به د بازار حالات بدلیږي ، هلته به یې خاوند د هغه صحرائي سړي په سوکانو په وینو رنګ او بې سده کیږي او داسې انقلاب به جوړیږي چې واک او اختیار به د دوی لاس ته ورځي ، او دوی به د بازار په خلکو پسې ځغلي چې چا ظلم کړی دی چا لاره بنده کړېده او چا ګرانه سودا ورکول ، سر اخیستو اسانو لا خپل مست شاخیز د بازار په سړکانو کې کاوه هغه څه چې دوی کول هغه یې وکړل ، د بازار خلک یې د بندو دروازو او لوړو ځایو یا بامو څخه په بې وسي ننداره کوله.

د ډیرو خلکو پدې سر نه خلاصېدی چې ددې اسانو سره څه وسول چې داسې بې حاله سوه ، هسې خپل ځانو دلارې ایستلي ول ، هغه پیاز او پټاټې چې پر مځکه هوارې پرتې وې هغه د چا په یاد وې او ځینو خلکو ته خو دا درک هم نه ورمعلومیدی چې کیسه د کومه ځایه خرابه سوه ، او دا اسان او ټانګې د چا دي ، خو څه ساعت وروسته ځیني خلک چې په بازار کې ډیر کارونه ،نه درلودی د بازار څخه په تنګو کوڅو یا مخ چپه لارو ووتل ، اسان هم یو څه پر ارامه سوه.

بس د خدای پاک فضل ؤ چې پو لیس را ورسېده په ډیره هوښیاري سره یې د یو دوکان پر بام سنګر ورته ونیوی په لومړي سر کې لا اوښکې بیونکی (انسوګیس) ګیس پر استعمال کړی خو د دې سره اسانو بیا زور واخیست ،خو بل چکر چې اسان پدې سړک را برابر سول ، پولیسو هم په پوره مهارت د توپکو خولې ورباندې برابرې کړې وې د دوی هم ورباندې ټکان سوه ځیني ګولۍ (مرمۍ) به خطا کېدلې خو څو ګولې ښې کاري کې ولګېدې د بازار مینځ ته په را رسېدو دوی هم د زوره ولوېدل او یو په بل پسې پر مځکه را ایله سوه وینو یې لا ښه په زور کې داري وهلې خو دوی د بازار په مینځ کې داسې بې اختیاره د حرکته ولوېدل چې د سر خواوې او د مخ پښې یې پر مځکه وې او د شا پښې یې یو څه پورته وې، ولې چې په بګیو پورې تړلي وو ،د ټکانو پر وخت دبازار هغه څنډې چې د اسانو د ورتګ څخه چپې وې وتړل سوې تر څو یوه بله پیښه ونسي ، هر چا د خطر احساس کاوه ، د دوکانو پر سر ولاړو خلکو به یوار په تعجب پولیسو ته وکتل او بیا به یې د بازار په مینځ کې ویشتل سوو اسانو ته وکتل چې وینې هره خوا بهیږي ، بیا به یې د ځانه سره وویل د خدای(ج) زور د حکومت زور (دا یوه تعجبي جمله ده) حکومت خو د دغه ورځې لپاره دی ته وګوره څنګه وینې په بازار کی وبیولي !

دا که د حکومت دا خلک(پولیس) نه وای دا کار به چا کاوه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مستو او لیونیو یا بې حاله اسانو د بیرې چې خلک د دوکانو پر سر ولاړ وو یا یې دروازې تړلې وې ، د هغوی بیره هم کرار کرار ورکېده ، او په بازار کې یوار بیا خلک سره پیدا سوه ځینو خلکو هغه خپل پیاز ، پټاټې یا نور شیان سره ټولول خو تر ډېره دغه شیان هم د اسانو په وینو لړلي وو ، څوک بیا پر وژل سوو اسانو راټول وو ، مګر بګی یې پولیسو خپل مرکز ته بوتلې تر څو خاوندان یې په لاس ورسي او د دغه تروریستي عمل په اړه تحقیق ځیني وکړي، د دوو بګیو یا اسانو خاوندانوخو دا هوښیاري وکړه چې د اسانو تر ویشتلو وروسته یې ځانونه د بازاره څخه و ایستل تر څو د حکومت د ممکنه نیولو او تحقیق څخه یې ځان خلاص کړی وي ، او د دربیمې بګی یا آس خاوند چې خوشکیار اکا نومیدی د شاولي ماما سره چې خبره پر شخړه واوښته او د پیښې اصلي لامل(سبب) هم دی ؤ هغه په لومړي سر کې د شاولي ماما دسوکانو یا وهلو څخه بې سده یا بې هوشه ؤ خلکو یوې څنډې ته کړی وروسته حالات نور خراب سوه نو دی هم دغو خلکو په یوه دوکان د ننه ګړي چې دروازه یې داسې نیم کښه خلاصه وه دا وهم تر ډېره نه کیدی چې دا بې حاله اسان به دې خوا ته راسي.

خلکو یې د سر وینې ور پاکې کړې یودوه ځایه په رښکیو ور وتړل کرار کرار به یې هغه د بورې څخه جوړ شربت یا خوږې اوبه ورکولې ، تر یوه حده چې لا ښه په سد کې نه ؤ راغلی دابه یې وویل: ځه ولاړ سه صحرائي سړی یې زه آس په پچو نه خرخوم ، ما په شنو لوټو(نوټو) رانیولی دی ته یې په پچو را څخه غواړې . . . یو څو داسې بې حاله یا سرچپه خبرې به یې نورې هم وکړې ، ځینو خلکو ته به د ده پر خبرو خندا ورغله ، ځیني ناخبره خلک چې پدغه دوکان کې حاضر ؤ دده دخبرو څخه پوه سول چې د یوه آس خاوند دغه نفر هم دي ، کله چې اسان پولیسو وویشتل نو د دغه حاضرو خلکو پر خوشکیار اکا زړه نور وسوځیدی چې یو خو دی پر دغه حال دي او د بلې خوا هغه دي آس یې هم وویشتل سو ، وروسته څه کسانو تر دوا او ډاکټره پورې ورساوه مګر هلته دا خبره چا نده ښکاره کړې چې خوشکیار اکا هم د یوه آس یا یوې بګی خاوند دی ، ولې چې دوی بیربدل چې حکومت یې د یوه دهشتګر په نامه و نه نیسي ، دلته د بازار وضیعت(حالت) لا ګډ وډ دی پلې، نخود ، پیاز، او پټاټې پر سړک پاشلې پرتې دي د اسانو وینو هم لومرداري جوړه کړېده ، پر دغه حد یا علاقه خو هغه د چا خبره بیخي لاره بنده ده د سړک په مابین کې ویشتل سوي اسان پراته دي د پورته کیدو څوک یې نسته د حکومت وسایل هم سره نسته که وې هغه بیا خراب سویدي ، هغه افسران (مامورین/چارواکي) یې هم اکثره په رخصتي تللي دي که څوک پر ځای وي د هغوی بیا کار ته چنداني زړه نه غواړي ، ګوره چې تنخواوې کمې دي که څه پیښه ده سم یې وکار ته زړه نه غواړي ، هغه یو څو پولیس چې راغله هغو دغه بې حاله یا بې سده اسان وویشتل بګی یې د ځانه سره بوتلې بس دغه یې د وسه پوره وو

.

پر دې ډېرې خبرې وسوې چې دا درانه اسان به څنګه د لارې باسو چا به ویل چې په موټرپورې به یې وتړو چا به ویل حکومت ته به عریضه(درخواست) وکړو هغه به هغه شی (کرینګ) د یو ځایه راولې یا به یې په پور واخلي هغه درانه شیان چې پورته کولای سي ، هر چا دخپل فکر برابره خبره کول اخیري خبره یا وړاندیز(تجویز) دا وسو چې اوس خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغسې هم ناوخته سو ما ښام به د بازار او شاوخوا سپي پر را ټول سي هغه به یو څه غوښې ځیني وخوري نو به صبا ته یو څه سپک سوي وي بیا به نو زموږ یا د حکومت وس هم په ورسیږي چي دغه وژل سوي اسان له بازاره څخه وباسو ، بل خو د ګرانۍ هم دغه حال دی چي انسانانو ته لا د خوراک سم شی نه رسیږي او یا د هر چا سم وس نه په رسیږي نو سپي خو د چا په یاد دي نن شپه به دوی خواران ښه ځانونه په غوښو ماړه کړي ،بله ګټه خو یې دا ده چي زموږ په بازار کې خو امنیت د شپې یاد ورځې هم نه یې او هره شپه یو دوکان د غلو له خو ا مات سوی وي ، چوکیداران خواران یې هم په چم نه پو هیږي خو نن شپه به د چوکیدارانولا خاص ضرورت نه وي ولې چي د دغه وړو سپو به ډلې ډلې په بازار کې ګرزي ځوک به د دوی له بېرې بازار ته نسي راتلای نو شپه به ښه په امنیت کې تېره سي.

دغه وړاندیز(تجویز) چي چا وړاندې کاوه ولاړو خلکو ډیر په غور اوریدی ولې چي خبره معقوله ورمعلومېده هر اړخ یې ګتورؤ ، چا یې مخالفت ځکه ونکړی ولې چي د دوی په وس کې تر دې بالا څه نه وو ، ځیني خلک خو په زړه کې ډیر خوشحاله سوه ولې چي د دغه وژل سوو اسانو لپاره یوه اسانه په زړه پورې لاره پیدا سوه یوه نفر ته خو د دې خبرې معقولیت یا ربښتینوالی بیخي اوس لا ورمعلوم سو ، هسې د خبرې وار ته کتل چي د خپلې رایې اظهار وکړي ، خو کله چي دخبرې وار پیدا کړی نو یې داسې وویل: هو دا ډیره ښه دفکر خبره یا تجویز دی ولې چي شاوخوا د سپیو غپا خو اوري چي وار په وار په ډیریږي او څو د بازار سپي خو پر موږ شاوخوا راګرزي هسې خپل وار ته ګوري پر وژل سوو اسانو را ګرزیدلو خلکو چي ورپام سو ریښتیا هم داسې حالت ؤ ، ډیرو خلکو دا فکر کاوه که هسې دا ولاړ خلک یوې خواته سوه بیا به نو په هر آس کي شل سپي سپاره وي ، بیا به بل حال وي ، ولې چي اوس لا د بازار د سپیو رویه بدله وه هر چا ته به یې په خښم کتل دوی به هم شاید دا فکر کاوه چي نور تاسې دا خپل بې فایدې مجلس پربږدی سهار چي تاسې راځی ګوره چي څرمنې به یې پاته وي که نه ، خبره همداسې معلومیده چي را روانه شپه به واک او اختیار د دوی په لاس کې وي.

د ورځې په نیمایي کې چي کله حالات خرابیدل او اصلي وجه (لامل) یې د شاولي ماما او بګیوان خوشکیار اکا دآس پر سر لانجه وه او دوی دواړه د جنګ په حال کې خلکو سره بیل کړه ، خوشکیار اکا یې یوې خواته کش کړی او شاولي ماما یې بلې خوا ته پورې واهه ، شاولي لا په اول سر کې زور کاوه او د جنګ اورته یې لمن وهله خو وروسته چي پوه سو چي د آس خاوند دې هم په وینو ولاړه او اسان هم لیوني سوه یا ځان کاږه دغه دې فایده ده ، بس ده هم د یوسف په خوله وکړه ځانونه یې له بازاره وایستل ولې چي حالات د دې نه وو چي یا دې محبت خان ډاکټر ته ورولي (چي بازار ته د را تلو اصلي کار یې همدغه ؤ) یا دې دوی په نور څه پسې وګرزي ولې چي نور وخت په بازار کې تیرول دوی د ځان په ګټه نه باله.

کله چي د بازاره لیرې کېدل د شاولي ماما د سر دسربېرنو زخمو وینې دوی د جیب په دسمال پاکې کړې اویو څه نسوارېې هم پرواچول، یوسف ورته وویل هسې هم د ډاکټر پیدا و دواخانې (درملتون) ته مجبوره یو چي یوار پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسو تر څو پر دا خوږو ځایو یو څه دوا درواچوي ، خو شاولي ماما وویل: هسې به یو څه ایرې پر واچوو دوی لا د خپل کلي په لور روان دي یوسف ورته وایي شا ولي ماما اوس هم ښه خلاص سوې ، که حکومت یا دغه دوکاندارانو ته په لاس ورغلی وای د ټولو تاوانو تاوان به یې در څخه اخستی وای هغه بګیوان خو دې بیخي بې سده کړی خدای(ج) دې یې نه وژني د هغه غاړه خو ګرسره نه وتل.

شاولي ماما خو یو څه پوه سوی ؤ چي تاوان خو ما پیښ کړي مګر بیا به هم یو څه خښم ورغلی او داسې به یې وویل دا دبازار خلک بیخي خوشک دي زموږ ګذاره نه ورسره کیږي وایم ما سمه سودا ورسره کول ده ظالم زه په لښته ووهلم ،چپه او راسته راته وږغیدی ، یوسف وویل ماما ته ولې د بازار خلک ملامتوې اصلې خو موږ ملامت یو ، موږ خو محبت ډاکټر ته بیوی ته په دا مینځ کې د آس په سودا اخته سوې ، بیا نو تا آس په پچو را نیوی د بازار خلکو کله شیان په پچو ورکول ، دوی لا دغه مجلس کاوه چي د بازار خوا ته ټکان شروع سوه ،یوسف وویل دغه دي ټکان خو دې واوریدل دا لکه چي بیا بله پیښه وسوه ، دلته د خبرې وار محبت واخیستی اوداسي وویل: دا لکه چي هغه د دوکانو پر سر ختلو پولیسو پر هغه لیونیو اسانو ټکان وکړه یا به یې د بازار پر خلکو کړې وي ، شاولي ماما وویل نه پوهیږم چي څه شی به وي خو زما هغه آس ډیر خوښ سو کاشکي را باندې خرڅ کړی یې وای !

یوسف پر وخندل ماما ته هم عجبه سړی یې دآس خبرې لا کوې ، شاولي ماما لا جواب نه ؤ ورکړی چي یوسف خان ورته وویل دغه دي د ډاکټر پیدا تر دواخانې (درملتون) پورې را ورسیدو دلته به ستا په زخمو یو څه دوا درواچوي دا لږ لږ وینه به یې هم بنده سي او د محبت خان لپاره به هم هسې یو څه د تبې او طاقت دوا واخلو ، تر څو بیا انور خان اکا ونه وایي چي محبت مو ولې ډاکټر ته نه دی ور وستلي ، شاولي ماما خو لا اول ویل هسې به یو ټوکر وسوځو د هغه ایرې به پر واچوو نو ر شی نه غواړي نسوار مې لږ وه کني بل شي ته حاجت نه ؤ ، خو دا چي یوسف د انورخان اکا خبره ورته وکړه نو ده هم قناعت وکړی ، یوسف لا دا هم ورته وویل داسې نه چي دا کیسه و دواخانې والا ته وکړې یا دهغه سره کوم بل بحث (لانجمنې خبرې) ونکړې چي پر بل غم وانه وړو ، دواخانې ته په را رسیدو دوی سلام وو ایه او د تختو پر چوکیو کښیناستل ، ډاکټر پیدا نه ؤ پر ځای، ګوره چي دکوم بل ناروغ کتنې ته یا کوم بل ځای تللی ؤ خو هغه شاګرد یې پر ځای ؤ ، هغه هم ښه ؤ لیک لوست یې نه ؤ زده نه یې د ګولیو او بوتلانو نویشتې ویلای سوي ، خو د رنګو یا نښانو څخه نژدې ټولې دواوې پیژندلې، ښه راستمن ځوان ؤ کال او دوه بعد یو کلیوال ډاکټر یا دواخانې والا ځیني جوړیدای سو ، د ډاکټر پیدا هم ښه لاس په خلاص ؤ ، ښه ډیر کارونه یې د ده پر غاړه ؤ ، د دوی په ورتګ هغه هم ښه خوشحاله سو چي دا دي څو ګیراکان خو درته راغله ، هم به دې سودا پر وسي هم به یو څه تجربیه پر وکړې ، دا یو خو داسي معلومیږي لکه جنګ چي کړی وي او دا نور دوه هم د ناجوړی څخه خلاص نه دي ، دی هم لاس په کار سو اول یې د شاولي ماما په خوږو (زخمو) سوو ځایو یو څه ژړه دوا ورواچول او ژر ژر یې یوه داسې غټه جوشي ګولۍ د یوه دبلي څه را وایستل او یوه ګیلاس اوبو ته یې ور واچول ، چي خوند او بوی یې پر شاولي ماما ښه ولګیدی ، او هغه نورو دوو ته یې د خپلې تجربې او اخلاص له رویه چي ده یو څه سترې هم بلل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چایو له ترموزه یوه یوه پیاله شنې چای ور توی کړې ، شاولي ماما ته د دواخانې والا رویې ډېر ښه خوند ورکړی ولې چې د سهاره څخه چې د کوره را وتلې وو د شنو چایو بوی لا نه ؤ کتلی ، اوبیا په هغه شخړه هم وا وښتل ، خو دا دي دواخانې والا نه یواځې د شاولي ماما په زخمو دوا پورې کوي بلکه د خوراک لپاره یې هم یو څه ورکړه ، د ډاکټر پیدا شاګرد که تعلیم نه ؤ کړی خو ښه تجربه ناکه ماغزه یې په سر کې وو ، دواوې یې د خپلو رنګو او نښانو څخه پیژندلې ، دی که څه هم د ډاکټرې تر ځایه نه ؤ رسیدلی خو شاولي ماما اوس د ډاکټر په نامه باله ، ډاکټر دمحبت خان لاس هم وکاتی دوارو ته یې جلا جلا کڅوړې (کڅوبې) له دواوو ،ور ډکې کړې د خوراک د وختو نښانونه یا لیکې یې ښې په ترتیب سره باندې وکښلې ، دا یې لاهم ورته وویل زموږ دواخانه که د بازار څخه وتلې ده خو جعلي دواوې نه خرڅوو.

شاولي ماما پخپل صحرائي انداز ورته وویل: قربان دې سم وایم اول مې لا خوښ سوې چې پخپله دوکانداري کې به د بې ایماني شیان یا دغه دوه لمبره دواوې نه خرڅوې ، پر دغه پراخ تندې مې وپیژندلې چې ښه انسان به یې ، وایم که زه خلاص وای یا دې دوکان (دواخانه ) زموږ په کلي کې وای نو ته ومنه چې ما به لا یو څه ډاکټرې درڅخه زده کړې وای ! د شاولي ماما پر دې ساده مجلس دواخانې والا یوسف او محبت ټولو وخندل ، هغه لا جواب نه ؤ ورکړی چې شاولي ماما نور داسې وویل: آ ښه ډاکټر صاحب تاسې نسوار خرڅوی که یه ؟ زما خو نسوار ټول خلاص سوي دي ما ویل که د یو څو روپو دا راکړې ؟

دواخانې والا ته د شاولي ماما مجلس ډېر خوند ورکاوه په ډېر ښه انداز یې ورته وویل : یه کاکا دلته نسوار نه خرڅوو دا دواخانه (درملتون) ده دلته یواځې دواوې خرڅیږي.

شاولي ماما خبره زیاته کړه: ښه تاسې نسوار نه خرڅوی هغه زموږ دکلي دوکاندار تاج ګل لالا پخپل دوکان کې هر څه خرڅوي یو د کټوې دارو یې نه دې سم نور یې هر څه ښه په بیعه دي ، آ ښه دارو (دکټوي دارو ) به هم نلرې خدای سته نن د انورخان اخښې په کور کې میلمانه دي ، له ما څخه یې را غوښتي وو ، اوس مې دا دې په یاد سو ته وادارو نسته ؟

خو د دې خبرې ځواب یوسف ورکړی ، یا ماما دلته دارو هم نه خرڅیږي ، کله چې لومړی دوی دې دواخانې ته راغلل نو به دواخانې والا د پیښې پوښتنه ځیني کول خو شاولي ماما سم حال نه وایه خبره به یې سره وژو ول.

هسې به یې دومره وویل: هلته په بازار کې بد حال جوړ سو زه هم ورکې خوږ سوم ، دواخانې والا هم نور نه غوښتل چې د دې پیښې پل ووهي ، یو څه وروسته چې شاولي ماما خپل ساده مجلس شروع کړی د دواخانې والا هم طبیعت ورسره وغوړیدی ، شاولي ماما یوار په ډاکټر صاحب ورته وایې بیا یې پام نه یې په دوکاندار ورته ووایې ، شاید دا به یې د نسوارو د نه کیدو یا دساده ګې وجه وه ، اخیر یې د دوا پیسې ورکړې او په ښو خبرو سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصت سره واخیست ، دوی درې سره اوس د کلي په خوا روان دي هغه ستړیا یې هم یو څه لږ سوه شاولي ماما ورته وایې یاره یوسف جانه دغه ډاکټر صاحب ډیر پوه رامعلوم سو خدای(ج) مې دې نه ناجوړه کوي که ضرورت پیښ سو وایم سیده به ده ته راځم ببیخي مې خوښ سو ، یوسف یې داسې خبره ونیول ماما ته هم عجبه سړی یې وایم هغه د ښار یا بازار پوهان ډاکټران دا دکلو د دواخانو کم تعلیمه ډاکټران ببیخي نه خوښوي چې دوی دې د خلکو کتنه کوي او بیا دې دواوې ورکوي ، داکار ډیر خطرناک بولي ، هسې خو موږ د مجبوري ورځې ورځو .

شاولي ماما ته دې خبرې خوند ورنکړی او داسې وویل : یو خو تا موږ د بازار په ډاکټرانو مړه کړو سهار هم تا دغه خبرې کولې چې د بازار ډاکټر ته به ولاړ سو هلته چې دې زه په وینو ورنګولم اخیر بیرته دغه دې دکلي داکټر ته اړ سوو .

یوسف وویل : هغه خو تا آس رانیوی په هغه کې زما یا د بازار د ډاکټرانو څه ګناه ده ، تا ته په څه شي درمعلوم سو چې دغه دواخانې والا پوه دی ؟.

شاولي ماما وویل : یو خو یې تندی ښه پراخ وو اخلاق من ځوان وو ، بل څنګه یې سته چای درکړي هغه د چایو دیګ ؤ که چای جوشه (ترموز ښه یې ) هغه مې لا خوښ سو ، هغه دخانانو په کوروکې چې هم وي.

یوسف وویل : ماما په پراخ تندي یا ښو اخلاقو خو ثوک نسي ډاکټر کیدای ، او هغه د چایو شی ترموز بولي ، ستا چې پر خوله درغی هغه نوم پر ږدې.

شاولي ماما ځواب ورکړی : ته یې نو نه منې ما ته یې بله تجربه هم رامعلومه سوه ، کله چې مورکۍ مسکینه لالک ډاکټر ته بیولې وه هغې ته یې هم دغه جوشي ګولۍ ورکړي وی ما به هم کله کله د دې په غلا دانه دانه ورڅخه خوړل ، وایمه بیخي دمالتې رنګه خوند یې ؤ زما بیخي خوښې وې وایم اوس چې موږ ورغلو ده هم هغه رنګه ګولۍ په اوبو کې راسمه کړه وایم لکه دغه ډاکټر چې راپوه سوی وي چې دغه ګولۍ پر ده ښې لګیږي.

یوسف وویل : تا ته خو ډاکټر درمعلوم سو ، خو د ده خوارکي د دواوو پوره نومونه لا سم نه ؤ زده، ولې چې دواوې به یې داسې را اخیستلې ، هغه شین کاغذي ګولۍ اودرختي والاشیربت به لا درته را واخلم ، هغه د دواو تعلیم چې کړی وي هغه یې په دغه نومو نه یادوي ، خو شاولي ماما د ده خبره داسې پرې کړه ، بس ته هغه د بازار دا ښه ډاکټران بوله زه به دغه ښه ډاکټر بولم ، د دوی دغه بې قناعته مجلس لا هم دغسې روان ؤ ، محبت خان هم نه غوښتل چې د ماما او انډیوال یوسف په شخړه کې ورګډ سي ، تر ډیره به د ده فکر هغه د برائي په قضا سوي مجلس کې بند ؤ یا به یې هغه لیدلي خوب په فکر کې ګرزیدی ، کله چې دوی په دواخانه (درملتون) کې وو محبت خان پر کاغذ یو څه ولیکل خو یوسف خان هم دا فکر کاوه چې دا به هلته غوټۍ ته وراستوي نور یې غرض ورسره ونکړ خو دا وخت چې دوی کلي ته راورسیدل ، دا نو داسې وخت دی چې هلته په بازار کې اسان ویشتل سویدي او له دووکانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک کرار کرار بازار ته راوزي او نژدې خلک وژل سوو اسانو ته نژدې کیدل ، دلته شاولي ماما ، یوسف او محبت خان هم خپل کلي ته راورسیدل د تاج ګل لالا دوکان ته په را رسیدو د دوی د مینې قاصد جانو هم حاضر ؤ شاولي ماما پدغه حال کې کور ته ولاړی یوسف د تاج ګل لالا و خوا ته ورتېر سو خو د سترګو تر کونجانو محبت ته کتل محبت خان هم هغه په دواخانه (درملتون) کې لیکلی لیک جانو ته ورکړی نور یې هم یو څه ورته وویل ، جانو هم د غوټۍ په اشاره درې څلور واره د تاج ګل لالا د دوکان مخ او د محبت خان دوی تر کوره تګ راتګ کړی ؤ خو په خپل مقصد کې ناکامه تر غوټۍ پورې تللي وو خو دا اخیري ځل دی هم خپل مراد ته ورسیدی په غوږو کې د محبت خبرې او په لاس کې د ده لیک او په ډاډه زړه د غوټۍ خوا ته روان سو .

(دلته دداستان )

(یادونه)

په پښتنو کې کشران د احترام له وجهې مشرانو ته په کاکا یا ماما وایې نو ځکه یوسف شاولي ته هم به ماما خطاب کوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(اتم څپرکی)

(د کتابو د لیکلو لامل او زما د کتابو په اړه د خلکو نظر څه ؤ)

درنو لوستونکو او زړه ته راتېرو ملګرو کیدلای سي چي تاسو به زما پنځه سره کتابونه لوستي وي او یا به مو همدا کتاب لوستلی وي ضرور به یو څو پوښتني درته پیدا سوي وي نو ځکه د دې څو کرښو د ویلو تکلیف درکوم.

اول: دا ناول ما ولې ولیکی ؟ ځواب: کله چي ما کتل چي زموږ ډیر د نوي تعلیم لوستي ځوانان هغه که په ښوونځي کي وي او که د لیسې (کالج) څخه ورپورته، دوی به همیشه یا تر ډیره حده د بل کلتور ناولده(نابلده) ناولونه یا داستانونه کتل چي په هغو کې به د شرابو ، عیاشی، بې لاری ځیني نورې خبري مخ ته ورتلې خو مثبت لوری به یې کم ؤ.

نو ځکه ما وغوښتل چي تر یوه حده په سم فکر د دغسي ځوانانو یانورو مطالعه کوونکو لپاره د خپل کلتور سره نژدې پخپل ادب کې یو څه ورته وړاندې کړم، او تر ډیره حده زموږ د ژبې او ادب لپاره په شعر کې کار سوی ؤ خو تر دې وخته لا زموږ د ادب د نثر خوا ډیره کمه هم ده، د بېلګې لپاره کله چي زما لومړی ناول (ناکامه مینه او زورور خلک) په کال ۲۰۰۷ م کي ما چاپ کړ نو تر دغه وخته پدې صوبه بلوچستان (سوهیلي پښتونخوا) کي دوه نور ناولونه ((وچه لښته))او((پروني مخونه)) چاپ سوي وو چي پدې حساب سره زه په دغه سیمه کې و پښتو ته د درېیم ناول لیکوال جوړیدای سم.

دوهمه پوښتنه: زما د پنځو سره کتابو کیسې له کوم څه را اخستل سوي که نه ؟

ځواب: زما د لنډو کیسو ټولګه چي څوارلس کیسې لري یا د دغه څلور ناولو ټول داستان دا زما خیالي کیسې یا کیسه ده، خو البته په یوه بڼه پېښې سوي دي یا پېښیدونکي دي په یو رنګ نه یو رنګ په نړۍ کي وجود لري، یعني د پېښیدو حقیقت یې سته، کله چي به ما قلم لیکلو ته پورته کاوه نو زما په فکر کې به یوه مختصره غوندې خبره وه خو تر لیکلو وروسته به یو عجیب غوندې داستان ځیني جوړ سو د لیکلو په دوران کې به ما دا فکر کاوه چي زه هلته موجود یم داسي څو ځایه به راغلي وي چي پر هغه صحنو به ما ورته ژړلي وي، چي هو زموږ په انساني ژوند کي دا هرڅه پېښیږي، وروسته چي زما کتابونه ولوستل سوه نو دلوستونکو د ژړیدو هم خبر سوم، بېلګه یې دا ده: یو طالب چي ما نه پیژندی د ده دستاربندی کارډ (بلن لیک) یې ځای ته را ته راوړی چي په هغه کارډ کي د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم مولوي شامحمد لیکل سوی ؤ دغه ښاغلي داسي راته وویل: ستا دغه ناول ((ایا محبت به خپل مطلب ته ورسیږي؟))

په حقانیه کتاب خانه کي مي وکاتی، یو ځای ته چي راورسیدم ومې ژړل او کتاب مي مخ ته ونیوی تر څو ناست خلک مي په ژړا ونه پوهیږي، او دالته مي ټول ولوستی، بله بېلګه: په بوغره روډ کې زموږ د کار ځای ته د مخامخ همسایه طالب استاذ کیسه سمیع الله داسي راته وکړه: طالب استاذ چي مخامخ مستري خانه لري او شعري لیکنې هم لري، دوې غرمې ډوډۍ ونه خوړل او پدغه وخت کي به یې پورته کتاب یا ناول کاته او نوره ورځ به یې د مستري خانې کار کاوه، دوهمه ورځ ماپښین یې ما ته داسي وویل: کتاب مې خلاص کړ او د دغه ناول په اخیري برخه کي د ډب کلي د صاحب زاده صاحب د زوی رنګین پر کیسه مې ډیر وژړل، او ډیر یې متأثیره کړم.

زما د یو بل کتاب ((د رحمت ډالۍ))چاپ ۲۰۰۴ م / د لنډو کیسو ټولګه ، چي چا لوستي او د ځینو له خبرو زه خبرسوی یم: محمد طاهر ، ابدالي، چي ډیر ښه لیکوال او ادیب دی، ده یوه ورځ د ده د کوټي مخ ته داسي راته وویل: پر دغه ځای یو تعلیم یافته ځوان راته ناست ؤ ما ستا دکتاب دغه کیسه چي (اوس به د نړۍ اتل ستاسي ګوټونه پالش کوي ) ورته اورول او ده را ته ژړل. ګل خان ، حیرت، چي ډیر ښه شاعر او د دوو شعري ټولګو خاوند هم دی، داسي راته وویل: ستا دکتاب دغه کیسه (چي په ژوند میراث سول) مي زموږ د نیکه دکورنۍ یوې پاته سوې ستي (بکرۍ) میرمني ته کول (لوستل) هغې به د هري خبري سره بې اختیاره زما خبره داسي پریکول: وې دا خو زما د ژوند کیسه ده دغه سړی زما په کیسه چا خبر کړی ...؟ د حیرت صاحب دغه راته کړې خبري بیا نوموړي و ځینو اخبارواو مجلوته د چاپ لپاره هم وسپارلې چي زما د کتاب د دوو نورو-

کیسو په اړه هم نورې خبري ورکي وې.

(اخري سلګۍ یې دي) پدې لنډه کیسه کي فتح نومی سړی خپل زوی په موټر ووهي کله چي پخپل کورکي موټر راګرزوي، حبیب الله ،بلال، چي ښه لیکوال او شاعر دی، نوموړي د پورته کیسې په اړه راته داسي وویل: دغه کیسه زموږ په کلي کې پیښه سوه او فتح نومي چا یو هلک په موټر وواهه خو فتح نومی یې پلار نه بلکه اکا ؤ .د پیښې اتفاق.

قاري عبدالوهاب چي هم ادیب او هم د یوې مدرسي مشر دی داسي راته وویل: موږ په مدرسه کي شاګردانو ته د وقفې په دوران کي ستا د کتاب یوه برخه اوروو.

ډاکټر او پروفیسر نصیب الله ،سیماب، چي ښه شاعر او لیکوال دی د یوه کتاب (بنده دروازه) خاوند هم دی او پي، ایچ، ډي یې هم پر ناول کړې ده په بلوچستان پوهنتون کي استاذ دی، چمن ته د یو سمینار لپاره راغلی ؤ او زما دویم ناول (محبت ولې ورک سو؟) ما ورکړی، څه موده بعد مي ټلیفون ورسره کاوه او دا پوښتنه مې ځیني وکړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه سو کتاب دې ووایه؟ نومورې داسې راته وویل: کله چې په چمن کې په ویګن کې کښیناستم تر کوره مې خلاص کړ، دغه کتاب ۹۹ صفحې لرې. د حقانیه کتاب فروشې خاوند قاري خالقداد داسې د پورته ناول په اړه راته وویل: د چاپو ګلاس مې راته ډک کړ تر څو هم به کتاب ګورم هم به چای کوم خو کله چې مې یو څه وخت وروسته پام سو کتاب مې ټول خلاص کړی ؤ او چای خو مې بیخي هېرې وې، د نومورې د خبرو د خلاصیدو وروسته دلته یو بل ناست طالب چې وروسته ما په مولوي شامحمد وپیژندی خپله کیسه داسې راته وکړه ما هم د دغه کتاب اوریدلي ؤ کور ته مې یوړی ماپښین مې بالښت ته څنګ وواهی او په کتاب مې شروع وکړه په کتاب کتلو کې داسې ورک سوم چې ځان راځخه هېر سو کتاب مې ټول وکاتی خو اخیر مې اوږو درد شروع کړی ولې چې زه د ځایه نه وم ښوریدلی نو ځکه مې اوږو درد شروع کړی.

یو بل ملګری چې هم رحمت الله نومېږي راته داسې وویل: زما سره ستا یو ناول ؤ کوم ملګری مې په دوبۍ کې اوسیدی هغه راځخه وغوښت او ور مې لیږی.

د پغمان تجارتي مرکز مسئول عبدالرازق ، عابد ، راته داسې وویل: چین ته مې ستا دغه ناول راسره یوړی د چین کوم ښار ته چې تلم د الوتکې په (۸) ساعته سفر کې مې ډیره خوا ولوستل او پاته مې هلته په هغه خپل دفتر کې ولوست ډیر ساعت مې پر تېر سو. حاجي عبدالعزیز ، کمین، چې نژدې په څلورو ملکو کې به د تجارت مرکزونه لرې، د نومورې سره زما شناخت نه ؤ خو د ده د زامنو سره مې څه ناسته ولاړه وه، کله چې د نومورې تجارتي دفتر ته یوه ورځ ورغلم په ډیره مینه یې له بازاره یو خاص رنګه شیر یخ راوغوښتی، کله چې زما او د نومورې لومړی مجلس لا نه ؤ پوره شروع سوی یو بل ناست مشر چې حاجي دارو ،شمشوزی، ما باله هغه ته یې زه او زما کتاب داسې معریفي کړلو: دا هغه څوک دی کله چې ما په تېره روژه کې مازدیګر مهال یو کتاب کاته اوزه به له تاسې څخه یوې خواته سوم، هغه ما د دغه نفر (لیکوال) کتاب مطالعه کاوه، او زما د معلوماتو له مخې چې ښاغلي حاجي عبدالعزیز به زما کتابونه دوبۍ او او جاپان ته هم ورسره وړي وي.

ښه لیکوال، ادیب او محقیق ښاغلي ډاکټر عبدالرؤف ،،رفیقي،، صاحب ته چې کله ما د ناچاپ کړو پاڼو څخه د خپل ناول یوه برخه واورول، نومورې داسې راته وویل: رحمت صاحب نه پوهیږم چې ته دا ناول په چمن کې لیکی او که په نیویارک کې، او کله چې بیا زما ناولونه چاپ سوه نو کله کله به نومورې د تلویژن پر پرده هم ښکاره کړي وي، د ټولو دوستانو دي کور ودان وي!

د پروډیسر ښاغلي ایوب ،،بابي،، ډیره مننه کوم چې لا مې تر اوسه ندی لیدلی، یوه ورځ په یې ټیلیفون داسې راته وویل: نن پر ټلویزن **tv** مورږ ستا پر یو کتاب بحث کوو، ما ورته وویل دا ستاسې حسن نظر دی، خو نومورې داسې راته وویل: نه دا ستا حق دی تا خواري کښلي ده. له دوؤ ریډیو ګانو څخه زما دوه ناولونه د سر څخه تر پایه پورې درې واړې نشر سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو ادبي ټرون چي یو ادبي تنظیم دی مشر یې دا وخت عادل ،اڅکزی، دی، دغه ادبي تنظیم یوه ادبي جرګه ګڼی هم لري او د جرګي غړي حاجي اخترمحمد (میراني) محمدنبي (امید) او زه رحمت الله (رحمت) یو، دغه تنظیم تېر کال پدې ۲۰۰۹/۴/۱۹ نېټه یو سمینار ایښی ؤ د دوو کتابو مقالې وې (لعل جواهر) د متلو کتاب د ښاغلي شیربهادر (اڅکزي) او بل زما د کتاب (ایا محبت به خپل مطلب ته ورسیږي؟) ناول، مقاله ښاغلي انجنیر محمد نبي (امید) پر لیکلې وه.

د احمدشا ابدالي کلتوري ټولنې لخوا د پنځو کتابو سمینار پدې نېټه26اګست2007 وسو، او په هغه پنځو کتابو کي یو زما کتاب ؤ (درحمت ډالۍ) دلنډوکیسو ټولګه، چي مقاله ورباندې د پښین د سیمې ښه شاعر ګل خان (حیرت) لیکلې وه.

د مورچل د ویب سایټ د ملګري ښاغلي محمد نعیم (افغان) او انصاري صاحب یې هم کور ودان چي د خپل ادبي چوپړ په لړ کي زما دکتابو سریزي او د چاپ خبر هم په خپل ویب سایټ ندی هېر کړی. د مشرق د ادبي پاڼې د مسئول جعفرخان (ترین) او د عبدالنافع (غیور) چي زما پر ناولو یې پوره مضمون لیکلی ؤ کور ودان، د سعید (کرد) د مینې پوروړی یم.

له ښایسته کندهار څخه په استازیتوب د دوو ځوانانو چي لا مې ندي لیدلي قدرت الله، او خلیل احمد یادوم چي زما یو ناول به یې په یوه دوې ورځې کي لوستی ؤ او بیا به ما ته ټلیفونونه کول چي هغه بل ناول به کله چاپیږي، او د محمد ابراهیم (سپیځلي) او محمد فیضي د ادبي خدمتو هم ستاینه کوم، یوه ملګري د جلال اباد څخه ټلیفون را ته وکړی چي دووهم ناول یې لوستی ؤ او د دریم ناول پوښتنه یې کول خپله هم لیکوال ؤ نوم یې راته لعل ګل یاد کړی.

تر دې ځایه چي مي کومي بېلګې وړاندې کړې د هغو پیغامو څخه ما انتخاب وکړ کوم چي ما ته را رسیدلي وو.

یوه بله خبره باید یاده کړم زموږ د پښتو ادب د یوه ډېر ښه لیکوال او ادیب د خولې خبره ده، چي په موږ کې ښه لیکوال هغه دی چي کتاب یې ولوستل سي، نو زه د دې خبري په رڼا کي ویلای سم چي زما کتابونه ولوستل سوه.

پورتني مثالونه مي ځکه راوړل چي زموږ په سیمه کي یو شاعر چي لا ډېر کشر دی او تر دې وخته کوم تصنیف هم نلري وکتاب یا ادب ته له ځانه معیار ټاکي نو ځکه که دی یا ده غوندي نور ثبوت غواړي ما دغه دي وړاندي کړل.

زه د پښتو ادبي ټولني چمن د ټولو ملګرو او ورسره د نورو ادبي ټولنو یا نورو ادب زوقه ملګرو چي زما کتابونه یې ولوستل یا یې مقالي ورباندې و لیکلي یا یې غونډې پر وکړلي یا یې نوم له ما څخه پاته سو، زه یې ډېر کور ودانی وایم، چي زه یې و دې ته وهڅولم چي یو په بل پسي د پنځو کتابو څښتن یا لیکوال سم.

څو پوښتنو ته باید ځواب وایم: پوښتنه: تا باید دغه څلور سره ناولونه یو ځای یا د یوه کتاب په بڼه چاپ کړي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: کله چي ما یو ناول چاپ کړی د هغه څخه به اوه یا اته مخه لیکنه ناچاپه پاته سوه او نوره کیسه به ما پخپل فکر کي تیاره بلله او لیکل سوی به نه وه ما به پر چاپ سوي کتاب د راروان یا بل ناول نوم هم لیکلی ؤ، یا به مي له ځینو ریډیوګانو واوریدی چي هغوی به نشر کاوه نو زه به بېي اړ کړم چي وروسته بل ناول هم بشپړ کړم چي داسي یو په بل پسي څلورو ناولو ته ورسیده، یعني پریوه ځای داتوله نه وه بشپړه ، تر دې وخته د ناول یا دناولو د لیکلو یا چاپ کولو یو بل لامل یا وجه دا هم وه چي دا وخت پر اسلامي نړۍ او بیل خصوص پر پښتنانه ټبر او پښتنه سیمه د یو دیرشو کلو څخه د یو سازش لاندې یو ناورین راروان دی او هره ورځ د شلو کسانو څخه نیولي بیا تر دوه نیم سوه کسانو پورې د یو مسلط سوي جنګ له امله وژل کیږي چي ډیر، یا ټوله یې پښتانه دي (هسې خود ټول انسانیت لپاره ښه ورځ غواړم) ما نه سوای کولای چي تر دې دې بلمه اسانه د بیان لاره ورته پیدا کړم یا هغه څه چي زه په پوهیږم خپل ؤلس ته وړاندي کړم خو هغه دا دي د ناول په ښه ورسره شریکوم.

دا خبره هم باید وکړم چي که ستاسو د طبیعت سره نابرابره خبره په مخه درسي ضرور به راته بخښنه کوی ولې چي انساني کار خو ضرور له تېروتني خالي نه وي، د الفاظو، جملو، لهجې یا املاء غلطیو څخه به هم را تېرېږي، خو قصًدا د چا زړه زهیریدل نه غواړم، تاسي هم کولای شی چي خپل نظر راواستوی یا یې پر ټلیفون راته ووایاست !دغه مي په وس کي ؤ پر دغه به قناعت راسره کوی، امید کوم چي د خیر په دعا کې به مي نه هېروی د ټول اسلامي امت او ټول انسانیت لپاره سمه لار او ښه ژوند غواړم اوبس ،پر لوی رب مو سپارم.

رحمت الله ،، رحمت،، چمن

(نهم څپرکی)

د لیکوال په اړه:

که مو وخت پیدا کړی دا څو کرښې لا هم وګوری، نه پو هیږم چي له کومه ځایه یې را پیل کړم ګران او سخت کار ته راورسیدم، هغه د چا خبره تر ډیرو ګران کار دا دی چي څوک پخپله د ځان تعروف یا پیژندنه کوي ،، نو ځکه ما پخپلو وړاندې څلورو کتابو کي دغه ګران کار نه ؤ کړی او اوس اړ یم چي دا کار وکړم تر څو د بل چا لپاره مي د ځان په اړه یو څه کار اسانه کړی وي تر ننه خو ما دومره پیژند ګلوي:- رحمت الله (رحمت) د انساني ټولنې د اسلامي عقیدې او پښتنانه ټبر یو څوک بس ګڼل، او تر دې زیات مي ضروري نه بلل ، یولامل یې دا هم ؤ چي زموږ په سیمه او یا بل هر ځای کي لږ او ډیر بې ځایه قومي تعصب سته او بې ځایه دا اور پوکل کیږي ټول ټبر ته مو تاوان دی زه ځکه وړاندې دا خبري کوم تر څو د دې لیکنې لوستونکي په هنر تر خپله ځایه ورسوم، ځکه چي د یاد سوي اور لمبې لا د پښتنانه د ټبر پر شاوخوا نه دي کرارې سوي، دا رنګه زموږ د سیمې د هر وګړي په څیر زما د پلار او نیکه د ژوند او مالداری سیمه د کوټي څخه تر کندهاره پوري وه او د نژدې ژوند کولو سیمه یې سپین بولدک او د ډیورین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرښې دې خوا ته د چمن سیمه وه، پدغه دواړو ځایو کې د پښتانه تېر دغه دوه لوی قومونه لکه اڅکزي او نورزي د پیړیو راهیسي اباد دي او وګړي تر یوه حده ښه ژوند سره کوي او یو د بل سره دوستي لري، یعني دوی تریوه حده یو د بل خوریان دي، او زه هم د نېکه مرغه د پلار او نیکه څخه نسلا د دواړو قومو سره تعلق لرم یعني پلار مي نورزی او ماماګان می اڅکزی دي او یا دا سې چې زمونږ کور ته ټولې را واده سوي میرمنې اڅکزی دي تفصیل څه داسي زما د پلار ماماګان: براؤزي، علیزي، ، اڅکزي زما ماماګان: رحمت زي، قوت زي(قطب زي)نصرت زي، اڅکزي ،زما خسرګني:کرکزي، قوت زي(قطب زي) نصرت زي، اڅکزي، زمونږ د کور دوې نورې دوستی: براؤزي، علیزي، ،اڅکزي بله: د ایمانداد نیکه(کاله) کاکوزي، بادینزي، اڅکزي ده.

دا مي د پښتانه تېر د دغه دوو قومونو د دوستی یوه بېلګه وړاندې کړه چې ما یې ضرورت محسوساوه، اوس زه نه پوهیږم چې زه به څرنګه د خپلو دغه دوستانو سره د کوم دلیل له مخي ناحقه بد نیت وکړای سم، نو ټول انسانیت ته د انسانیت په خاطر او د حق مذهب په خاطر او پښتانه تېر ته د دغه ټولو سپیڅلتیاوو په خاطر عاجزانه خواست کوم چې د هر رنګه ناوړه کارو څخه لاس واخلی او خاص بیا دغه قومي تعصب ته د پای ټکی کیږدی، اوس به مي یو څه لار دي ته برابره کړې وي چې دا خپل کمزوری تعروف یا پیژندګلوي تاسو محترمو ته وکړم. نوم: رحمت الله ،تخلص ،رحمت،، د پلار نوم حاجي نظر محمد ، قبیله، نورزی.تېر پښتون زدکړې په اذادډول د دوولسم سره برابري ،زمونږ کلیوال ژوند ؤ د پیدا ایش نیټه دقیقه نده لیکل سوې خو د اټکل له مخي ۱۹۲۴م کال د پسرلي په موسم کي اټکل کیږي.

زده کړې مي خوري وري کړيدي چې دولسم جماعت(ټولګي) سره برابريدای سي، د خپلې مورنۍ ژبې پښتو سره سره په عربي، فارسي، اردو ژبو کي لیکل، مطالعه، او ویل کولای سم انګلیسي ژبه چې اوس د وخت ضرورت دی او څه نا څه پخپل کور کي د کمپیوټر انسټالیشن ته لا انسان اړ کیږي یا په کمپیوتر کي د څه لیکنې یا ایمیل کولو یا دکوم ویب سایټ کتلو اړتیا سته د دغه ژبې سره هم تر خپله وسه ورسره شناخت لرم، او دغه پورته ځیني کارونه هم کولای سم، خو لارښوني ته هر څوک اړتیا لري ،که څه هم د ژوند اول کلونه مي ډیر ستونزمن او ورپسي کلونه هم د کړاوه ډک راباندې تېر سویدي ولې چې والد صاحب مي سپین ږیری ؤ ،په ډیرو کمو وسایلو لرلو سره د کور د ناروغي څخه نیولې بیا د کلي او وطن و هري چاري ته مي د۱۴ کلنی څخه اوږه ورکړیده که په بازار کي د پلار تر څنګ په سوداګري کي وم، دا استاذ سبق،په کلي کی لکه واده، جنازه، دروغ رنځور پوښتنه خو مي پر وخت کول د مسجد یا جماعت لمونځ خو مي بیخي نه قضا کاوه، داسي وختونه لا هم راغلل چې کور مي د کرایي ؤ او به به مي هره ورځ پخپله د کوم لیري ځایه څخه راوړلې د ژوند و دې ټولو کارو ته مي د سهار له سپیدو څخه د ماخستن تر لسو بجو پورې وختونه ټاکلي وو کومي خاصي میلې ته مي وخت ندی پیدا کړي چې زه دې ورته حاضر سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا چي وسایل یو څه زیاتیدل خو مسائل نه کمیدل د خپل رب شکر مي په هر حال کي کاوه، د دغه ټولو سره سره مي مذهبي زده کړې صرف، نحوه، فارسیات څه نا څه ولوستل فقه مي تر بیع هدایې پوري، او له احادیثو څخه مي مشکوة شریف ووایی.

د حجازي مقدس (سفرحج) مي لومړی ځل هم هغه وخت وکړ چي کله تاج محمد (جمالي) د صوبې وزیر اعلی ؤ او پدغه کال ۱۹۹۳م کي لومړی ځل د کوټي څخه پروازونه د حج شروع سوه او پدغه کال د عرفات ورځ ۹ د ذولحجې او۳۰مي ۱۹۹۳م سره برابره وه دوهم سفر د حجازي مقدس مي په کال ۲۰۰۰م کي وکړ. . . اوس چي سمیع الله او شمس الله غټې سویدي نو دکار یوه برخه د دوی پر غاړه ده.

خدای پاک پخپل ژوند کي د ډیرو کارو توفیق راکړ د جلسې، مشاعرې، او سمینار ستېج کول، د خپل اولس او کلي چوپړ مي ندی هیر کړی په مرکه کي به ضرور چا پوښتلی یم، څو نوري خبري به هم درسره شریکې کړم که دا نوري پاڼې وګوری .

# (لسم څپرکی)

ادبي ژوند ته کتنه:

د ماشوم والي څخه چي کله په لیک لوست پوه سوم د لوستلو او ادب سره مي مینه وه څه ناڅه یو شی به مي لیکه، د خوندي کیدو فکر به یې راسره ؤ خو هغه ځیني لومړی لیکنې به را څخه تر لاس وتلي وې، وروسته بیا د (پښتو ادبي ټولنې چمن) سره راملګری سوم، چي بنسټ یې پدې نیټه (۱۹۹۷/۹/۲۷) کیښودل سو، تر دغه وروسته زه ورسره ملګری یم. په ټولو سمینارو او یا غټو مشاعرو کي زه د غړي او یا دکابینې د غړي په حیث ورسره وم، میاشتنی غونډې هم تر ډیره ځایه ندي راڅخه پاته سوې.

۱۴/۱۲/۱۹۹۷ د ټولنې لومړی سوګند اخستل او لومړی مشاعره ځای د ښاروالي تالار (د چونګی هال) ماپښین مهال، تلاوت:محمد ظاهر (ابدالي) وکړ د کابینې غړي: صدر نعمت الله (دراني) ،جنرل سکرټر محمد نبي (امید) ،پانګوال سلطان محمد (قدردان) ، مشر میلمه حاجي نصیر احمد (پاچاخان) ، سوګند عبدالرؤف (رفیقي) صاحب ورکړ، صدارت د مجلس د سیدضیاءالدین اغا (لاجوري) وو، او د تجارتي څانګي مشر حاجي محمد علي اکا اروابناد جمال عبدالناصر او ډاکټر عبدالصمد (عشیزي) هم ګډون درلودی.او د دغه ښاغلو خپل شعرونه واورول، ستېج سکرټري صدیق الله (خوشحال) ، منظور احمد (کاظم) ، عبدالعلي (سنګین) ، سرانان والا ، امیرمحمد (امیدوار) ، احمدالله (همت) ، عبدالخالق (صوبه سرحدوالا) ، راقم ،رحمت الله (رحمت) ، محمد نبي (خادم) ، سلطان محمد (قدردان) ، محمد ظاهر (ابدالي) ، ډاکټر عبدالرؤف (رفیقي) دڅرک پښار څخه اوږد نظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایه، سیدضیاءالدین اغا لاجوري) انجنیر محمدنبي (امید ) ویناوال د مجلس صدر، مشر میلمه نعمت الله (دراني) .، ټولنې د یو کال په پوره کیدو سره یې ډیري غونډې او مشاعري وکړلې چې د یادوني وړ سمینار یې د دوو کتابو (ګلدره) شعري مجموعه لیکوال یې د پښین د سیمې ګل خان (حیرت) دی او (تاتمول) شعري مجموعه لیکوال یې د چمن د سیمې شفیق العالم (معذوریار) دي«اواوس په کوټه کې میشت دی» دغه سمینار یا مخکتنه پدې نیټه۱۹۹۸/۵/۳ وسوه .پر (ګلدره) باندې یوه مقاله د راقم الحروف هم وه او پر (تاتمول) باندې یوه مقاله د ملا عبدالصمد (بیوس) وه، د هر کتاب مقاله لیکونکې ټول دغه ښاغلی وو:د ګلدرې مقاله نګاران: نعمت الله (درانی) ،رحمت الله (رحمت)، شفیق العالم (معذوریار)، ډاکټر لیاقت (تابان) .د تاتمول: ګل خان (حیرت)، خلیل (باور)، محمود(ایاز)، او ملا عبدالصمد (بیوس) پر هر کتاب څلور څلور مقالې واورول سوې، په راغلو مشرانو کې پروفیسر سیال (کاکړ) هم ښه وینا وکړه، ښاغلی نصیب الله (سیماب) او رحمت (نیازی) هم راغلي وو .مشر میلمه یې ډاکټر عبدالصمد (عشېزی) او سټېج سکرتر یې صدیق الله (خوشحال) ؤ ، ورپسې یوه خوندوره مشاعره وسوه، ځای ؤ دچمن د لوی ښونځي تالار، لوی روغتون ته مخامخ، ډاکټر (رفیقي) د حج په سفر تللي ؤ .

پدې نیټه ۲۷/۹/۱۹۹۸ د ټولنې لومړۍ کلیزه ولمانځل سوه د لوی ښونځي په تالار کې.

اوس غواړم چې د ټولنې د نورو ټاکنو ترتیب ولیکم.

دویم ځل ټاکنې د ټولنې په دفتر کې وسوې دټاکنو په ډله کې حسین پاچا، محمد داود او محمد قسیم (بریالی) وو نیټه۱۸/۱۰/۱۹۹۸ دغه کابینه وټاکل سوه د دویم وار لپاره بیا صدر نعمت الله (درانی)، جنرل سکرټر انجنیر محمدنبي (امید )، مرستیال صدر محمدنبي (خادم)، مرستیال سکرټر رحمت الله (رحمت)، پانګوال عبدالرازق (حقیار).

دوهم ځل د سوګند دستوره: ۱۹۹۸/۱۲/۲ځای بینډار، سوګند ورکونکی روح الله (ساقیار)، وخت مازدیګر، یو بل کال لا نه ؤ پوره سوی چې د ۱۹۹۹ داکتوبر په ۱۲نیټه د ټولنې لومړی صدر نعمت الله (دراني) له موږ څخه پر ځوانۍ ولاړی روح دې ښاد وي، په بابایي هدیره مرده کاریز کې و خاورو ته وسپارل سو .

د اروابناد یاد غونډه، خیرات، ختم او مشاعره د ټولنې ملګرو په لوی ښونځي کې ترسره کړه.

په کامرس سرک باندې د ټولنې دفتر په اګست 2000م کې پرېښودل سو، بل ځل ټاکنې په ۴نومبر ۲۰۰۰م د میراني صاحب په دوکان ټرنچ سرک کې ترسره سوې او دغه کابینه وټاکل سوه .صدر: ډاکټر عبدالرؤف (رفیقي)، لومړی مرستیال حاجي اختر محمد (میراني)، دویم مرستیال حبیب الله (بلال) جنرل سیکرټري(راقم) رحمت الله (رحمت)، پانګوال عبدالرازق (حقیار).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه ځل د ټولنې د ريمه کليزه ۲۰۰۰/۹/۲۷م پدې نيټه ونه لمانځل سوه او دوخت په تېريدو سره بيا په دغه نيټه۲۰۰۲/۳/۲۵م دغه کابينه وټاکل سوه.

سرپرست اعلی: عبدالرؤف (رفيقي)، صدر محمد نبي (اميد)، د صدر مرستيال: راقم الحروف رحمت الله (رحمت)،دويم مرستيال: نوراحمد (فطرت)،جنرل سکرټري:عادل سيد جان چې اوس په عادل (اڅکزي) يادېږي، د سکرټري مرستيال: رحم الدين (رحماني)، د اطلاعاتو مسئول: نصرالله (وفا).

پښتو ادبي ټولنې چمن په خپل ټول وخت کي اونيزي، مياشتنۍ، پسرلنۍ مشاعري او سمينارونه وکړل او د ځينو هغه ليکوالانو په وياړ يې هم مشاعري وکړې څوک چې چمن ته راغلل،د دغه کتابو مخکتني يې وکړلې، تاتمول، ګلدره، د صليب په دايرو کي مات وزري زاڼي ژاړي، او پښتني انځور، زه به يې لږ يادونه وکړم.

**۲۰۰۰/۵/۲۱**م سمينار مخکتنه د پروفيسر رازمحمد (راز) پر کتاب (مات وزري زاڼي ژاړي) ځای د لوی ښونځي تالار، پدغه سمينار کي و راقم الحروف ته د ښاغلي رحمت شاه (سائيل) ليکنه ورکړل سوې وه د اورولو لپاره.

**۲۰۰۱/۵/۵**م د ښاغلي غلام رسول (توخي) صاحب په وياړ ځای کتابتون، ستېج په وار سره دغه کسانو وکړ،

راقم،رحمت الله ،رحمت، ، حبيب الله (بلال) او انجنر محمدنبي (اميد).پښتو ادبي ټولنې چمن خپل دفتر په اګست **2000**م کال کي پرېښاوه، تر دغه نيټې څو مياشتي مخکي دوه نور درانه ميلمانه چمن ته راغلل،د پيښور سره د پښتو عالمي کانفرنس مشر ښاغلی رازمحمد(راز) صاحب ، د ده سفر پدې موخه ؤ چي څه موده وروسته يې د پښتو عالمي کانفرنس د جوړيدو لپاره د اديبانو سره ووينې کله چي موږ د ټولنې په دفتر کي ماز ديګر قضاء کښيناستلو نوموړي دغه وينا کوله او ما د وينا ليکل کول خو د بده مرغه اوس هغه ليکنه ماته په لاس رانغله چي ما د ده د بيان توري دلته راوړي وای يا نوري خبري.

او بل ګران ميلمه ورسره جنرال عبدالصمد(مومند )ؤ چي د ده موخه بيا سفرنامه ليکل وو او دغه ښاغلي بيا خپله سفرنامه پدې نامه (هر تپې ته د جرګو سره ځم) چاپ کړه۲۰۰۴م، او دغه د (رفيقي) صاحب سره ميلمستيا او دملګرو سره ليدل يې پدغه سفرنامه کي ياد کړيدي، کله چي دغه ميلمانه ډاکټر عبدالرؤف (رفيقي) ته راغلي وو نو نوموړي ماته د تار په ټليفون د ميلمنو د راتګ وويل زه هم له خپل ځای څخه بنک ته ورغلم هلته د ملاقات وروسته بينک ته مخامخ د ټولنې دفتر ته وختلو، د دغه ښاغلو رازمحمد(راز) صاحب او جنرال عبدالصمد (مومند) (رفيقي) صاحب بل (ميراني) صاحب چي لږ مخکي ما خبر ورکړی وو.

«او (رفيقي) صاحب واېي غلام سخي (نوريوال) هم دغه وخت حاضر مجلس ؤ، خو دغه ښاغلی دغه وخت زما هېر دی خو موږ دغه پنځه کسان هلته کښيناستلو تر څه وينا وروسته مو د ماښام لمونځ دلته په جماعت ادا کړ چي امامت يې ما وکړ، تر لمانځه وروسته مو يو څه مختصر کلام هم سره واوراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۰۰۱/۵/۲۲م د پښین څخه د راغلو لیکوالانو عبدالباري ( اسیر ) او شامحمد (درویش ) په ویاړ، وخت ماذیګر ځای کتابتون، ستېج سیکرټري راقم الحروف رحمت الله (رحمت ) ، دصدارت پرمقام عبدالروف ،رفقي، عبدالباري اسیر، اوشامحمد درویش، ناســت وو تــلاوت سید محمد شا ایشـــانآغاوکړد غه ښـــاغلو خپــل کـــلام واوراوه محمد طاهر، علی اکبرزخمی، ، راقم، رحمت الله ،رحمت، نصرالله (وفا ) ، عبدالباري (غریب) لومړی وار، ایشان اغا ، شیرباز( افغان )دلته لومړی وار ، غلام سخي (نوریوال ) ، سلطان محمد (قدردان ) ، حاجي اختر محمد ( میراني ) ، عبدالاحد(مهاجر ) محمد ظاهر (ابدالي ) ، روح الله (ساقیار ) ، شامحمد (درویش ) ، حاجي عبدالرؤف ( رفیقي ) ،او عبدالباري (اسیر ).

۲جون ۲۰۰۱م د پیښور څخه د راغلي شاعر او لیکوال ښاغلي اشرف (مفتون ) په ویاړ، ځای کتابتون ،ویاند

(راقم ،رحمت الله ،رحمت

۲۰۰۱/۱۲/۲۲م د خوشحال بابا د څلورسوم تلین به مناسبت.

په۵می ۲۰۰۲د اروابناد نعمت الله (دراني ) په یاد کي مشاعره او د نوو ټاکل سوو غړو سوګند مراسیم ترسره سوه.

۲۴/۳/۲۰۰۲د پسرلي په مناسبت مشاعره مشر میلمه یې د ضلعي پخوانی چرمین حاجي فیض الله (نورزی ) وو ، د مشرتابه پر ځای ورسره د ټولنې صدر ډاکټر عبدالرؤف (رفیقي ) کوربه صدر محمد نبي (امید ) او بل میلمه د حمزه بابا د کلي ښاغلی شریف الله ؤ ، وروسته شفیق الله (معذوریار ) هم د مشر تابه ځای ته راغلی، حاجي نصیر احمد (پاچاخان ) نه ؤ راغلی که څه هم موږ د ده نوم په دعوت نامه کي چاپ کړي ؤ ، ستېج د( راقم ) رحمت الله ،رحمت پر غاړه ؤ.

۲۰۰۲/۸/۴م په ویاړکي د دغو ښاغلو میلمنو د کراچي څخه محمد طاهر (اپردی ) د پیښور څخه حنیف (خلیل ) او د کوټي څخه خلیل (باور ) او علي کمیل (قذل باش ) راغلي وو ، د مشرتابه پر ځای ډاکټر عبدالرؤف (رفیقي ) او انجنیر محمد نبي (امید ) ناست وو ، د ویاندي چاري د راقم رحمت الله ،رحمت پر غاړه وې، ځای کتابتون، وخت د سهار لس بجي، دغه مشاعره په ډیر کم وخت کي موږ برابره کړه.

او بیا دغه ښاغلي زما دذاتي ملګري او د ټولنې د غړي رحم الدین (رحماني ) په ملګرتیا او تقریبا د ده په موټر کي د ویش (بیش )بازار ته بوتلل سوه او یاد سوي ملګري هلته د ویش په هوټل کي د غرمي ښه ډوډۍ هم ورکړي وه ، چي د هغه ټول جریان تصویري البم زما مخ ته پروت دی، چي د مشاعري څخه نیولي بیا تر هوټله پوري دغه عکسونه د دې چوپړ شاهیدي ورکوي .او بل لوري ته مي د ښاغلي حنیف (خلیل ) هغه کتاب هم پروت دی (د سپین بولدک په لور ) سفري راپور تاژ چاپ کال ۲۰۰۳م خو ښاغلي حنیف (خلیل ) زموږ د مشاعري او ادبي چوپړ ذکر یوائي په اوو(۷) لیکو کي پر ۵۴ صفحه کړیدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د ټولو ادبي ملګرو څخه د (رفیقي) صاحب سه علاوه یواځي د( امید ) ذکر کړی دي کاش چي ده زموږ د ټولنې د څلورو یا پنځو ملګرو نومان خو یاد کړي وای !

او نژدې دغه مشاعره ډیره زما په منډه ورته جوړه سوه کاش چي یو څه د دغه لیکوال دغه چوپړ ته پام سوی وای !

و دغه بیړنۍ مشاعري ته لیکوال هم حیران ؤ په صفحه **۵۴** کي داسي اقرار کوي -

(دامشاعره پدې لحاظ هم منفریده وه چي په لږ وخت کي ډیر شاعران او زیات سامعین راجمعه سوي وو )

مګر چا چي دغه چوپړ او درناوی ورته کړی وو ، د هغو پر نومانو یا نوم یادیدو یې قلم وچ سوي وو ،افسوس ،

مګر بل اړخ ته بیا چي ښاغلی حنیف (خلیل ) په کوټه کي د ښاغلي کمیل کورته ورځي د خپل کتاب به صفحه -**۵۹** **۵۸**کي بیا د دوو ماشومانو(ایرج او ائیمه ) یادونه په دولسو لیکو کي بیانوي.

اوس تاسو د دغه استاذ د انصاف موازینه خپله وکړی، داسي د چمن پښتو ادبي ټولنه او ورته جوړه کړې مشاعره او یو زیات شمیر شاعران او مینوال، ده یې ذکرپه اوو(۷) لیکو کي وکړی او دوه نومان یې ورڅخه یاد کړی لکه (رفیقي) صاحب او (امید ) صاحب ، او بل لور ته د کمیل په کور کي دوې ماشوماني (ایرج او ائیمه) د دواړو نومان یادول او دولس لیکي د کتاب نیسي، نو ځکه ویلای سم چي نه به پښتو پرمختګ وکړي اونه پښتانه که دغه حال ؤ .

داسي پیښې مي نو ډیري ولیدلي ځکه یې لیکم تر څو چي دغه د خپلي خوښې د لیکني یا څه کولو دود راڅخه پاته سي.

پر ما د ښاغلي حنیف (خلیل) نثر خوږ لګیږي، دی په تحقیق کي ښه لاس بری دي خو زما دغه لیکنه به دی د یوي ګیلي په شان مني نه د بدل اخستو په رنګ، ما ښاغلي ته د قائد اعظم یونیورسټي اسلام په درک خپل دا ناول (محبت ولې ورک سو ؟)هم ور واستوی خو د رسیدو درک یې رامعلوم نسو .په**۷**می**۲۰۰۲**د ښاغلي عبدالباري (جهاني) په ویاړ یوه خوندوره مشاعره، د ویاند چاري د راقم رحمت الله ،رحمت او عادل (اځکزي) پر غاړه وې.

**۲۰۰۳/۴/۲**م د یادوني وړ سمینار چي دکتاب (پښتني انځور ) مخکتنه کي وسوه لیکوال یې د پښین د سیمې تکړه شاعر محمدنعیم (ازاد ) وو ، پر دغه کتاب د راقم الحروف مقاله هم وه، وروسته یوه خوندوره مشاعره وسوه، په راغلو میلمنو کي پروفیسر رازمحمد (راز) ، پروفیسر فیض محمد ( شهزاد ) ، عصمت الله ( زهیر) او نور ښاغلي..

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستهبج د راقم الحروف پر غاړه ؤ، ځای کتابتون، شروع ما پښین تر ماخستن پوري دوام درلودی راغلي میلمانه د شپي پښین ته رخصت شول، دچمن د سیمې ځوان لیکوال یارمحمد (سیال) د ټولنې و سمینار او مشاعري ته په دغه ورځ لومړی وار راغلی ؤ.اودښاغلی غلام سخی ،نوریوال،مقاله حیرت صاحب واورله

پښتو ادبي ټولنې چمن پخپل وار ډیري لاسته راوړني درلودې چي د ملګرو په افتکار د سلام بابا کتابتون مینځ ته راغلی، چي د دغه خدمت په سرلارو کي اروابښاد نعمت الله (درانی) او ډاکټر عبد الرؤف (رفیقي) د نورو ملګرو تر څنګ یادولای سم، او دغه کتابتون د افتتاح په ورځ د ټولنې ملګري، د منطقي مشران او حکومتي چارواکي حاضر ؤ، راقم الحروف د نورو ملګرو تر څنګ ناست ؤ، د هغه وخت د ضلعي د حاکم ډي، سي او ښاغلي شفیع (کاکړ) مرسته په دغه کار کي د نه هیریدو ده چي په ډي، سي، او، دفتر کي منظوري ورته ورکړه، بلکه دغه ښاغلی به زموږ سره په سمینارو یا مشاعرو کي هم برخه اخیستل کوریې ودان.

د دې لپاره چي ځیني ملګري راڅخه ګیله ونکړي چي زموږ نومان دې نه ؤ یاد کړي، د میاشتو کال او دوه کالو په تېریدو سره چي نور ملګري ټولنې ته راغلل هغه دغه ښاغلي وو.

رحم الدین (رحماني)هوتک قانع) عبد الرزاق (حقیار)، حبیب الله (بلال)،حبیب الله (تړی) عادل (اڅکزی)، نصرالله (وفا)،قاري روی محمد (مجاهد)، نعمت الله (پښتون)، عبدالهادي (شاکر)، سردارمحمد (مین)، غلام سخي (نوریوال)، یارمحمد (سیال)، ملا عبدالباري (مدني)، عبدالوهاب (ولي) او مطیع الله (شاهین).........

**۲۰۰۳/۵/۳۰**م یو بل مازدیګری او خوندوره مشاعره د کندهار څخه د راغلو تکړه لیکوالانو محمدسرور (واصیل)، حسن (یار) او تاج محمد (تابع) په ویاړ تر سره سوه، ځای کتابتون، ستهبج یا د ویاندوی چارې د، راقم، رحمت الله،رحمت، پر غاړه وې، رفیقي صاحب د میلمنو سره د صدارت پر مقام ناست ؤ، د مشاعري په دوران کي شیربهادر (اڅکزي) په لومړي وار د ټولنې پر ستهبج خپل کلام او وینا واورول.

**۲۰۰۳/۳/۱۲**م ټولنې اخیر ځل دا ټاکني وکړې، ځای رحمت ټال مال سړک چمن

د ټولنې مسئول: --------------------- عبدالرؤف (رفیقي)

جنرل سکرتري: ---------------------- رحمت الله (رحمت)

مرستیال مسئول: ------------------------ عادل (اڅکزی)

مرستیال سکرټري: ------------------ روی محمد (مجاهد)

پریس سکرټري: -------------------------- نصرالله (وفا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدغه ورځ د کوټې څخه راغلی میلمه لیکوال او شاعر ښاغلی گل خان (حیرت) زموږ د مجلس اعزازي میلمه ؤ.

پښتو ادبي ټولني چمن که وخت په وخت سمینارونه او مشاعري یا د لیکوالانو په ویاړ مشاعري کولي، خو کله کله به یې د پښتو ژبي په تللو ستورو پسي دعاوي هم کولي.

۲۰۰۴/۴/۱۱م کال میاشتنی ناسته ځای د رحمت ټال مال سړک زوړ گنج چمن، مازدیگر ۵ بجي صدارت د عبدالرؤف (رفیقي) د ټولنې د صدر، کوربه او ویاند رحمت الله (رحمت) د ټولنې عمومي منشي، تلاوت کونکی سلطان محمد (قدردان) د ټولنې غړی، غلام سخي (نوریوال) غړی، حمیدالرحمن(مومند) سپاهيFC، لومړی ځل یې زموږ سره گډون وکړ، د غونډې په پای کي رحم الدین (رحماني) راورسیدی، دمشاعري په پای کي پدې ښاغلو پسي دعا وسوه اروابناد: محمد صدیق ادبیار)، اشرف (مفتون)، ښتر صاحب او محمد یوسف (ویران)، څه موده وړاندې دغه ښاغلي له دنیا څخه کوچیدلي وو روح دې ښاد وي، دعا راقم الحروف وکړه او ملگرو (آمین) وربانديې کاوه.

یوه یادونه باید وکړم چي د پورته سمینارو یا مشاعرو نیټه ډیره دقیقه لیکل سوې ده، خو ځیني میاشتني یا څه غتې مشاعري مي ځکه ونه لیکلي تر څو پر لوستونکو ونه غمیږي کیدلای سي چي بیا ټول تاریخ د ټولنې زه علیده د کتاب په بڼه چاپ کړم. په ځینو ځایو کي خو ما د ځینو ملگرو هغه د دوی علمي القاب لکه ډاکټر لیکلي او په ځینو ځایو کي مي ندي لیکلي یا دډیر تکراره په وجه یا په دې چي په هغه وخت کي به دوی دغه د ډاکټری امتیاز لاس ته نه ؤ راوړی، هیڅ کله دې څوک د هغه نیټې څخه دا مأخذ نه اخلي چي پلانی صاحب پدغه وخت کي ډاکټر ؤ ولې چي دلته ده په ډاکټر لیکلی دي، ما که لیکلی دی هغه دغه دري ښاغلي دي: رفیقي صاحب، سیماب صاحب، او قذل باش صاحب چي په وار سره یې د دوکتري د حاصلولو دغه نیټې دي:رفیقي مقاله په افغانستان کی اقبال پژندنه نیټه:2005م، سیماب موضوع:پښتو او تنقید نیټه:9جنوری-2009، قذل باش موضوع نیټه:

پښتو ادبي ټولنه چمن چي پدې نیټه ۱۹۹۷/۹/۲۷یې بنسټ کېښېښول سو او لومړی سوگند او مشاعره یې پدې نیټه ۱۹۹۷/۱۲/۱۴ ترسره کړه.

ورسره یې د دفتر د برابریدو او ملگرو ته د غړیتوب (رکنیت) د جوړیدو کار هم پیل کړ، د غړیتوب فیس(۱۰۰) سل روپۍ وو او ورسره به هر غړي (۵۰) پنځوس روپۍ میاشتانه (چنده) هره میاشت هم ورکول تر څو د ټولني غړي معلوم وي او له دغو پیسو څخه د دفتر کرایه او نورو مصرفو کار واخیستل سي که به یو څا لومړۍ ورځ تر (۱۰۰) سل روپۍ زیاتي ټولني ته ورکړې نو سل روپۍ یې دغړیتوب فیس او زیاتي پیسي یې د میاشتنیزي (چاندي) په حساب کي شمارل کیدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو غړی که به یوه میاشت خپلي پیسي ټولني ته ورنکړې نو په بله میاشت کي به یې د دواړو میاشتو پیسي ادا کړې .

د دې کار پیل نیټه ۱۹۹۷/۱۱/۲۲ او اخیري نیټه یې ۲۰۰۰/۸/۲۳ وه، خو له دغه وروسته یوه بیړنۍ میاشتنیزه (چانده ) ټولني ته دغه غړو ورکړه .:محمدنبي (امید ) ، عبدالرؤف (رفیقي ) ، رحم الدین (رحماني ) ، سلطان محمد (قدردان ) ،راقم، رحمت الله (رحمت) نیټه ۲۰۰۲/۱۱/۱ او روی محمد (مجاهد ) ۲۰۰۲/۱۲/۱۷ تر دا وروسته بیا کوم غړي داسي چانده یا میاشتنیزه پیسي ندي ورکړې چي هغه دې په کتاب کي نویشته وي یا دې نوموړي ته رسید ورکول سوی وي.

دا ټول معلومات د ټولني له هغه کتاب څخه کوم چي (۷۸) صفحي لري، اود تصدیق لپاره د دې ښاغلو لاسلیکونه د کتاب پر اوله صفحه سته،دارواښاد نعمت الله (درانی ) ، سلطان محمد (قدردان) ، (راقم) رحمت الله (رحمت ) .اود د غه کتاب له مخي چي د ټولني درج غړي دي او د غړیتوب ورکړه(فیس ) یې ادا کړی دی هغه دا غړي دي .دټولني دکتاب په ترتیب:

| ددرج تاریخ | نوم | نمبر | ورکړي روپي |
|---|---|---|---|
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | نعمت الله (درانی ) | ۱ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | محمدنبي (امید ) | ۲ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | عبدالرؤوف (رفیقي) | ۳ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | محمدنبي (خادم) | ۴ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | محمدایوب (اڅکزي) | ۵ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | صدیق الله (خوشحال) | ۶ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | محمد شفیق | ۷ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | محمدرفیق | ۸ | ۲۰۰ |
| ۲۲/۱۱/۱۹۹۷ | احمدالله (همت) | ۹ | ۲۰۰ |
| ۱۹۹۷/۱۲/۱ | ډاکټرعبدالصمد | ۱۰ | ۱۰۰۰ |
| ۲/۱۹۹۷/۱۲ | سلطان محمد(قدردان) | ۱۱ | ۲۰۰ |
| ۱۹۹۷/۱۲/۸ | غلام داؤد | ۱۲ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۷/۱۲/۱۲ | محمدظاهر (ابدالي) | ۲۲ | ۲۵۰ |
| ۱۹۹۷/۱۲/۲۲ | محمد یونس | ۲۵ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۷/۱۲/۲۵ | رحمت الله (رحمت) | ۲۹ | ۱۵۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹۹۷/۱۲/۲۲ | شفیق العالم | ۳۰ | ۲۵۰ |
| ۱۹۹۸/۲/۳ | اسدالله صاحب | ۴۲ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۸/۲/۵ | عبدالعلي | ۵۲ | ۲۰۰ |
| ۱۹۹۸/۱۲/۱۳ | محمد نسیم | ۵۸ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۸/۱۲/۱۸ | محمد قسیم | ۵۹ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۸/۳/۱ | رحم الدین (رحماني) | ۶۵ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۸/۳/۴ | عبدالرازق (حقیار) | ۷۲ | ۱۵۰ |
| ۱۹۹۷/۳/۴ | فیض الله (شاهین) | ۷۳ | ۱۰۰ |
| ۱۹۹۸/۳/۷ | عبدالرحمن جان (ارماني) | ۷۴ | ۱۰۰ |
| ۱۹۹۸/۳/۹ | حبیب الله صاحب | ۷۷ | ۱۵۰ |
| ۱۰/۱۸/۱۹۹۸ | حبیب الله (بلال) | ۱۰۷ | ۱۵۰ |

دغه ټول (۲۲) شپږویشت غړي سو. صفحه (۱۲) د ټولني کتاب،

دغه یادو سوو کسانو د پښتو ادبي ټولني چمن غړیتوب اختستی او ورسره یې په یادو سوي کتاب کي میاشتنیزه پیسي ادا کولي. وضاحت: یو نوم محمد رفیق چي د دغه نامه سره په نورو صفحو کي (افغان) تخلص سته، دا ښاغلی حاجي محمد رفیق (افغان) ولد وکیل حاجي محمد صدیق اکا دي، میاشتنیزه پیسي یې ټولني ته ورکولي خو په غونډو کي یې ډیره برخه نه اخستل. ډاکټر عبدالصمد چي نویشته دی دا ډاکټر عبدالصمد صاحب (عشېزی) دی، په (۳۰) نمبر شفیق العالم لیکلی دی دا ښه لیکوال شفیق العالم (معذوریار) صاحب دی، «چي دا وخت یې کلیات د چاپ انتظار کوي»

په (۲۹) نمبر رحمت الله (رحمت) لیکلی دی چي دا زه یم او اوس په چمن کي تر ما په عمر کشر یو بل رحمت الله (رحمت) هم پیدا سوی دی، چي لا د کوم تصنیف خاوند ندی. کیدای سي چي بل هم پیدا سي یا دغه ملګری خپل دغه تخلص واړوي،

اسدالله په (۴۲) نمبر لیکلی دی وروسته د ټولني په کتاب کي د (کمین) تخلص ورسره لیکل کیږي دا ښاغلی زما له یاده وتلی دی، په (۷۷) نمبر حبیب الله صاحب لیکلی دی دا حبیب الله (ترین) ثاني دی، د ټولني د غړیتوب په کتاب کي پورته (۲۲) کسان د غړو په حیث نویشته دي.

پدي صفحه (۲۴)-نیټه، ۱۹۹۹/۱۰/۲۸ نمبر (۲۰۵) دا نوم لیکلی دی حاجي اختر محمد (۲۰۰) روپۍ خو د دغه ښاغلي سره ممبرشیپ، غړیتوب او تخلص ندی لیکلی فکر کوم چي دا ښاغلی به حاجي اخترمحمد (میرانی) وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي بيا په صفحه (۳۰) نمبر (۲۴۲) تاريخ ۲۰۰۰/۴/۲۹ په پوره نامه او تخلص دا سي ليکلي دي (حاجي اختر محمد ،ميراني، شل کتابونه) ،دا نوموړي دغه کتابونه د بازار څخه پخپلو پيسو رانيولي او ټولنه ته يې ورکړه چي لا تر اوسه هم دغه کتابونه د ټولني په ارشيف کي پراته دي.

بايد يادونه وکړم چي د ټولني دغه کتاب او غړيتوب د اروا ښاد

نعمت الله (دراني) او وروسته د عبدالرازق (حقيار) او زما په قلم نويشته لري، دا پورته (۲۲) نومان هم د مرحوم په قلم د ټولني په کتاب کي نويشته دي، د ده تر مرګ وروسته ياد سوی کتاب د ټولني د نورو شيانو سره د عبدالرازق (حقيار) سره ؤ، او وروسته د ټولني د نورو شيانو سره ماته وسپارل سو.

تر دغه يادو سوو کسانو وروسته بيا موږ کوم ملګري ته د رسمي غړيتوب پرچې نه ده ورکړي، نور ملګري به چي ټولني ته راتلل فکر کوم چي دا به نو اعزازي غړي وو، او يا مستقل خو غړيتوب به يې نه ؤ ليکل سوی، د ټولني په ياد سوي کتاب کي چي هر چا غړيتوب تر لاسه کړی دی د هغه د نامه او پيسو سره دا الفاظ ليکلي دي (ممبرشيپ فيس) که به چا نوره مرسته کړې وه د هغه سره به بيا (عطيه) ليکل کيده.

د پښتو ادبي ټولني چمن په مشاعرو يا سمينارو کي د مشر ميلمه په حيث وخت په وخت برخه اخستونکي دغه ښاغلي وو.

حاجي نصيراحمد پاچاخان: ----------- پخوانی صوبايي وزير

حاجي جلال الدين خان: - پخوانی ،ناظم، تحصيل چمن ، حاجي نذرجان اکا :----- ----- پخوانی ناظم، تحصيل چمن

مرحوم (جمال عبدالناصر ،کاکړ):----- د چمبر اف کامرس مشر

ډاکټر ثاقب (عزيز):----------------- د ضلعی (ډي،سي،او)

فيض الله خان (نورزی) :------------ پخوانی چرمين د ضلعي

عبدالصبور (کاکړ) :------ هغه وخت د تحصل چمن (ای ،سي)

حافظ عبدالباسط (بلوچ) :---------- د چمن تحصل (ای، سي)

ډاکټر عبدالصمد (عشېزی) :----- د دولتي روغتون مشرهم سو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان امان الله خان:------------------------قبائیلي مشر

حاجي کرم خان اکا :------د پیپلزګوند سره اړوند قبائیلي مشر

د صدارت مقام ته به دا ښاغلي هم رابلل کیدل پروفیسر عبدالرشید صاحب (رودي)، پروفیسر عبدالقادر صاحب، پروفیسر محمد طاهر (چوهدري)

په مینوالو کي به دا ښاغلي هم راتلل: حاجي میرعالم، حاجي عبدالشکور، مرحوم ډاکټر حبیب (د وخت ډي،سي،او)، شفیع(کاکړ، ملک عبدالخالق (اڅکزی)، اصغرخان (اڅکزی)، ګل خان (اڅکزی)، نظر محمد (درمان)، چي وروسته دغه ښاغلي د نورو ټولنو پر دریځ ښه ترنوم وایه، ښاغلي هدایت الله، عبدالرشید، عبدالکریم، عزیزالله، ډاکټر رمضان اسحاق (معلومات دخپلولیکنو اودټولني له تاریخچي څخه).

ماچي څیني مقالي لیکلي دي یاناچاپ کتابونه:

یو څو یې دغه دي

۱: پرکتاب ګلدره، مصنف ګل خان (حیرت) سمینار ۱۹۹۸چمن

۲: پرکتاب طلب مذهب، مصنیف قاضي ملاعبدالسلام بابا، دغه سمینار د پښتو ټولني چمن څخه هغه وخت پاته سو.

۳: پرکتاب: دوه زرم کال دوه زره اقوال، ناچاپ کتاب د حاجي اختر محمد (میراني) دا مقاله په کتاب کي چاپیدل .«مګر دغه کتاب لا تر اوسه نه سو چاپ»

۴: پدې نیټه (۱۰) مارچ۲۰۰۲م د پاکستان په برابر یو لوی سمینار د (چمبر اف کامرس) لخوا په چمن کښتم (ګمرک) کي د یاد سوي تنظیم چي هغه وخت یې صدر اروابناد جمال عبدالناصر او سرپرست اعلی حاجي محمد علي اکا وو د دوی په غوښتنه ما دا مقاله لیکلي وه، پدغه ورځ یوه مقاله په انګریزي وویل سوه دویمه مقاله د عبدالرؤوف (رفیقي) وه په اردوکي، دریمه مقاله زما وه په پښتوکي زما دمقالي د اورولو وخت (۲۰) دقیقې (مینټه) ؤ، و یاد سوي سمینار ته د صوبې د وخت ګورنر ښاغلی جیټیس (ر) امیرالملک منګل صاحب او د صوبې وزیران: محمد علي (جوګیزی)، مرحوم قاسم خان (اڅکزی)، میرمن بروچه او پنځه نور وزیران، د ټول پاکستان به برابر نور میلمانه اودچمن ښار سرکاري حکام او د ښار معزز مشران راغلي وو، د ماپښین پر ۲:۳۰بجو دغه سمینار پای ته ورسیدی، او دغه وخت د ضلعه قلعه عبدالله چمن ناظم صلاوالدین (اڅکزی) ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵: مقاله: پرکتاب (پښتني انځور)مصنیف محمد نعیم (ازاد) صاحب سمینار په چمن کي ۲۰۰۳/۴/۲م د پښتو ادبي ټولني چمن لخوا.

۶: مقاله: پرکتاب (د سپوږمۍ سره خواله)مصنف ډاکټر عبدالرؤف (رفیقي) صاحب سمینار ۲۰۰۴/۹/۴م په زیارت کي.

۷: د پسرلي په اړوند مقاله.

۸: څو نوري ادبي ټوټي، دا اته سره یادي سوي لیکني ناچاپه پاته دي. «ناچاپه کتابونه:

۹: (پیرزویني) د لمانځه طریقه ده، د لیکلو وروسته مي د څو علماوو تصدیق پر واخیست، یو کیسټ مي هم څو کاله مخکي ورڅخه جوړ کړ او د دوه زره څخه زیات کیسټونه به زما یو ملګري مفت تقسیم کړي وي، کتاب یې ناچاپ دی،

۱۰: (د حج سفر) دا د حج زده کړه ده کتاب یې ناچاپ دی خو کیسټ یې په بازار کي سته چي ما ورڅخه جوړ کړیدی.

۱۱: ارمانونه، ۱۲: د رحمت ګلونه، ۱۳: پیاوړي خلک

# (یولسم څپرکی)

پښتو ادبي تړون او رحمت الله (رحمت)

یاده سوي ټولنه دا وخت په چمن کي ډیره فعاله ده، او فعال غړي لري، نژدې د دوو کلو رائیسي عادل (اڅکزی) د مسئول چاري په غاړه لري.

پدې نیټه (۱۳) جولای ۲۰۰۸م ملګرو دغه دري کسان لکه حاجي اخترمحمد (میراني)، راقم، رحمت الله (رحمت)، او انجینر محمدنبي (امید) د جرګګۍ غړي وټاکل د دې لپاره چي همدا جرګګۍ د یادي سوې ټولني لپاره د نامه ټاکلو او وروسته د مسول او کابیني ټاکلو چاره پرغاړه ولري.

په همدغه ورځ د ټولني لپاره دغه نوم (پښتو ادبي تړون چمن) غوره سو، د یادي سوې جرګګۍ د مشرانو په مشرتابه کي لومړۍ په (۲۷) جولای ۲۰۰۸م لومړۍ ټاکني وسوې او دغه کابینه وټاکل سوه، مسئول: عادل (اڅکزی)، مرستیال: نعمت الله (پښتون)، پانګوال: عبدالغفار (مظلوم جان).

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی کابینې او د جرګګۍ غړو ته پدې نیټه (۱۷) اګست ۲۰۰۸م سوګند ورکړه سو.

سوګند ورکونکی مشر میلمه ښاغلی عبدالقیوم (خدکو) د ضلعي نائب ناظم، ځای د ولسوالي تالار.

د مشر تابه پر ځای ناست عبدالقیوم (خدکو) راقم، رحمت الله (رحمت)، او انجینر محمدنبي (امید)، وخت ماپښین قضاء، او وروسته درنو شاعرانو خپل خوږ کلام واوراوه.

۲فبروري ۲۰۰۹م خپلواکه پښتو مشاعره دا د ټولني دویمه لویه مشاعره وه چي له ډیرو ځایو څخه ورته شاعران او لیکوالان رابلل سوي وو، ځای ؤ د ولسوالۍ تالار، د ویندوی چاري عبدالغفار (مظلوم جان)، او عزیز (میا) پر غړه لرلي تر تلاوت وروسته د مشرتابه مقام ته د کوټي سه راغلي دا مشران: عمرګل (عسکر)، ډاکټر نصیب الله (سیماب)، ډاکټر لیاقت (تابان)، او راقم رحمت الله (رحمت) د دې مشاعري کوربه مسئول ورو بلل سوه، د دې مشاعیری مشر میلمه حاجي حمیدالله د چمبر آف کامرس مشر، مشاعري ته نه ؤ راغلی.

د دي مشاعري، ډي، وي، ډي هم ثبت (ریکارډ) سوه.

یو بل سمینار ۱۹ اپریل۲۰۰۹م د ملا قلندر آخند په یاد کي او ورسره د دوو کتابو (لعل جواهیر) د متلو مجموعه لیکوال یې شیربهادر (اڅکزی)، مقاله عبدالغفار (مظلوم جان) پر واورول، دویم کتاب: ایا محبت به خپل مطلب ته ورسیږي؟ (ناول) لیکوال یې( راقم) رحمت الله (رحمت) مقاله انجینر محمد نبي (امید) پر واورول، د ملا قلندر پر فن او شخصیت باندې مقالي عادل (اڅکزي)، جعفرخان (ترین)، حاجي اختر محمد (میراني)، عصمت الله (زهیر)، محمد نعیم (ازاد) او پوهاند سیال (کاکړ) واورولي.

صدر مجلس سیال (کاکړ)، کوربه محمد نبي (امید)، راقم رحمت الله (رحمت)، شیربهادر (اڅکزی) او نور پر دریځ ناست وو، وروسته یې خوندوره مشاعره وسوه، ماپښین ۳بجو پیل د ماخستن پر۱۱بجو پای ته ورسیدی، د دغه سمینار مشر میلمه حاجي نادرخان (نورزی) ؤ.

د ټولني د دویم کال ټاکني د ښاغلي محمد نعیم (افغان) تر څارنه لاندې وسوي او دغه کابینه وټاکل سوه.

مسئول: عادل (اڅکزی)، مرستیال: شیربهادر (اڅکزی)، پانګوال: مطیع الله (شاهین)، او دغه کابینې ته ۲۵ اکتوبر ۲۰۰۹سوګند ورکړل سو، د مشرتابه په مقام یې ښاغلي قاري عطاءالله (مسلم) شتون درلودی، باید ووایم چي د دویم کال په ټاکنو او د سوګند په مراسمو کي زه نه وم حاضر. «راقم»

او په دا نژدو شپو کي ۲۲جنوري۲۰۱۰م د سلام بابا (۱۸۸۱ــــ۱۹۷۴جنوري۲۲) پنځه دیرشم تلین ولمانځی، په یاد سوي سمینار کي خو نوري مقالي نه وي یواځي په لومړی برخه کي ما یوه لنډه مقاله یا (د سلام بابا ژوند لیک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوراوه هم دومره د عادل (اڅکزي) لیکنه وه وروسته مشاعره وسوه. د دغه سمینار یا مشاعري مشر میلمه حافظ بسم الله (مخلص) صاحب ؤ، کوربه یې ماسټر امیر زمان (مشکور) ؤ .اوقاری نورمحمد (نوراني) هم پردریځ ورسره ناست وو ،د چمن د شاعرانو تر څنګ د کوټې او پېښین څخه دغه ښاغلي: محمد نعیم (ازاد)، د حسنا مجلي مسئول عصمت الله (زهیر) او د مشرق اخبار د ادبي صفحي مسئول جعفر خان (ترین) او له کندهار څخه حاجي محمد اکبر (نعمتي) ورته راغلی ؤ، ماپښین پیل د ماخستن تر ۹ بجو پوري دوام درلودی .

(احمد شاابدالي کتابتون) چي مشر او کابینه یې هغه وخت عادل (اڅکزي)، عبدالرازق (حقیار)، یارمحمد (سیال)، نوراحمد (فطرت)، نعمت الله (پښتون)، یادولای سم هم یې لوی غنډي او مشاعري وکړي.وروسته دغه کتابتون په ټولنه واوښت چي نوم یې دا سو (احمد شاابدالي کلتوري ټولنه)، دغه وخت یې مشران او د کابینې غړي څکه زه برابر نسم لیکلای ولې چي زه د ټاکنو پر وخت نه یم وربلل سوی، که څه هم ځینو سمینارو او ډیرو مشاعرو کي د غوښتني سره سم زه ورغلی یم، د پنځو کتابو د مخکتني په سمینار کي ۲۰۰۷/اګست/۲۲م یو زماکتاب« دلنډو کیسو ټولګه (د رحمت ډالۍ) هم په یاد سوو کتابو کي وو، چي مقاله د پېښین د سیمې ښه لیکوال ګل خان (حیرت) صاحب پر لیکلي وه، د دغه ټولني د ټاکنو خبربه ما په اخبار کي لیدی، یا به بل چا راته وویل، په کابینه او مشرانو کي یې دا ښاغلي یا دولای سم: نوراحمد (فطرت)، عبدالرازق (حقیار)، محمد غوث (همدرد)، محمدنبي (خادم) او صادق (صبا). یادي سوې ټولني به ما ته یوازې د سمینار، یا مشاعري د ګډون بلنه راکول، او نژدې په ډیرو مشاعرو کي زه حاضر سوی یم، پدغه غونډو کي چي زه ورغلی یم د صدارت یا د مشرانو ځای ته زه پدغه حیث وربلل یم مشرمیلمه، کوربه صدر، اعزازي میلمه. پدا نژدې شپو کي د امن تر نامه لاندې یوه مشاعره ایښې وه له کوټې، پېښین، برښور، کندهار څخه هم لیکوالان ورته راغلي وواو زه هم ورکي حاضر وم د یادي سوې مشاعري نیټه داوه ۲۰۰۹/۱۱/۲۰م.

(زما د پنځو کتابو د چاپ کلونه:

۱ـ د رحمت ډالۍ ـــ دلنډو کیسو ټولګه،۲۰۰۴م

۲ـ ناکامه مینه اوزورور خلک ـــــ ناول،۲۰۰۲م

۳ـ محبت ولې ورک سو ؟ ــــــــ ناول،۲۰۰۷م

۴ـ ایا محبت به خپل مطلب ته ورسېږي ؟ـ ناول،۵مارچ۲۰۰۹م

۵ـ اُمَید ـــــــــــــــــــــ همدا ناول،۲۰۱۰اپریل۳ م څخه د چاپ انتظار کوي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رحمت الله، رحمت) چمن،

# دولسم څپرکی

مرکزي انجمن تاجران او رحمت الله (رحمت)

مرکزي انجمن تاجران ډېر فعال تنظیم دی صوبائي مشر یې ښاغلی عبدالرحیم (کاکړ) او د کابیني نورغړې ښاغلي حضرت علي (اڅکزی)، الله داد (ترین)، تاج آغا، ابراهیم (کاسي)، صدیق (مسلم)، عبدالقیوم آغا د دغه تنظیم په هر ښار کي ښاخونه سته. زه پخپله د دغه تنظیم لومړی دمال روډ (سړک) چمن یونټ صدر وټاکل سوم په کابینه کي راسره ښاغلی عبدالقیوم (خدکو) جنرل سیکرټري ؤ چي نوموړی وروسته د ضلع (قلعه عبدالله چمن) نائب ناظم هم جوړ سو.

خو بیا موږ دواړه د انجمن د تحصیل چمن مرکزي کابیني ته ولاړو هلته زه ځلورم مرستیال صدر او بیا لومړی مرستیال صدر سوم او په ۲۰۰۷م کي عبوري صدر وټاکل سوم په عبوري کابینه کي دا ښاغلي راسره وو: ملا جمعه خان (همدرد)، عبدالغني، صادق (صبا) او احمد خان نورغړی صاحب جان بهادرخان. عبدالباري اسحاق...... په دغه دوران کي لکه نور کله موږ د خپل تنظیم د ښار د تاجران او دوکاندارانو په استاذیتوب د اعلی سرکاري حکاماو علاقائي مشرانو یا ناظیمینو سره لیدل کتل کول، لکه د ضلعي ناظم حاجي آدم خان، نائب ناظم کیپټن (ر) عبدالخالق (اڅکزی) چي اوس صوبائي وزیر دی، جلال الدین خان تحصیل ناظم ؤ د وخت، او اودصحت پخواني وزیر حافظ حمدالله صاحب او داسي نور...... او په دغه دوران کي د ضلع پښین د انجمن تاجران صدر ملک حضرت علي (ترین) د ؤفات په سلسله کي د مرحوم فاتحي ته ورغلو، او تر دغه ځلوېښت شپي وروسته چي په نوموړي پسي خیرات او ختم سوی ؤ صوبائي مشران او دنورو ښارو مشران هم راغلي وو زه هم د خپلو دغه ملګرو سره ملا جمعه خان (همدرد)، عبدالغني، او بهادر خان سره ورغلم هلته بیا تر خیرات او ماپښین لمانځه وروسته د پښین په ریسټ هاوس کي د پښین ضلعي د انجمن وکابیني او نوی ټاکل سوي صدر ملک اشرف (ترین) ولد مرحوم ملک حضرت علي (ترین) ته په شاندارو مراسمو کي د صوبائي صدر عبدالرحیم (کاکړ) لخوا سوګند ورکړه سو،. ،زما د عبوري صدارت مخکي صدر دادشا (پژواک) ؤ، او کله چي زما تر صدارت وروسته موږ نوري ټاکني وکړي نو دا کابینه وټاکل سوه صدر: دادشا (پژواک)، نائب صدر: راقم، رحمت الله (رحمت)، جنرل سکرټر: صاحب جان (اڅکزی)، سپریم کونسل: بهادر خان (اڅکزی)، احمد خان (اڅکزی)، ملاجمعه خان (همدرد)، حاجي عبدالباري (اسحاق)، صادق (صبا) عبدالغني اسلم خان جګدیش لعل «هندو» چي لا اوس هم دغه کابینه او صدرد چمن ښار د ښاریانو او تاجرانو لپاره چوپړ کوي، انجمن په ټوله صوبه او ټولو ښاروکي خاص بیاز موږ ملګرو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



چمن کي بلاعوضه خدمتونه د خپل وطن او ښاریانو لپاره کوي، بجلي (بریښنا)، تلیفون، ټکس، امن امان او نورو ستونزو کي خپل وس له چا څخه پټ نکړي، کله کله به په یوه ورځ ملګرو ته ځو کارونه ورتر غاړه وو.

په ۱۲ جون ۲۰۰۷م ملګرو د امن امان لپاره مظاهر ل کول او په همدغه ورځ د صوبي ګورنر هم چمن ته راتلی، او د مجلس لپاره موږ ته سرکاري دعوت ؤ، نو د دې لپاره چي دواړه کارونه ترسره سي ،د مظاهري لپاره دې ملګرو سرپرستي وکړه صدر دادشا (پژواک)، صاحب جان ،اڅکزی، بهادر خان اڅکزی ، عبدالباري ، اسحاق ، دګورنر ښاغلي اویس احمد غني صاحب د ملاقات لپاره زما سره موږ دغه کسان او وفد ملګری وو: راقم، رحمت الله (رحمت) ،حاجي عبدالباري (اڅکزی)، محمد هاشم خان، حاجي عبدالشکور، حاجي سجاد الرحمن، پدغه ورځ د تجارت لپاره پر باډر باندې د (چمن باډر ترمینل) افتتاح ګورنر صاحب او مشرانو کول.

# ۱۳ څېرکی څوپاته خبری او ،ازاد لیکوال

دغه ټولنه ښاغلي شفیق العالم (معذوریار) صاحب او څو ملګرو جوړ کړه یو ه مشاعره یې د ((عیدملن پارټي)) په نامه جوړه کړه د کوچني اختر په څومه ورځ ۱۴ دسمبر ۲۰۰۲ م سره برابره . ځای: کتابتون، تلاوت: قاري محمد امین وکړی (ادیب نه ؤ)، د ټولني سکرټري عبدالرازق (حقیار) د کوچني اختر مبارکي وویل ملګرو ته، د پښتو ادبي ټولني چمن په استاذیتوب ((راقم)) رحمت الله (رحمت) د خپلو خیالاتو اظهار وکړی او نوې ټولني ته یې مبارکي وویل، وروسته په مشاعره کي دغه کسانو خپل کلام واوراوه (داخباري بیان په ترتیب)

((راقم)) رحمت الله (رحمت)، عادل سیدجان، صابر نعمت الله (پښتون یار)، نور احمد (فطرت)، حبیب الله (بلال)، محمد نبي (خادم)، عبدالرازق (حقیار)، سلطان محمد (قدردان)، غلام محمد (اعظم)، محمد نبي (امید)، ګل خان (حیرت)، شفیق العالم (معذوریار)، او حاجي ملا عبد الصمد (بیوس).

د یادي سوې ټولني د سوګند اخستو نیټه ۲۸ جون ۲۰۰۳م د خالي په ورځ مازدیګر ۴:۳۰ بجي، ځای: سلام بابا کتابتون، مشر میلمه یې د ضلعي (ولسوالی) ناظم صلاو الدین (اڅکزی) ؤ.

که څه هم زه پدغه مشاعره کي وم خو دلته یې د یاد سوې ټولني د اخباري بیان، اوله دعوت نامي څخه دغه معلومات لیکم، ((راقم)) یاد سوې ټولني یو بل سمینار پدغه نیټه ۳۱ اګست ۲۰۰۳ م کي هم وکړ د (معذوریار) صاحب پر کتاب سکاسه باندې.مشر میلمه یې د (پي، ایس، اف) مشر اصغر خان (اڅکزی) ؤ، او د مجلس صدر

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد الله (صحاف) ؤ، او د دریځ خواته پخوانی وزیر حاجي نصیر احمد (پاچاخان)، شفیق العالم (معذوریار) صاحب.((راقم)) رحمت الله (رحمت)، حاجي اختر محمد (میراني)، او ګل خان (حیرت) ناست وو، ځای د سلام بابا کتابتون.

وروسته بیا د دغه ټولني له غونډو زه نه یم خبر، او فکر کوم چي له څو کالو به یې نور فعالیت نه وي کړی او نه یې چا استاذیتوب کړی دی، ولې چي (معذوریار) صاحب په کوټه کي استوګن سو، او نور ملګري یې په نورو ټولنو کي فعالیت کوي..بله ټولنه (استقلال ادبي ټولنه) په چمن کي څو کاله وړاندې جوړه سوه تر جوړیدو مخکي یوه دوې غونډې زما په ټال(دتعمیراتي شیانو دخرڅه ولوځای) کي هم وکړلې، په مشرانو کي به یې د ملا عبدالباري (مدني) نوم یاد کړم خو داسي لویه مشاعره، سمینار، یا سوګند اخستلو مراسم یې تر سره نه کړل، او د څه وخت به تېرېدو سره یې فعالیت ودریدی.

بله ټولنه په چمن کي (ټکور ادبي بهیر) دي، دغه ټولني د خپلو مشاعرو بلنه به څو واره راکړې وي،خو یا به زه مسافر سوم، یا به زموږ د انجمن کومه مظاهره وه په دغه ورځ، غونډې اکثره په یوه سنټر (د انګریزي زده کړې ځای) کي کوي، کوم غټ سمینار خو یې لا تر اوسه نه دی کړي.

تیر کال یې یوه لویه مشاعره د مولوي عبدالغني صاحب د مدرسي پر دوهم منزل جوړه کړې وه ((راقم)) رحمت الله (رحمت) یې مشر میلمه او د مشاعرې صدر ملا عبدالباري (مدني) ؤ، خو اوس د هرې دوهمي جمعي په ورځ ماپښین په همدرد سنټر کي د کره کتني، او مشاعرو غونډې کوي چي پدې نیټه ۱۲ مارچ ۲۰۱۰م د دوی په بلنه مي دوهم ځل ګډون ورکي وکړی چي د نعمت پښتون پر غزل کره کتنه کیده، او په مشرانو کي به د مولوي حاجي محمد اواب، او مولوي عبدالرازق (راشد) نوم ونه یاد کړم.

باید یادونه وکړم چي پدغه ټولو ادبي ټولنو کي مشره او لومړی جوړه سوې(۲۷ستمبر۱۹۹۷) ټولنه (پښتو ادبي ټولنه چمن) ده د وخت په تېرېدو سره بیا دغه نورې ټولني جوړې سوې.

# ریډیوګانو سره رابطه

ډیر ریپورټونه او مرکې مي له دغو راډیوګانو څخه نشر سوې (بې، بې، سي) پښتو څانګه، امریکاږغ/اشنا راډیو، تهران پښتو څانګه، زاهدان پښتو، v.o.a اردو سرویس، جاپان اردو سرویس، جرمني پښتو څانګه... (بي، بي، سي) پښتو څانګه د ډاکټر نبي (مصداق) په ږغ خلاصه سوه، او نوموړی یې لس کاله مشر ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۹۲کې د (بي، بي، سي) پښتو کاروان چمن ته راغلی، ګوهر الرحمن (ګوهر) او صفيه (حليم) سره مې وليدل او د چمن په رپورټ کې زما خبرې لومړی نشر کړې، د چمن په کچاري کې دوی له خلکوسره مجلس وکړ، د پښتو ادبي ټولنې چمن د جوړېدو مرکه داؤد(جنبش) راڅخه واخستل، پدې نيټه ۲۲مۍ۱۹۹۷م ښاغلي استاذ سعدالدين (شپون) صاحب زموږ کور ته راغلی، نومورې دغه وخت د امريکا دږغ پښتو څانګې سره کار کاوه، او کله نا کله يې زما سره ټليفون هم کاوه.

د تهران ريډيو همکار ښاغلی اسدالله (حلالي) صاحب تقريبا ۱۹۹۸م زموږ ځای ته راغلی او له ريډيو څخه تحفې هم راته راوړې.چې اوس په بيلجلم کې اوسيږي،

۲۰۰۲م زما ديو ناول ((ناکامه مينه او زورور خلک)) په اړه مرکه د (بي، بي، سي) پښتو څانګې ادبي پروګرام پېلوزې لپاره ښاغلي مصطفی (ساليک) راسره وکړه.

د بي، بي، سي پښتو څانګې ته چې ما ځيني مرکې ورکړې دي يو څو يې دا دي:

کله چې د مار ملنګ محله ۲۲ ايکړه اباديء د نړيدو سره مخامخ وه د مولوي محمد حنيف صاحب مرکې برابريدل.

د حاجي فيض الله (نورزي) مرکه د کډوالو په اړه.

د عسکري بنک د منجر علي الرحمان صاحب مرکه چې دغه بنک په چمن کې لومړی بنک ؤ چې آن لاين سوهغه وخت.

زما او دحاجي حبيب خان (اڅکزي) مرکه،کله چې د حاجي بخت ،د برمې سره په يوه واقعه کې ځوکسه زخميان او حبيب الله (صاليزی) ووژل سو او په صبا يې د علاقايي اتحاد او انجمن تاجران لخوا په ښار کې کار بندي (هرتال) وه.

د کال ۲۰۰۹م کې يو ساعت د (ډيوې ريډيو) ميلمه وم چې کور به يې صداقت جان ؤ، دياد سوې ريډيو ځايي نماينده (استازی) نعمت الله (سرحدي) دی .... پدې نيټه ۲۰۱۰/فروری/۱۲م د شپې د ۱۱:۳۰ تر ۱۲:۳۰ بجو پورې د voa آشنا ريډيو ادبي ديرې ميلمه وم چې کوربنه وه محترمه نوشابا (آشنا) او غوښتنه وه د چمن د زلمي ليکوال احسان الله (شاکر).

پدې نيټه ۲۰۰۹/۳/۲۰م د روهي ادبي بهير د مشاعرې مشر ميلمه وم، او صدارت و استاذ مهدي (خليق) ته سپارل سوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې نیټه ۲۰۱۰/۲/۱۷م د سهلي پښتونخوا (بلوچستان) د ادبي ټولنو غونډه وه دغونډې صدارت ډاکټرنصیب الله سیماب ته وسپارل سو د بهیر پر نامه اختلاف وو، مونږ دا جرګګۍ وټاکل سو: (راقم) رحمت الله (رحمت)، ډاکتر رحمت الله (اڅکزی)، محمد طاهر (هوتک)، خلیل (منور)، او برکت شاه (کاکړ) ملګرو د جرګګۍ مشرتوب ماته راکړی، دې جرګګۍ ته دنامه دفیصلې اختیار ورکړه سو، د څه مجلس وروسته جرګګۍ فیصلې ته ورسیده غونډې ته محمدطاهر (هوتکي) اوخلیل (منور) وینا وکړه اوماته یې دنامه دعلانیدوبلنه راکړه ،دجرګګۍ متفقه نوم (شال پښتو ادبي بهیر) مې ورته واوراوه ، او ټولو ادبي حاضرو مشرانو او ملګرو یې تائید وکړ، ځای ؤ کویټه ریسټورنټ عبدالستار روډ کوټه، ،پدابله ورځ ۲۰۱۰/۲/۱۸ م د بهیرد څلورمې غونډې د مشاعرې صدر ډاکټر اورنګ زیب (احساس)، مشر میله یې ښاغلی محمد نعیم (افغان) او کوربه مشر یې (راقم) رحمت الله (رحمت) ؤ، ځای: ماډل سکول پرنس روډ کوټه. دبهیردجوړیدوپه سرلاروکې ښاغلی صادق (ژړک)عادل اڅکزی اونوریادولای سم، دکتاب تمام:3اپریل2010

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلیکوال نور اثار :

۱ـ د رحمت ډالۍ ــــــــــــــ دلنډو کیسو ټولګه
۲ـ ناکامه مینه اوزورور خلک ــــــــــــــ ناول
۳ـ محبت ولې ورک سو ؟ ــــــــــــــ ناول
۴ـ ایا محبت به خپل مطلب ته ورسېږي ؟ــــــ ناول
۵ـ اُمَید ــــــــــــــــــــــ همدا ناول

له دغو ځایو څخه ترلاسه کولای سی

۱ـ حقانیه کتب خانه ــــــــــــــ بوغره روډ چمن
۲ـ حافظ کتب خانه ـــــ مرغي بازار عیدګاچوک چمن
۳ـ راشد کتب خانه ــــــــ تاج میرخان روډ چمن
۴ـ صحاف کتب خانه ــــــــــ کاسي روډ کوټه
۵ـ باخترکتب خانه ـــــــــــ سټلایټ ټاون کوټه
۶ـ الهدی استیشنري ــــــــ سټلایټ ټاون کوټه
۷ـ افغان قرطاسیه ــــــ کیفتان مدد چوک کندهار
۸ـ دانش کتب خانه ــــــــــــــــ پیښور
۹ـ صداقت کتب خانه ــــــــ ارګ بازار کندهار
۱۰ـ رحمانیه کتب فروشي ــــــ کاسی روډ کوټه
۱۱ـ عمریه کتب خانه ــــــ هندو سوز چوک چمن
د لیکوال سره رابطه ټلیفون شمیري:
03138470725----------------03458873299

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر په برېښنايي کتابتون کي پر ليکه اثار




## • اسلام او مذهب :

- د روژې ډالی ـــــــــــ ډاکتر نثار احمد صمد
- روژه د رحمت، برکت او مغفرت میاشت ـــــــــــ مؤلف: مولوي سيد محبوب شاه ساجد
- د اصحابانو کيسې ـــــــــــ مولوي عبدالهادي حماد
- د مصطلح الحديث علم په سوال او ځواب کښې ـــــــــــ ليکونکی: شيخ مصطفى العدوی مترجم: محمد عمر بشار
- اړينه پوهه ـــــــــــ مولوي عبدالهادي حماد
- د برېښنايي کتابتون د اسلام او مذهب د برخي د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

## • ساینس او تخنیک :

- د ړنا کړکۍ (د کمپيوټر زده کړه) ـــــــــــ عبدالستار فيضي
- سرطان او د چاپېريال راډيو اکټيويټي ـــــــــــ ليکوال: پوهنوال ډاکترنظر محمد سلطانزی ځدران
- د مايکروسافټ آفس پښتو لارښود ـــــــــــ عبدالستار فيضي
- غواړئ ذهني ځيرکتيا مو تمرين کړئ؟ ـــــــــــ ژباړن: مختار احمد احسان
- د ساينس او تخنيک د برخي د نورو پر ليکه کتابونو لپاره دلته کليک وکړئ !

## • سپورټ او روغتیا :

- هغه پياوړي لاري چاري چي اند ښنه ستاسو له ژوند څخه محو کوي ـــــــــــ ژباړن: ډاکترمحمدرقيب (فاروقي وردګ)
- THE PREVALENCE OF HIV/AIDS IN AFGHANISTAN ـــــــــــ Dr.Hameed Shuja
- د کوچنيانو تنفسي سيستم ـــــــــــ ليکوال: پوهندوی دوکتور سيد حسام مل
- د لراوبر ويبپاڼي د برېښنايي کتابتون د سپورټ او روغتيا د برخي د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **هنر او ادبیات :**

- راځئ کیسه ولیکو ـــــــ نصیر احمد احمدي
- مناجاتونه ـــــــ نور احمد قرانمل
- د هیلو غوټۍ ـــــــ ویناواله: وحیده "آرینزۍ"
- د ابراهیم ادهم په پلونو (ناول) ـــــــ لیکوال: عبدالله الهام جمالزی
- منظومي کیسې پښتو لنډۍ او غاړې ـــــــ لیکوال: ځارنوال احمد منګل خان

- **د ماشومانو لپاره :**

- کوچنی شاهزاده (د ماشومانو لپاره) ـــــــ ډاکټر عبدالباري
- زما سوی (د ماشومانو لپاره) ـــــــ مختار احمد احسان
- فتېالر (د ماشومانو لپاره) ـــــــ مختار احمد احسان
- د برېښنايي کتابتون د هنر او ادبياتو د برخې د نورو پر ليکه آثارو لپاره دلته کليک وکړئ !

- **تاریخ او سیاست :**

- روز شمار واقع افغانستان ـــــــ تهیه او ترتیب: حمید علمي
- شیرشاه سوري د افغانانو تر منځ د یووالي هڅونکې ـــــــ ژباړن: استاد قریب الرحمن سعید
- د ډیورنډ ترون د حقوقو او سیاست په تـــله کښې ـــــــ لیکوال: ډاکتر رحمت ربی زیرکیار
- د تاریخ او سیاست د برخې د نورو آثارو لپاره دلته کلیک وکړئ !

- **بېلابېل آثار :**

- خوندور خواړه ـــــــ عبدالستار فيضي
- د نړۍ اووه عجايبې ـــــــ ژباړن: مختار احمد احسان
- د بېلابېل آثارنو مې برخې د نورو پر ليکه کتابونو د لوست لپاره دلته کليک وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**